د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## یوولسم ټولګی

(د دیني مدارسو لپاره)




۱۳۹۸
هـ . ش

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل یې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# ټولنیز لوستونه

## یوولسم ټولګی

(د دیني مدرسو لپاره)

۱۳۹۸
هـ. ش.

## مؤلفين

- د سرمؤلف مرستیال قدیم شیرزی بابکرخیل
- سرمؤلف شیرمحمد رونقی
- پوهنمل زلمی هوتک
- سرمؤلف محمدرفیق مومند
- سرمؤلف نجیب الله امین افغان
- د سرمؤلف مرستیال غلام سرور گلابزی صافی
- پوهنیار محمد فاروق عمرخیل
- د سرمؤلف مرستیال محمد انور مشفق
- سرمؤلف میر عبیدالله فاضل

**مسلکي ایډیټ:**

- سرمؤلف عبدالغیاث غوری
- پوهاند غلام جیلانی عارض
- سرمؤلف محمد افضل حضرتی

**د ژبې ایډیټ:**

- سرمؤلف امین الله نژند
- مؤلف اقا محمد گړندی
- مؤلف محمد قدوس ذکوخیل

**دیني، سیاسي او کلتوري کمېټه:**

- دکتور عبدالصبور فخري
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

**إشراف**

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحیم

# د پوهنې د وزیر پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد و علی آله و أصحابه أجمعین، أما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هیواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بیا کتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ ځکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هغو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلانده تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د شومره والي او څرنګوالي له مخې زیات بدلون موندلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متنونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله توفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

**قدرمنو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!**

د ديني مدارسو د اجتماعياتو درسي کتاب د افغاني ټولنې د اړتياوو، د معارف د محترم وزارت د پاليسي د نصاب د ليکنې فن او معاصرو معيارونو او درسي مفرداتو د افقي او عمودي تسلسل په پام کې نيولو سره ليکل شوي دي.

د ديني مدارسو د اجتماعياتو په مضمون کې پر تاريخي مطالبو سربېره د جغرافيې او مدني معلوماتو مفاهيم شتون لري. د تاريخ په برخه کې هڅه شوې چې د ديني مدرسو زده کوونکي د زده کړې په وخت د افغانستان او نړۍ له لرغوني تاريخ، منځنيو پيړيو، نوې پيړۍ او معاصرو پېښو سره پېژندګلوي او معلومات تر لاسه کړي او هم پدې پوه شي چې انسانانو په ټوله نړۍ په ځانګړې توګه په افغانستان کې کوم تاريخي پړاوونه تېر کړي دي او په راتلونکې کې ښايي څرنګه چلن وکړي.

د جغرافيې په برخه کې د علمي اړتياوو په پام کې نيولو سره علمي مطالب داسې توضيح شوي چې زده کوونکي د موقعيتونو، طول البلد، عرض البلد، غرونو، سيندونو، جهيلونو، بحرونو، کرنې، څارويو، معادنو، ځمکنې، بحري او فضايي ترانسپورت، اوبو او هوا، نژاد، ژبو، مذهب، لويو وچو او هېوادونو په اړه معلومات تر لاسه کړي چې د ژوند په سمون کې له هغه څخه ګټه پورته کړي.

د مدني معلوماتو په برخه کې د بشري ټولنو، ارزښتونو، مقرراتو او قوانينو، اعتقاداتو، اقتصاد، سازمانونو، ټولنو، جوړښتونو او د مادي او معنوي اړتياوو په اړه لازمي او اړين مطالب توضيح شوي چې زده کوونکي په ورځنيز ژوند کې ورڅخه ګټه پورته کولای شي.

د اجتماعياتو د مضمون د يوې بشپړې دورې (له اووم څخه تر دوولسم ټولګي پورې) له زدکړې وروسته تمه کېږي چې د ديني مدرسو زده کوونکي د ټولنيزو علومو په مباديو او اساساتو پوه شي، د دې علم له مهمو اصطلاحاتو سره آشنايي تر لاسه کړي. د هيواد او نړۍ د ورځنيو پېښو په خبرونو وپوهيږي، سياسي اقتصادي او ټولنيزې پيښې تجزيه او تحليل کړای شي او پايله ورڅخه واخيستلای شي او په دې توګه په ټولنه کې فعال غړي شي او د ديني او اجتماعي علومو په يو ځای کولو سره د خدای(ج) د دين ريښتيني او اغيزمن مبلغين ورڅخه جوړ شي.

هيله کېږي چې د دغه مضمون محتويات د ديني مدرسو د استادانو لپاره په زړه پورې او زده کوونکو ته يې د ټولنيزو معلوماتو يوه ګټوره منبع وګرځي.

و الله ولي التوفيق

**سرلیک** **مخ**

## د تاریخ برخه

لومړی څپرکی ........................................ ۱
د پاکستان اسلامي جمهوریت ........................................ ۳
د بنگله دیش جلاوالی ........................................ ۷
د ایران اسلامي جمهوریت ........................................ ۹
د چین د خلکو جمهوریت ........................................ ۱۳
تاجکستان ........................................ ۱۷
ازبکستان ........................................ ۲۱
ترکمنستان ........................................ ۲۵
دویم څپرکی ........................................ ۲۹
لومړۍ نړیواله جگړه او د هغې لاملونه ........................................ ۳۱
دویمه نړیواله جگړه ........................................ ۳۷
پرهند او چین باندې د جاپان یرغل ........................................ ۴۱
د ملگرو ملتو د سازمان جوړیدل ........................................ ۴۵
د شوروي اتحاد له منځه تلل ........................................ ۴۷

## د جغرافيې برخه

لومړی څپرکی ........................................ ۵۱
د کرنې ارزښت او ډولونه ........................................ ۵۱
مهم کرنیز تولیدات ........................................ ۵۵
مالداري او د وحشي ځارویو ډولونه ........................................ ۵۸
سوداگری او صنایع ........................................ ۶۲
سوداگری او اهمیت یې ........................................ ۶۲
کورنۍ او بهرنۍ سوداگري ........................................ ۶۴
صنایع، د صنایعو ډولونه او ارزښت ........................................ ۶۷
صنعتی تولیدات ........................................ ۶۹
بانکونه او د هغو کړنلاره ........................................ ۷۳
توریزم ........................................ ۷۶

دریم څپرکی: ........................................................ ۸۰
انرژي او کانونه ........................................................ ۸۰
د انرژۍ او د هغې د سرچینو ارزښت نوې کېدونکې او نه نوې کېدونکې انر ........................ ۸۲
برېښنا (حرارتي او آبي)........................................................ ۸۴
د اوبو برېښنا ........................................................ ۸۷
حرارتي برېښنا ........................................................ ۹۱
د ډبرو سکاره ........................................................ ۹۳
نفت او ګاز........................................................ ۹۸
فلزات ........................................................ ۱۰۰

## د مدني زده کړو برخه

لومړی څپرکی ........................................................ ۱۰۴
مورږ ولې اقتصاد ته اړتیا لرو؟........................................................ ۱۰۶
تولید (د پانګې لاس ته راوړل........................................................ ۱۰۸
د پانګې تبادله........................................................ ۱۱۰
استهلاک ( د پانګې لګښت) ........................................................ ۱۱۲
د تولید لاملونه ........................................................ ۱۱۴
ځمکه یا طبیعي سرچینې........................................................ ۱۱۶
کار یا انساني کوښښ ........................................................ ۱۱۸
پانګه (سرمایه) ........................................................ ۱۲۰
دویم څپرکی ........................................................ ۱۲۲
د ټولنپېژندنې تعریف........................................................ ۱۲۴
د ټولنپیژندنې وېش ........................................................ ۱۲۶
ټولنپېژندنه د موخې له مخې ........................................................ ۱۲۸
ټولنه او ولس ........................................................ ۱۳۰
د روانشناسی تعریف ........................................................ ۱۳۲
د روان شناسۍ لنډه تاریخچه ........................................................ ۱۳۴
د روان شناسۍ موضوع ........................................................ ۱۳۶
د روان شناسۍ ګټې ........................................................ ۱۳۸

# د تاریخ برخه

## لومړی څپرکی

د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو معاصر تاریخ

## د لومړي څپرکي موخې

۱- د پاکستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

۲- د ایران د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

۳- د چین د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

٤- د تاجکستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

٥- د ازبکستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

٦- د ترکمنستان د معاصر تاریخ او پېښو سره پېژندګلوي.

۷- د نقشو او اطلسونو څخه د ګټه پورته کولو مهارت.

# د پاکستان اسلامي جمهوریت




په دې لوست کې تاسې ته د هند د نیمې وچې د خپلواکۍ، له هند څخه د پاکستان د بېلتون په هکله معلومات وړاندې کېږي. د پاکستان د تاریخ د هغه له رامینځ ته کېدو څخه وړاندې د هند د نیمې وچې او یا د افغانستان په تاریخ کې څېړلی شو.

اسلام د اوومې میلادي پېړۍ په لومړیو کې د هند نیمې وچې ته ورسېد. پوځیان او مسلمان مهاجرین چې له عربو څخه راغلي وو، د سند د سیند او پنجاب په سیمه کې چې د پاکستان د ځمکې لویه برخه جوړوي، میشت شول. څو پېړۍ مخکې د هند په نیمه لویه وچه کې مسلمانان د دوه لویو ټولنو په توګه د هند په ختیځ او لوېدیځ ځنډو کې رامنځ ته شول د هند د بومی وګړو لیوالتیا د اسلام د مقدس دین سره د مسلمانانو په شمیر کې زیاتوالی راوست.

د بریتانیا د واکمنی پر وخت د هند د نیمې وچې په ډېرو برخو کې د مسلمانانو شمېر زیات وو، سره له دې هم هندوانو په هغو ځایونو کې چې د مسلمانانو شمېر په کې ډېر هم و، په دولتي چارو کې پر هغوی غلبه درلوده. ځکه نو مسلمانانو ددې لپاره چې ښه ژوند ولري، او داسي هیواد چې دویې خپل وګني، په هغه کې خپل مشران ټاکلي و شي او خپل اسلامي کلتور ته وده ورکړي مینه درلوده.

د هند د نیمې لویې وچې او پاکستان له مهمو تاریخي پېښو څخه یوه هم د مسلمانانو راتګ و، له آشوکا وروسته سیاسي یووالی تر ډېره وخته پاتې نه شو. او په منځنیو پېړیو کې د کوچنیو پاچاهانو په

لاس سره وېشلي و.

کله چې د بودا دين مخ پر زوال شو، د هند سيال پاچاهان يو له بل سره په جګړې اخته شول. او دې کار مسلمانانو ته چې د اسلام د بيرغ ورونکي وو، مناسب فرصت په لاس ورکړ.


محمد علی جناح

د هند نيمه لويه وچه د مغلو پر وخت د مسلمانانو تر واکمنۍ لاندې متحده شوه، خو ډېرو هندو شاهانو د مسلمانانو د واکمنۍ پر وړاندې مخالفت وکړ او د هغوی پر وړاندې يې مبارزه پيل کړه. د غزنويانو، غوريانو اسلامي سلسلو د هند پر نيمې لويې وچې واکمنۍ وکړه او د سختو مخالفتونو سره سره دغه نوې اسلامي ټولنې د هندوانو د پخوانۍ ټولنې ترڅنګ کرار کرار ساه اخيسته. د نوموړې ټولنې پادشاهانو به خپل پوځيان هڅول چې له هندو ښځو سره ودونه وکړي. د هندوانو د ټيټې طبقې ډېر کسان د اسلام د جاذبې او نياو له امله مسلمانان شول.

په ۱۸۸۵م کال کې هندوانو ددې لپاره چې د يوه بومي پارلمان د جوړولو بنسټ کېږدي، د هند ملي کنګره يې جوړه کړه. يو شمېر مسلمانان له کنګرې سره يو ځای شول، خو لږ وروسته څرګنده شوه، چې مسلمانان په کې لږ دي او ښايي ګټې يې په پام کې ونه نيول شي. په ۱۹۰۶ زيږديز کال کې مسلمانان له کنګرې څخه جلا شول او خلکو ته يې ددې بلنه ورکړه چې په جلا ټولټاکنو کې مسلمانان خپل استازي وټاکي. په همدې ترڅ کې يې د هند د ټولو مسلمانانو انجمن (مسلم ليګ) د هندوانو د کنګرې د رقيب په توګه تاسيس کړ. د ۱۹۴۵ز کال تر ټولټاکنو وروسته د مسلمانانو د يوه ملي دولت غوښتنه لاپياوړې شوه، که چېرته تجزيه منځ ته راغلې نه وای، جګړه پيلېده، خو په پايله کې دا دواړه پېښې شول.

په ۱۹۳۸ز کال کې جناح د مسلم ليګ د پياوړتيا لپاره د (دوو ملتونو) نظريه وړاندې کړه او د يوه جلا اسلامي هېواد د جوړولو غوښتنه يې وکړه، چې په ۱۹۴۰ز کا ل کې مسلم ليګ د يوه پرېکړه ليک په ترڅ کې د پاکستان د جوړولو غوښتونکی شو.

په ۱۹۴۶م کې کنګرې او هم مسلم ليګ د بريتانيې د فدرالي حکومت د جوړولو طرح رد کړه او

کنگره هم د ۱۹٤۷ زکال پورې د تجزیې منلو ته تیاره شوې وه او یوازې د سرحدونو ټاکل پاتې وو.
د ۱۹٤۷زکال د آګست په ۱٤ مه پاکستان جوړ شو. تر ټولو لوی د اسلامي او ملي وحدت آزموینه هغه وخت را ورسېده، چې کله بریتانیا دا ومنله، چې د هند نیمه لویه وچه دې د هند او پاکستان په هېوادونو تجزیه کړي، یوازې هغو سیمو ته چې ډېر مسلمانان په کې اوسېدل دا اجازه ورکړل شوه چې له پاکستان سره دې یو ځای شي، خو بیا هم د کشمیر د ډېره میشتې مسلماني سیمې پر سر خبرې او لانجې روانې وې.
د هند د نیمې لوې وچې تر تجزیې وروسته هندوان هند ته وتښتېدل او مسلمانانو هندي سیمې پرېښودې ، په لکونو انسانان په فرقه ییزو نښتو کې ووژل شول. لږ وخت وروسته دواړه ملتونه د کشمیر پر سر په جګړه اخته شول، هند کشمیر په دې بانه چې حاکم یې هندو دی، نیولی و، خو د مسلمانانو په دې دلیل، چې ډېری اوسېدونکې یې مسلمانان دي، باید کشمیر د پاکستان یوه برخه وي. د پاکستان اصلي ستونزه د ملي هویت جوړونه د سیاسي پولو ټاکل د واقعیت پربنسټ او باثباته او د منلو وړ رژیم د خلکو لپاره د توکمي، ژبني، عقیدتي او مذهبي توپیر په لرو سره ؤ.



خان عبدالغفار افغانستان ته په سفر کې

د یوه مستقل هېواد په توګه د پاکستان په منځ ته راتګ کې ځینو رهبرانو لکه فیلسوف او شاعر اقبال لاهوري، حقوقپوه محمد علي جناح ستر رول لوبولی دی. خان عبدالغفار خان د پشتونخوا د سترو او ملي څیرو څخه دي چې د انګلیس د استعمار او استبداد په وړاندې پاڅون وکړ او د خپل ژوند ډیري شیبې یې په دې لاره کې تیري کړي دي.
کله چې مهتماګاندي په ۱۹۳۸زکال کې د پښتونخوا څخه لیدنه کوله، نو له نږدې څخه یې پاچاخان، د هغه مبارزې، او د خلکو اخلاص ولید نو هغه ته یې داسي وویل: »زما دعا داده، چې پښتانه نه یوازې دا چې هندوستان خپلواک کړي، بلکې د همدې خپلواکۍ په برکت ټولې نړۍ ته د نه تاوتریخوالي اصول وروپیژني«.
د پاکستان تر خپلواکۍ وروسته د اسلام د رول پر سر یو شمیر قانوني مصالحې وشي. د ۱۹٥٦ز

کال اساسي قانون پاکستان یو اسلامي هېواد اعلان کړ او هم یې پارلماني قوانین د اسلامي تحقیقاتو د انستیتیوت (Islamic Research Institute) د بیا کتنې تابع کړل. په ۱۹۵۸ز کال کې دا قانون منسوخ شو او د پاکستان جمهوري د اعلان سره هغه وشوه، د اسلامي رهبرۍ څواکمنتیا محاره کړې د هغو په پایله کې په ۱۹۶۳ز کال کې بیا د ۱۹۵۶ ز کال اسلامي شرایط څه نا څه اعاده شول.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، لومړۍ ډله دې د هند د نیمې وچې پر خپلواکۍ کې د هغو ملي څېرو او شخصیتونو د ونډې درلودو په اړه او دویمه ډله دې د پاکستان د تیر تاریخ په اړوند له یو بل څخه پوښتنې وکړي.

## پوښتنې

۱- مسلمانان کوم وخت د هند په نیمه وچه کې استوګن شول؟
۲- د مسلم لیګ ګوند په کوم کال کې جوړ شو؟
۳- پاکستان په کوم کال کې منځ ته راغی؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د مشرانو، فرهنګي شخصیتونو او منابعو په مرسته د نه تاوتریخوالي د نهضت په اړه معلومات تر لاسه او بیا دې په ټولګي کې ووایي.

# د بنگله دیش جلاوالی

په دې لوست کې به په لنډه توگه پوه شئ چې پاکستان څرنگه په دوو جلا (پاکستان او بنگله دیش) هیوادونو وویشل شو.

پاکستان ددې فکر پر بنسټ جوړ شو، چې د هند مسلمانان داسې يو ملت جوړ کړي، چې د هيواد په لرلو سره ځانگړې سيمې او قلمرو ولري. پاکستان د سند، بلوچيستان پنجاب او د پښتونخوا له ايالاتونو څخه ملت نه جوړاوه او د دوی ترمنځ ژور قومي او ژبني توپيرونه موجود وو. د پاکستان بنسټ اېښودونکو ددې نوي هېواد لپاره د لويديځ او ختيځ پاکستان د وحدت لپاره د اسلام دين اصلي عامل گاڼه. ژبنيو توپيرونو، ټولنيزو ځانگړتياو، فرهنگي ميراث او اقتصادي شرايطو مسئلې رامنځ ته کړې. ددغه هېواد دوو لويو ډلو تر اتلس کلونو پورې هڅه وکړه، چې يو ځای ژوند سره وکړي او گډ اتحاد رامنځ ته کړي. خو همدې موخې ته ونه رسېدل.

د لويديځ او ختيځ پاکستان فرقه ييزه اختلافات او سيالۍ د دولت د کمزوروالو اصلي سرچينه وه، چې د ژبنيو اختلاف ، په ځانگړې توگه په لويديځ کې او په ختيځ کې لږه صنعتي پرمختيا هغه څه وو، چې د اختلافاتو لړۍ يې راخپرې کړې. په ختيځ پاکستان کې يو بل سياسي سيال را پيدا شو. د ۱۹۶۸ز کال په دوبي کې مجيب الرحمن د عوامي ليگ (خلکځ گوند) مشر د ۳۵ بنگاليانو په گډون له پاکستان څخه د جلاوالي مسؤول وگڼل شو. دغه اختلاف دې ته ورسېد چې په ۱۹۷۱ز کال کې د ختيځ او لوېديځ پاکستان ترمنځ کورنۍ جگړه پيل شوه.

تر يوه خونړۍ جگړې وروسته، ختيځې برخې له مرکزي دولت سره خپلې اړيکې پرې کړې او د بنگله ديش په نامه يو جلا هېواد رامنځ ته شو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې پر ډلو وویشل شي او هره ډله دې د پاکستان د ویش پر لاملونو په خپل منځ کې مباحثه او هغه دې فهرست کړي.

## پوښتنې

۱- د پاکستان لویدیځ او ختیځ اړخ یو له بل څخه څه توپیر درلود؟ په اړه یې معلومات ورکړئ.
۲- د ختیځ او لویدیځ پاکستان جګړه څه وخت پیل او څه پایلې درلودې؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې له منابعو څخه په ګټې اخیستنې په دوو برخو د پاکستان د ویش (ختیځ او لویدیځ) په اړه معلومات راټول او په ټولګي کې دې وړاندې کړي.

# د ایران اسلامي جمهوریت




په دې لوست کې به د پهلوي دورې د قدرت، مهمو پېښو او د اسلامي انقلاب د لاملونو په هکله معلومات وړاندې شي.

اقتصادی، سیاسي، فرهنګي او ټولنیز حالات د قاجاري دورې په پایله کې مخ په ورانی وو چې د یو لړ تحولاتو او بدلونونو لپاره په ایران کې لاره پرانیستله په ایران کې د وروستنیو کلونو پېښې له دوو خواوو، کورني او بهرني حالاتو څخه متاثره وې. په بهرنۍ برخه کې باید وویل شي چې استعماري هېوادونو لکه د روس او انګلیس اغېزه او په قاجاریه دوره کې د ایران د اقتصادي توان په کمزورۍ کې مهم رول درلود. له اروپایي هېوادونو سره د ایران اقتصادي اړیکې له صفوي دورې پیل شوې وې او نسبي انډول یې درلود، خو د قاجاریانو د دورې په وروستیو وختونو کې دغه انډول د اروپایي هېوادونو په ګټه او د ایران په زیان تمام شو. د ایران داخلي محصولاتو له بهرنیو تولیداتو سره سیالي نه شوه کولای، نو ځکه داخلي تولیدات مخ په کښته روان شول او ځای یې بهرنیو تولیداتو ونیو. د ایران په مختلفو ښارونو کې د صنایعو او کسبونو خاوندانو په کرار کرار خپلې دندې له لاسه ورکړې، اوزګار شول او هوساینې خپل ځای بېکارۍ، او بېوزلۍ ته پرېښود.

عدالت غوښتونکو استبدادي ضد جنبشونو په ایران کې او ورسره د اسلامی تعلیماتو یو برخې د خپلواکۍ تر لاسه کولو او د عدالت د راستولو لپاره اغېزمن نقش ولوباوه، چې د مطلقې واکمنۍ، استبداد، ظلم او ناروا او د ځان غوښتونکو واکمنانو پر ضد خلک یې مبارزې ته رابلل، چې کولای شو دغه اغېزې په قاجاریه دوره کې د مشروطیت په نهضت کې ووینو. نړیوالو پېښو او واقعاتو هم پر

سیاسي او ټولنیزو بدلونو اغېزې وکړې، د لومړۍ نړېوالې جګړې څخه یو کال مخکې احمد شاه قاجار چې ځوان شوي و، ناصر الملك یې د سلطنت له مرستیالۍ لیرې کړ او د ملي شورا د مجلس جوړوني لپاره یې د ټاکونو امر صادر کړ، خو یو کال وروسته د لومړۍ نړېوالې جګړې په پیل سره د پردېو د تېریو د ډېرېدو له امله مجلس وځنډېد. ایران له ناپییلتوب سره سره، د پردیو له تیري او د جګړې د ناوړه پایلو سره مخامخ شو.

## الف: پهلوي دوره

تر لومړۍ نړېوالې جګړې وروسته په ایران کې سیاسي، اقتصادي او اداري ګډوډۍ، په روسیه کې د سوسیالیستي نظام راتګ او ګاونډیو هېوادونو ته یې د خپراوي شتون، او په ایران کې د حاکمه وضعي څخه د بیلابیلو پاڅونو رامنځ ته کېدل او د ملت سرتاسري ناخوښي، د هېواد په شاو خوا کې، د سوداګریز لارو بندیزونه او له احمد شاه قاجار څخه د ملي او هېواد پالو محافلو ناهیلي او نا خوښي هغه څه وو، چې د کب د میاشتې د دریمې نېټې د کودتاه لپاره یې لاره برابره کړه، د کودتا مشر رضا خان وو.


رضاشاه

نوموړي د تهران له نیولو وروسته هغه د سید ضیاالدین طباطباني په مشرۍ مستقله کابینه جوړه کړه او لږ وروسته رضاخان د دفاع وزیر شو. ضیاالدین له ایران څخه تبعید شو او وروسته د قوام السلطنه په کابینه کې د دفاع د وزارت چارې او د ایران د پوځي قواوو مشري هم د رضاخان په لاس کې پاتې شوه. په داسې وضعیت کې په سیاسي مجلسونو، غونډو او مطبوعاتو کې د احمدشاه قاجار پرضد د مخالفت خبرې پیل شوې.

د رضاشاه د قدرت ورځ خدمتونه، پوځي ځواکمنتیا، ښه سیاست او قاطع تدبیر ددې لامل شو چې قاجاري سلطنت راو پرزوي. رضاخان د شاه په غیاب کې چې په اروپا کې اوسېده، خپله ځواکمني ورځ په ورځ ټینګوله او همدارنګه یې دا هڅه کوله چې په پراخو تبلیغاتو سره دا وښیي چې احمد شاه د هېواد د برخلیك په اړه کومه پروا نه لري.

په پایله کې د ملي شورا مجلس د ۱۳۰٤ لمریز کال د عقرب په میاشت کې د قاجاري سلطنت ړنګېدل او موقت حکومت یې د پوځ د مشر رضا شاه تر مشرۍ لاندې اعلان کړ. د ملي شورا د غوښتنې سره سم د هماغه کال د لیندۍ په میاشت کې د مؤسیسان مجلس جوړ کړ او نوموړي مجلس سلطنت رضاشاه پهلوي ته تفویض کړ او د قانون هغه مواد چې سلطنت یې د قاجاریه کورنۍ مختص ګاڼه لغو او پرنوی موادو کې سلطنت د پهلوي کورنۍ ته ځانګړې کړ.

دویمه نړېواله جګړه چې له ۱۹۳۹ – ۱۹٤٥ ز کال پورې یې دوام وکړ، د ۱۳۲۰ لمریز کال د سمبلې میاشتې په ۲۵ مه د شوروي اتحاد او انګلسي قواو له څو لوریو په ایران یرغل وکړ.

رضا خان په همدې میاشت کې سلطنت پرېښود او د هېواد چارې یې خپل مشر زوي او دسلطنت ولیعهد ته وسپارلې او پخپله جنوبي افریقې ته لاړ. نوموړي له هېواد څخه بهر له دوه کاله او لس میاشتو او نهه ورځو وروسته د زړه د درېدو له امله وفات شو.

رضا خان د خپل سلطنت د واکمنۍ پر وخت لاندې مهمې چارې سرته ورسولې:

د منظم پوځ جوړول، د محاکمو د جوړښت نوي کول، د مدني او جزایي قوانینو د مجموعې تدوین، د وګړو د شمیرنې د اداري جوړول، د پېژندنې کارتونه یا تذکرې، د املاکو د اداري رامنځ ته کول ، د سرتاسرې ریل ګاډي پټلۍ جوړول، د ملي بانک جوړول، د روپو چاپول، دګمرکي تعرفو وضع کول، د ښارونو جوړول، د فرهنګ پراخول، د شرکتونو رامنځ ته کول، د پوهنتون جوړول، د ټولنیزو اصلاحاتو رامنځ ته کول، او ولایتونو ته د هغو تعمیمول.

## محمد رضا شاه پهلوي


محمد رضا شاه پهلوی

محمد رضا شاه پهلوي د رضا شاه پهلوي زوی او د پهلوي کورنۍ دویم پاچا و. هغه د ۱۲۹۸لمریز کال د عقرب په میاشت کې په تهران کې زېږېدلی، لومړنۍ زده کړې یې په پوځي ښوونځي کې او لوړې زده کړې په سویس کې بشپړې کړې. د ۱۳۲۰لمریز کا ل د وږي (سنبلې) په میاشت کې په ایران باندې د پخوانۍ شوروي اتحاد او انګلیسانو د حملې له امله رضا شاه سلطنت پرېښود او محمد رضا شاه چې د سلطنت ولیعهد و، د سلطنت واک یې تر لاسه کړ. د وږي په ۲۵ مه یې د شورا په مجلس کې د وفادارۍ لوړه وکړه. په دې توګه په داسې تورو ورځو کې چې له یوې خوا نړېوالې جګړې نړۍ نیولې وه او له بله لورې د ایران هېواد د روس او انګلیس تر اشغال لاندې و، سلطنت ته ورسېد. د محمد رضا شاه د سلطنت د لومړنیو کلونو ورځې ډېرې بدې وې، ځکه چې د هېواد خپلواکي له ګواښ سره مخامخ وه او هم یې د ځینو برخو د تجزیې لپاره دسیسې جوړېدلې، د تهران د کنفرانس د اعلامیې په خپرولو سره چې د انګلیس، روس او امریکا مشرانو په کې ګډون درلود، تر یو حده دا پلان له منځه لاړ، چې له امله یې تر دویمې نړېوالې جګړې وروسته اشغالي قواو ایران پرېښود. د محمد رضاشاه د سلطنت له مهمو کارونو څخه یو هم د ایران د نفتو ملي کول دي، چې د ډاکټر محمد مصدق په مشرۍ تر سره شو.

د محمد رضا شاه د حکمرانۍ د دورې له مهمو کارونو څخه دا دي چې ایران یې د ملګرو ملتونو د ټولنې سره یو ځای کړ، د تهران د تاریخي کنفرانس جوړول چې له امله یې د ایران ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکي تر لاسه شوه، د بغداد په نظامي تړون (سنتو) کې د ایران داخلېدل، د لومړي ځل لپاره د تلویزیون د دستګاه رامنځ ته کول، د مرکزي بانک جوړول ، د نالوستۍ پر وړاندې مبارزه، د سنا او شورا په مجلسونو کې د ښځو د انتخاب حق، د لویو سړکونو جوړول، د سیاسي ګوندونو رامنځ ته کول، د

موټر جوړولو کارخانې، داروګاډو نوې پټلۍ، د ایران او روس تر منځ د ګاز د نل لیکي غزول، د نړۍ له هېوادونو سره د سیاسي اړیکو ټینګول، د نفتي فابریکو جوړول، له عراق سره د اوبو د سرحدونو ټاکل، د فرانسې او آلمان په مرسته د هستوي انرژۍ د مرکز جوړول هغه څه دي چې یادولی یې شو.

## ب- د ایران اسلامي انقلاب

محمد رضا شاه د ۱۳۵۷ لمریز کال د مرغومي په میاشت کې د ایران د اسلامي انقلاب او پاڅون له امله د خپلې کورنۍ له ټولو غړو سره مصر ته ولاړ او تر ۱۸ میاشتو سرګردانۍ وروسته په ۱۳۵۹ کال کې د سرطان د ناروغۍ له امله په مصر کې مړ او همالته خاورو ته وسپارل شو.



آیت الله سید روح الله خمینی

د ایران اوضاع له ۱۳۵٦ لمریز کاله را وروسته له ډېرو چټکو بدلونونو سره مخ شوه او هغه نهضت چې امام خمیني له ۱۳٤۱ لمریز کال څخه پیل کړی و، پراخې کچې ته ورسېد او په انقلاب واوښت، چې په پایله کې د ۱۳۵۷ لمریز کا ل د سلواغې د میاشتې په ۲۲ مه نېټه بریالیتوب ته ورسېد. مصر ته د شاه له تښتې وروسته هغه نظام چې ۳۷ کاله پر هېواد حاکم و، له منځه ولاړ.

په پای کې د سلواغې د میاشتې په دولسمه امام خمیني ایران ته راوګرځېد او خلکو یې تود هرکلی وکړ. نوی دولت په ۱۳۵۷/۱۱/۱۵ نېټه د امام خمیني په حکم د مهندس بازرګان په صدارت رسمیت پیدا کړ، بازرګان ته دنده ورکړل شوه چې سربېره د هېواد پر اداره کولو ددې لپاره چې سیاسي نظام په اسلامي جمهوریت بدل شي، ټول پوښتنې وکړي او په دې توګه د ایران د تاریخ نوی څپرکی پیل شو.

### په ټولګي کې دننه فعالیتونه:

زده کوونکي دې په ټولګي کې پر دوو ډلو وویشل شي، لومړنۍ ډله دې د قاجاري حکومت د سقوط د لاملونو او دویمه ډله دې د پهلوي کورنۍ په برخه کې یو له بل څخه پوښتنې وکړي.

### پوښتنې

۱- د احمدشاه قاجار د سلطنت د ړنګېدو لاملونه په ګوته کړئ.
۲- د تهران کنفرانس په کوم کال او چیرې جوړ شو؟
۳- د رضاشاه د سلطنت مهمې پېښې په ګوته کړئ.
٤- د ایران اسلامي انقلاب په کوم کال او د چا تر مشرۍ لاندې بریالی شو؟

### له ټولګي څخه د باندې فعالیتونه:

زده کوونکي دې د ښوونکو او منابعو په مرسته د دویمې نړیوالې جګړې د لاملونو او پر ایران باندې د هغه د اغېزو په اړه معلومات تر لاسه کړي.

# د چین د خلکو جمهوریت




په دې لوست کې د چین د تاریخي سوابقو او همدارنګه د ۱۹۴۹زیږدیز کال د پېښو په هکله معلومات وړاندې شي.

له دې کبله چې چین د درېو لویو وچو اروپا ، آسیا او افریقا د تقاطع په محل کې موقعیت لري، نو په سیمه کې نړیوال او د لویو قدرتونو په منځ کې له استراتېژیک اهمیت څخه برخمند دی. چین په شمالي نیمه کره، د آسیا په ختیځه برخه او د آرام سمندر په لوېدیځ ساحل کې پروت دی، چې د ۹,٦ میلیونه کیلومتره مربع مساحت په لرلو د نړۍ دریم لوی هېواد دی.

د چین د خلکو د جمهوریت پلازمېنه د پیکن(بې جېنګ) ښار دی، چې له ډېرو پخوانیو مرکزونو څخه ګڼل کېږي او تاریخي سابقه یې ۳۰۰۰ کاله مخکې ته رسېږي. یاد شوی ښار ۱۰۰۰ کاله مخکې جوړ شوی او اوه پېړۍ پخوا قوبلای خان بېجېنګ خپل دایمي پایتخت وټاکه او تر اوسه پرته له ۱۹۲۸-۱۹٤۹ز کلونو ګومین تانګ چې پایتخت یې نن جینګ ته انتقا ل کړ، بېجېنګ د چین پلازمېنه ده.

د چین ډېرې اوسېدونکي د خان (هان) له نژاده څخه دي، چې د مختلفو پېړیو را په دېخوا په همدې ځای کې د ۲۰٦ ق- ز – ۳۲۰ز کلونو تر منځ اوسیدلي دي، چې د امپراتور هان له نوم څخه اقتباس شوي دي. د بني امیه د حکومت پر وخت د منځني ختیځ او له سند څخه د مدیترانې تر سهیل او د افریقې تر شماله پورې سیمې د اسلام تر واحد بیرغ لاندې راغلې، خو څرنګه چې هغه وخت د اسلامي نړۍ په ځینو ځایونو کې کورنۍ جګړې رامنځ ته شوې، نو له چین سره د اړیکو د پراختیا په برخه کې پر مختګ ونشو.

د عباسي امیرانو پر وخت، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د خلافت مرکز له دمشق څخه بغداد ته یو ورل شو، د اتمې زیږدیزې پېړۍ په نیمایي کې، د تزیني شیانو د غوښتنې له کبله ددې اړتیا پیدا شوه چې د سیمې د هېوادونو په سوداګرۍ کې په ځانګړې توګه له چین سره د مرکزي آسیا د هېوادونو د ځمکې له لارې نوی والی راشي. خو د فارس خلیج، د عربستان له جنوب ، د افریقا له ختیځ، هند، د آسیا له جنوب ختیځ تر چین پورې د اوبو له لارې راکړه ورکړه د ډېر اهمیت څخه برخمنه ؤه. په دې دوره کې یو قوي مرکزي دولت پراسلامي نړۍ حکومت کاوه او له چین سره د پراخو سوداګریزو اړیکو مدافع و. په چین کې هم د تانګ سلسله د سوداګریزې لارې د امنیت ضمانت کړی و.

له شپاړلسمې زیږدیز پېړۍ څخه وروسته پرتګالیانو او هالنډیانو کله چې هرمز په ایران، ګوا په هند او د چین په جنوب کې د ماکائو پر بحري او سوداګریزو لارو تسلط وموند، نو د چین اړیکې د ختیځ آسیا له نورو هېوادونو سره سمې کمزورې شوې.



سون یات سن

د دیارلسمې میلادي پېړۍ په لومړیو کې د مغلو د یرغل له امله تر چینه پورې د سیمې هېوادونه او هم د منځنې ختیځ سیمې په ورته برخلیک اخته شوې. په ۶۲۷ هـ یا ۱۲۳۰ زیږدیز کې اوکتای قا آن له خپلو دوو ورونو جغتای او تولي او له خپلو زامنو سره د هوانګ هو د جلګې پر لوري حرکت وکړ او تر ۶۳۱ هـ یا ۱۲۳٤ زیږدیز کال پورې یې د کای فنګ ښار ونیو.

په معاصرو پیړو کې د منچو دولت خپل سوداګري د انګلیس سره محدود او تر ښارني لاندې ونیوله او د سوداګرۍ د اړیکو د کره کتنې غوښتونکي شول. انګلیسانو هڅه کوله چې د هند له لارې د نړۍ سره خپلې سوداګریزې اړیکې وساتي. د انګلیسانو اساسي موخې د چین سره د تریاکو سوداګري وه چې دغو اړیکو ناوړه پایلې درلودې چې د تریاکو د جګړې ۱۸۴۱- ۱۸۶۰زیږدیز لامل وګرځیده.

په شلمه میلادي پېړۍ کې لومړۍ د امپراتوري حکومتونه او وروسته د چین ملي جمهوریت منځ ته راغی. ډاکتر سون یات سن چې د چین د مدرن پلار په نامه مشهوردی، د ۱۹۱۱ میلادي کال د انقلاب مشر د چین لومړنی جمهور رئیس هم و، چې ګومین تانګ د ګوند مشري تر ۱۹۲۱زیږدیز کاله پورې پر غاړه وه. د بهرنیو قدرتونو پر وړاندې د کمزورۍ او د کورنی جګړې له امله چین ددې وخت نه درلود چې د سیمې هېوادونو ته پاملرنه وکړي. ددې سیمې ستراتېژیک اهمیت انقلابي کمونیستانو ته چې د مائوتسه تونګ په مشرۍ د (ین آن)په غرنیو مرکزونو کې جنګیدل، ښکاره و. او خپلو فعالیتونو ته یې شدت ورکړ.

## الف- د ۱۹۴۹ زیږدیز کال انقلاب

د ۱۹۲۸ زیږدیز کال په پسرلي کې د مائو په مشرۍ هغه پاتې شونې ماتې خوړونکي شورشیانو (فصل خزان) او هغو پوځیانو چې د نانچانګ په شورش کې یې برخه اخیستې وه، ژوندوي پاتې شوي وو، له جوده قوماندان سره یوځای شول. ددغه ناکام شورش دواړو مشرانو د کمونیست ګوند قواوې له منځه وړلو څخه وژغورلې او دا پریکړه یې وکړه، چې پاتې قواوې د چین په سره پوځ کې تنظیم کړي

او لومړنۍ پایگاه چې کمونېست گوند د چین د سره پوځ د ټینگښت لپاره جوړه کړه چنگ کانگ شن وه. همدارنگه مائو د ۱۹۳۱ میلادي کا ل په وروستیو کې د چین لومړنۍ جمهوري شورایي د گیانگسي په سیمه کې اعلام کړه. د دویم نړېوال جنگ په پای کې په عملي توگه دوه چینه شتون درلود. یو هغه قلمرو و، چې د گومیندان تر نظارت لاندې و او بل هغه آزادي سیمې وې، چې د چین کمونېست گوند رهبري کولې. گومیندان سره د امریکې د متحده ایالاتو له خوا د وسلې او مهماتو، د پوځیانو د زده کړې او لیږد یې ختیځو برخو ته، د ارتباطي لارو جوړونه او ساتنه، نظامي او دیپلوماتیک ملاتړ کېده. د چین دېموکراتیک قواوې له پوځي، اقتصادي اړیکو له پلوه د چانکای شیک رژیم په پرتله وروسته پاتې و، خو د خلکو ملاتړ او ملگرتیا یې لرله.



مائو

د چین کمونېست گوند د مقاومت لپاره اغېزمنه تیاري نیولې وه. په اقتصادي برخه کې د ۱۹۴۶ز د مې د میاشتې د ٤ مې نېټې په مصوبه کې د چین د کمونېست گوند مرکزي کمېټې دا پټیلې وه، چې د لویو ملاکانو ځمکې مصادره کړي. ددې تر څنگ یې د پوځي احضاراتو او جلب لپاره تدابیر نیولي وو. کمونېست گوند وتوانېد چې د مختلفو مبارزو او نظامي لارې خلک د گومیندان د حملو پر وړاندې چمتو کړي.

د ۱۹۴۸ز کال په اوړي او منی کې آزادي غوښتونکي پوځ په کلکو او بریالیو عملیاتو لاس پورې کړ. د گومېندان پوځیان د چین په شمال ختیځ ښارونو کې محاصره، بندیان یا تسلیم شول، د چین ډېره مهمه صنعتي سیمه، چې د فلزاتو د ویلې کېدو کار خانې، د ډېرو د سکرو د استخراج، ماشین جوړونې ، د انرژۍ یا د حمل و نقل پرمختللې شبکې پکې وې کمونېستي قواوو ونیولې.

د ۱۹۴۸ز کال په پای کې کمونېست گوند پر ټول شمالي او شمال ختیځ چین واکمن شو. همدارنگه په ۱۹۴۹ زېږدیز کال کې بېجېنگ پرته له مقاومته سقوط وکړ او د کمونېست گوند قواوو لاسته ولوېد او د هماغه کال د نوامبر او اپریل د میاشتو ترمنځ د چین ښارونه بې له وینې تویونې د کمونېستانو لاسونو ته ولوېدل. چیکا یچېنگ د خپلو پوځیانو له کوچنۍ ډلې سره تایوان ته تښته وکړه. د پیکن تر نیولو او د چانکای شیک د قواو تر ماتولو وروسته کمونېست گوند بشپړ بریالتوب ته ورسېد او مائو د ۱۹۴۹ز کال د اکتوبر د میاشتې په لومړۍ ورځ د پکن د سولې په میدان کې د چین د خلکو جمهوریت اعلام کړ.

څرنگه چې د چین بهرنی سیاست له ۱۹۴۹ز کال څخه وروسته د مائو پر عقاید ولاړ و، نو د هغه افکارو او غبرگونونو پر بهرنیو او کورنیو مسائلو بشپړ اغېز درلود، څکه نو د هغه هېواد بهرني سیاست د ۵۰ مې لسیزې څخه وروسته د چین پر کورني لوړو ژورو او نړېوالو پیښو کې اغېز درلود.

مائو د انقلابي جگړو پر وخت او د قدرت د لاس ته راوړنې مخکې او وروسته هیڅ کله له یوې ثابتې الگو د خپل د سیاستونو د اجراکولو لپاره کار نه اخیسته، بلکې د چین د اقتصادي، سیاسي،

پوځي او فني او نړېوالې اوضاع او استراتېژيکي اصولو په پام کې نيولو سره به يې له انعطاف څخه کار اخيسته.

له ۱۹۸۰ز کلونو را په دې خوا د چين سياستونو د سيمې له هېوادونو او نړۍ سره د پام وړ وده وکړه او له دې امله چين د منطقې په سياستونو کې د پام وړ ارزښت لري چې په اوس وخت کې په سيمه کې د چين فعاله سياسي ونډه ډېر د اهميت وړ ده. پخوا چين په نړېوالو اړيکو او په ځانګړې توګه د مرستو په برخه کې اعتقادي (ايډيالوژيکه) بڼه درلوده او د بېجېنګ له پاليسۍ سره سم د سوسياليزم او د استعماري ضد نهضتونو په پراختيا کې چې د نړۍ په مختلفو ځايونو کې تر سره کېدل له ۸۰ لسيزې راپدې خوا د دې په کچه او اندازې کې بدلون راغې.

د چين نوی سياست او پاليسي اوس د نړېوالو مناسباتو د برابرۍ، متقابلې ګټې، د همکاريو په شکلونو کې د نوښت او د عملي او ښو پايلو پر اساس ولاړه ده. ددې سياست موخه داده چې چين په نړېواله ټولنه کې اغېزمن او لوی نقش ولري. د پرانيستو دروازو د سياست په رامنځ ته کولو او له نړۍ سره د سياسي او اقتصادي مناسباتو په پراخولو سره چين د نړۍ د پرمختللو هېوادنو لکه جاپان، امريکا او لوېديځې اروپا په کتار کې درېدلی دی. او نن ورځ په نړۍ کې د صنعتي هېوادونو او مطرحه قدرتونو له ډلې څخه ګڼل کېږي.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په جلا ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د چين د سوابقو، دويمه ډله دې د چين د بدلونونو په اړه يو له بله پوښتنې وکړي.

## پوښتنې

۱- د چين هيواد څېرې موقعيت لري؟

۲- جمهوري نظام په چين کې څه و خت جوړ، او لومړنی جمهور رئيس يې څوک و؟

۳- د چين د کمونيست ګوند د بريااليتوب لاملونه څه وو ؟

۴- د دويمې نړېوالې جګړې وروسته په چين کې له اقتصادي، سياسي او ټولنيز پلوه څه بدلون راغلی؟

۵- له اتيايمې لسيزې وروسته د چين بدلونونه څرنګه ارزوئ؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د فرهنګي شخصيتونو او منابعو په مرسته په چين کې د ۱۹۴۹ زېږديز کال د انقلاب د لاملونو په اړه معلومات تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې و وايي.

# تاجکستان




تاجکستان د افغانستان یو ګاونډی هیواد دی، په دې لوست کې تاسو ته د تاجکستان د نژادي ریښې، تاریخي سابقې او د هغه ځای د کلتوري حالت په هکله معلومات درکول کېږي.

د افغانستان په شمال کې یوه حاصلخېزه سیمه پرته ده، چې ډېر عالمان او پوهان په دې باور دي، چې آریایي نژاد خپلې د ژوندانه لومړنۍ ورځې او شپې د هندوکش د غرونو په لمن کې د جیحون او سیحون د رودونو پر غاړو تېرې کړې دي. د آریائیانو په پخواني کتاب کې د داسې ځمکې یادونه شوې چې آب او هوا یې د ځمکې پرمخ د خلد په نوم یادیده او زموږ نیکونه هورې لوی شوي دي، او په پوره ډاډ سره ویلای شو چې له هغې ځمکې څخه موخه همدا د جیحون او سیحون زړه وړونکې سیمه ده.

د هنري فیلډ د وینا له مخې (تاجکان مشهور خلک دي چې د ختیځ په ټوله سیمو کې خواره واره دي، نه یوازې په ایران او پاکستان کې، بلکې د ماوراالنهر په ښارونو او په هغو هېوادونو کې چې د تاتاریانو تر ولکې لاندې دي، اوسېږي او د هغوی د ځینو د ویناوو له مخې د چین تر سرحدونو یا

لږ تر لږه تر تیبت پورې خپاره شوي دي.)

د پام وړ شمېر تاجکان په ازبکستان او قرغزستان کې اوسېږي، تاجکان د آریایانو له پخواني نژاده دي، دوی د ترکانو تر را څرګندېدو دمخه د مرکزي آسیا د ډېر پخواني تمدن ښکارندوی دي.

سکندر د میلادي څلورمي پیړۍ دمخه د تاجکانو خاوره ونیوله او د هغه ځای د خلکو تر مطیع کولو وروسته یې هورې له یونانیانو او مقدونیانو څخه یو لښکرکوټ جوړ کړ، چې ۳۰ زره کسه یې هلته میشت شول او د هغه ځای د خلکو سره یو ځای شول.

له میلاد څخه دوه پیړۍ مخکې سکاهانو د یونانیانو ځای ونیو. له ۳۹-۲۷ د میلاد څخه مخکې کلونو کې ګوای شانګ (کوشان) دیو چیو نور قبایل ونیول او د کوشانیانو امپراطوري یې جوړه کړه، چې وېې کړای شول چې په مرکزي آسیا ۲۰۰ کاله حکومت وکړي. د کوشانیانو امپراطوري د درییمې پیړۍ په پای کې کمزوري شوه او یو بل قوم چې رومیانو هغوی (افتالیت یا سپین هونان یا اهیاطله بلل، رامنځ ته شول.



امام علی رحمانوف

تاجیکان اکثراً له نژادي پلوه سپین نژاد پورې اړه لري او کله کله کولای شو چې د مغلو ځانګړنې په کې وګورو، علت یې دا دی چې هغوي او ترکانو یو له بله سره وده کړې ده.

د ترکي مهاجرینو پر له پسې یرغلو دا سیمه داسې ترکي کړه، چې په ۱۳ مه زیږدیزې پېړۍ کې یې مغل یرغلګر په ځان کې مخلوط او هغوی یې تر خپل اغېز لاندې راوستل.

د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې چې د وخت په تېرېدو سره د روسیې د ځمکې پراخولو لړۍ جنوب لوري افغانستان خواته پیل شوه، د تاجکانو ستر مرکزونه لکه اورا، توبه او خجند له

روسيې سره وتړل شول. د تاجکستان شمالي برخه د روسانو په قلمرو او سهيلي برخه يې د بخارا د امير تر فرمان لاندې راغله. په ۱۹۱۸ زيږديز کال کې د شوروي د حکومت منګولې د مرکزي آسيا په مخکينيو نيول شويو سيمو کې ټينګې شوې، د همدې کـال په اوږدو کې د تاجکستان شمالي برخه د خود مختار شوروي ترکستان يوه برخه شوه او په ۱۹۲۱ زيږديز کې سرې قواوې د بخارا شرقي برخو ته ورغلې او د دوشنبې ښار يې ونيو.

د ۱۹۲۴ز کا ل د منځنۍ آسيا د جمهوريتونو د پولو ټاکلو په وخت کې د تاجک شورايي جمهوريت د ازبکستان جمهوري يو برخه شوه. په ۱۹۲۹ز کال کې د دوشنبې ښار د ستالين آباد او په ۱۹۶۱ کې بېرته د دوشنې په نامه ونومول شو او هم د ۱۹۲٤ کال د سرحدي ټاکنې په اساس ځينې ښارونه لکه سمرقند، بخارا، سرخان دريا، قشقادريا، د فرغانې سيمې له تاجکستان څخه جلا شوې او د سرحدي ټاکنې له هماغه نېټې څخه په کې تر اوسه کوم بدلون نه دی راغلی.

د شوروي اتحاد تر ړنګيدو وروسته په ۱۹۹۱ز کال، کې تاجکستان خپله سياسي خپلواکي اعلان کړه او د ملګرو ملتونو د ټولنې او ځينو نورو نړيوالو ادارو غړيتوب يې ترلاسه کړ.

**توضيح**

دوه لويې کورنۍ لکه صفاريان او سامانيانو پر تاجکستان حکومت کړی دی او د پيړيو په اوږدو کې دشاعرانو او فضلاو د زړه وړونکي مرکز حيثيت درلود. رودکي سمرقندي، کمال خجندی، رشيد سمرقندی، خواجه عبدالمالك عصاری سمرقندی اوسيفی بخاری د دغو شاعرانو او فضلا څخه وو. سمر قند او بخارا لکه بلخ د خپل وخت دعلومو او فنونو له مرکزونو څخه شميرل کيږي .

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي. لومړنۍ ډله دې د تاجکستان د قومونو او دویمه ډله دې په تاجکانو باندې د روسانو د یر غل په اړه یو له بل سره مباحثه وکړي.

## پوښتنې

۱- د تاجکستان اوسیدونکي په کوم نژاد پورې اړه لري؟

۲- په کوم کال کې تاجکستان د شوروي ترکستان خود مختاره جمهوري یو برخه و ګرځید؟

۳- تاجکستان په کوم کال کې خپله سیاسي خپلواکي تر لاسه کړه؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکو او منابعو په مرسته په تاجکستان کې د اسلام د خپریدو په اړه معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

# ازبکستان




ازبکستان د اسلامي کلتور او تمدن له لویو مرکزنو څخه ګڼل کېږي. په دې لوست کې تاسې د ازبکستان د موقعیت، اقتصاد، کلتور او لنډ تاریخ سره بلدېږئ.

ازبکستان داسې هېواد دی چې په مرکزي آسیا کې د دوو سیندونو آمو او سیر دریا ترمنځ پروت دی،

په دغه هېواد کې ٪۷۱ خلک ازبک دي، په ازبکستان کې نور لږه کي، لکه روسان، تاجکان، قزاقان او تاتار هم اوسېږي. په سلو کې ۶۳ خلک په کلیو او بانډو کې ژوند تیروي ، رسمي ژبه يې ازبکي او روسي ده.

په ازبکستان کې تر میلاد څخه دمخه انسانان اوسېدل، تر میلادي شپږمې پیړی دمخه ددې هېواد ډېره خاوره د هخامنشیانو د قلمرو یو برخه وه.

په( ۳۲۹ مخکې د میلاد) کې مقدوني سکندر، سمرقند او اوسني ازبکستان د باختري یونان یوه برخه وګرځوله.

د شپږمې میلادي پیړۍ په نیمایي کې د ترکي خانانو تر ولکې لاندې راغی.

عربانو د اوومې میلادي پیړۍ په دویمې نیمایي کې د مرکزي آسیا مهمې برخې ونیولې. قتیبه بن مسلم د خراسان عربي والي ته دنده ورکړل شوه، چې ماورالنهر په بشپړه توګه فتح کړي. هغه په شلو کلونو کې د چین او کاشغر تر پولو نږدې او په شمال کې تر تاشکند پورې لښکرې راورسولې او په پای کې یې سمرقند، تاشکند او فرغانه ونیوله.



د طلا کارۍ جومات

د اسلام په ظهور او خپرېدلو سره په لسمه میلادي پیړۍ کې د ازبکستان اوسنۍ سیمه د سامانیانو د قلمرو یوه برخه شوه او د وخت په تېرېدو سره پرې غزنویانو، سلجوقیانو، خوارزمشاهیانو، مغلانو او تیموریانو حکومت کاوه.

مغولو د خپلو یرغلو په ترځ کې د منځنۍ آسیا لویې برخې ونیولې، خو په تدریج او د مغلو د واکمنۍ په منځ ته راتګ، په ځانګړې توګه د تیمور له واکمنۍ وروسته چې سمرقند یې د خپلې امپراتورۍ پلازمېنه وټاکله، ازبکانو د لومړۍ ځل لپاره د یوه قوم په توګه را ښکاره شول.

ازبکانو خپل نوم له ازبک خان څخه ۱۲۸۲-۱۳٤۲ ز کال چې د اسلام په دین مشرف شوی و، اقتباس کړ، همدارنګه ابواخیر خان (۱٤۱۲) ز کال د شیبان ځوان ځایناستي د جوجي زوی په مرکزي آسیا کې د ازبکو د قدرت بنسټ کېښود.



اسلام کریموف

د ازبکستان ۸۵ سلنه خلک مسلمانان او حنفي مذهبه

دي، د يو شمېر تېرېو سره سره په اسلامي سنتونو او ارزښتونو ولاړ او پابند دي، په دې هېواد کې اسلامي ارزښتونه لکه: نکاح، تدفين، خاوروته د مړي سپارل، د هلکانو سنتول، قرباني، د قرآن مجيد تلاوت، د جوماتونو جوړول او د صدقو ورکول رعايت کېږي.

د ازبکستان د خلکو ملي ترکيب د ۱۹ مې پيړۍ له نيمايي او د شلمې پيړۍ له پيل څخه بدلون موندلی دی. د روسيې په وسيله د منځنۍ آسيا له اشغال وروسته، دې سيمې ته د ډېرو روسانو ورلېږل، په ځانګړي توګه د ۱۹۱۷ زېږديز کال د (اکتوبر انقلاب څخه وروسته د روسيې، ققفاز او اوکراين بزګران او کارګران دې سيمې ته راوستل شول.

**توضيح**

سمرقند او بخارا د اسلامي تمدن له مهمو او لويو مرکزونو نه ګڼل کېږي. د اسلامي تمدن ډېرې نښې او آبدات هلته د يادګار په توګه پاتې دي، چې د بېلګې په توګه د شيردار مدرسې، طلاکارۍ مدرسې، د النع بېګ مدرسې، بي بي خانم جومات، د نمازګاه جومات، خانقاه د ګورګاني امير تيمور مقبره، د خواجه عبدالله احرار مزار، رودکي مزار، د شاه اسماعيل ساماني مزار، د خواجه بهاوالدين نقشبند د آثارو مجموعه، مزارونو او آبدو نومونه يادولی شو.

په پخواني شوروي اتحاد کې د ۱۹۹۱ زېږديز کال چټکو بدلونونو د ازبکستان مشرتابه ته دا فرصت ورکړ، چې د ياد شوي کال د سپتمبر په لومړۍ نېټه ازبکستان د يوه آزاد او خپلواک هېواد په توګه اعلان کړي. د ازبکستان کمونيست ګوند منحل اعلان شو او لومړنۍ ټولټاکنې تر سره شوې او اسلام کريموف د رايو په ګټلو سره د جمهور رئيس په توګه وټاکل شو.

ازبکستان د خپلواکۍ تر اعلانولو وروسته د ملګرو ملتونو د ټولنې غړيتوب ترلاسه او په يو شمېر اقتصادي، نړيوالو او سيمه ييزو ټولنو کې داخل شو.

د منځنۍ آسيا په هېوادونو کې ازبکستان د ډېرو ښو اقتصادي په تيره بيا د کرنې په برخه کې د

ښو امکاناتو لرونکی هېواد دی. ازبکستان د مسو، د سکرو ډبرو او نفتو کانونه لري، د فولادو د صنعت په تولید، غذايي توکو، منسوجاتو او پنبې په پرمختګ کې يې بریالیتوبونه په برخه شوي دي. کرنه ددې هېواد د اقتصاد مهمه برخه ګڼل کېږي، چې په اقتصادي پرمختیا کې **۲۸** سلنه ونډه لري او ۳۵ سلنه وګړی په کې په کار بوخت دي ازبکستان په نړۍ کې د پنبې دویم صادروونکی هېواد دی.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوه ډلو وویشل شي لومړۍ ډله دې د ازبکستان د اسلامي ابداتو په اړه او دویمه ډله دې د مهمو صنایعو په اړه په خپل منځ کې مباحثه وکړي.

## پوښتنې

۱- د ازبکستان موقعیت په لنډه توګه توضیح کړئ.

۲- په ازبکستان کې کومې قومي ډلې ژوند کوي؟

۳- کومو لړیو یا کورنیو په ازبکستان کې حکمرايي کړې ده؟

٤- د ازبکستان خلك په کومو ژبو خبرې کوي؟

٥- د ازبکستان د مهمو صنایعو نومونه واخلئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د ازبکستان نقشه رسم او د هغې پر مخ دې د ازبکستان ولایتونه، صنعتي ښارونه او ګاونډي هیوادونه په نښه کړي.

# ترکمنستان



د ترکمنستان د هیواد نقشه

ترکمنستان پخوا د ماوراالنهر یوه برخه وه او نن په نړۍ کې د گاز له سترو صادروونکو هېوادونو څخه دی چې په دې لوست کې به تاسې د ترکمنستان د تاریخي پېښو، د ترکمنانو د اصل او نسب او د هغه ځای د فرهنگي او اقتصادي حالت په برخه کې تفصیلي معلومات حاصل کړئ.

ترکمنستان یو لرغونی هېواد دی. چې د زرگونو کلونو د پخواني تمدن زانگو بلل کیږي او د گوک، تپه، نمازگاه تپه د مروښار، نساء قلعه او اورگنج غونډي لوی فرهنگي مرکزونه په کې شتون لري. د څېړې له مخې ترکمنان مغلو ته ورته دي. په نسبي توگه لوړ، د تورو وېښتو لرونکې او نري اندامه دي.

د لرغون پوهنې پلټنې ښيي چې ترکمنستان په منطقه کې د نړۍ د ښارويو او د کرنيزو مرکزونو څخه يو مرکز و. د برونز په پېرکې ډېرو لويو تمدنونو له دې ځای څخه منشا اخستې ده. د ترکمنستان د لرغونو تمدنونو څخه یو د ((الیتن اپ)) معماري ده چې د مینا او چاجاکلو تر مینځ موقعیت لري په دې ځای کې یوه مقبره شتون لري چې د معمارۍ له پلوه د بابل آثارو ته ورته والی لري او همدا رنگه لرغون پوهانو ثابته کړې چې په دې محله کې نوشتې ژبه موجوده وه او خلک د عالي او لوړ فرهنگ څخه برخمن وو. چې ترکمنستان له تاریخ څخه مخکې د انسانانو د استوگنې ځای ؤ. په ٦- ٤ ق- م پېړیو کې د هخامنشیانو د امپراطورۍ یوه برخه وه او وروسته د پارتانو لاس ته ولوېده.

د ترکمنانو د نژاد د ریښې په برخه کې مختلفې نظریې شته، خو هغه ځمکې چې ترکمنان په کې اوسي، له ډېرې زمانې څخه د انسانانو د استوگنې ځای او ډول ډول کلتورونو او تمدنونو په کې وده

کړې ده. ترکمنستان د خپل جغرافیوي موقعیت له مخې د وریښمو د لویې لارې په برخه کې مهم نقش لوبولی او د پېړیو په اوږدو کې د لوېدیځ او ختیځ ترمنځ نښلوونکې کړۍ پاتې شوې ده. په پنځمه میلادي پېړۍ کې دا سیمه د هون او هپتالیانو د یرغل له امله او ساسانیانو د شانګ وروسته د هغوی لاسته ورغله. دا د لوی خراسان شمال ته د ترکي قومونو لومړنی نفوذ و.

په اوومه پېړۍ کې عربو پر خراسان د یرغل په ترڅ کې دا سیمه هم ونیوله، مرو د خراسان د عربو حکمرانانو پلازمېنه ګڼل کېده او پر ماوراالنهر یې حملې له همدې ځایه کولې. مروې ته د مامون الرشید او امام رضا راتګ په تاریخ کې هم ثبت دی.

که څه هم دې سیمې او ماوراالنهر ته د ترکانو لومړنی راتګ په پنځمه زیږدیزه پېړۍ کې د هیاطله د هجوم پر وخت و، خو د غوز یا اغوز د ترکانو یرغل د مغلوستان له پولو څخه په لسمه زیږدیز پېړۍ کې ددې سیمې د خلکو جمعیتي جوړښت دړې وړې کړ، سلجوق خان دمسلمانو ترکو په مرسته وتوانیده چې پر سیحون خپله واکمني ټینګه کړي او د سلجوقیانو د کورنۍ بنسټ یې کېښود.

په څلورمه هجري پېړۍ کې مقدسي غربي تاریخ لیکونکی لومړنی کس و، چې د ترکمن په نوم طایفې څخه یې یادونه وکړه او پر دې ټکي یې ټینګار وکړ، چې ترکمنان لومړني مسلمان ترکان وو، نو ځکه د (ترک ایمان) په نامه له هغوی څخه یادونه شوې ده.


د ترکمنستان د پارلمان ودانۍ

د جوامع التواریخ د کتاب پر اساس د ترکمنانو نسبي سلسله داسې تنظیم شوې ده: یافث بن نوح، دیب یا قوي، قراخان او غوزخان، د ترکمنانو اصلي نیکه اورخان کرخان دی.

ترکمنستان د مرکزي آسیا د مختلفو قومونو د اوسېدو ځای دی، خو ډېر خلک یې ترکمنان دي او لاندې قبیلې په کې اوسېږي:

۱- عالي ایلي
۲- اتا
۳- چاودار
٤- امرای (یمرلی)
۵- ارساري
٦- ساکار (ساقار)
۷- سایور
۸- ناریق
۹- تکه اریموت
۱۰- ګوکلان

څرنګه چې زياترو ترکمنانو د تاريخ په اوږدو کې د څارويو د روزنې له لارې ژوند کړی، نو ددې لپاره چې دغه اقتصادي فعاليت فعال وساتي، نو په کليو کې اوسېږي. د مغلو يرغل او د خوارزمشاهانو مادي وضع سخته خرابه کړې وه. د مرکزي آسيا ډېر ودان ښارونه ټول ويجاړ او د مغولو لاسونو ته ولوېدل. ياده شوې سيمه په دوو برخو، چې شمالي برخه يې مغلو او د ازبيکو خانانو او جنوبي برخه يې ايلخانانو ونيوله.

له ۱۵-۱۷ز پېړۍ څخه دا سيمه د شيبک خان ازبک تر ماتې وروسته صفويانو ونيوله، په ۱۸۵۰-۱۸۷۳ زېږديز کلونو کې د روسيې سياسي تحريکاتو د ترکمنستان پراخه سيمه د بخارا، خيوی، فرغانې، خو قند او قازان په حکومتونو ووېشله، روسانو په يوه منظم ځنځيري حرکت سره په ۱۸٦۸ز کې بخارا، په ۱۸۷۳ز کې خيوه په ۱۸۷۹ز فرغانه ترولکې لاندې راوړل او په پای کې په ۱۸۸۱ز کال روسي جنرال اسکوبلوف پر اخال باندې د يرغل او د ګوک تپې قلعې په نيولو سره وتوانېد، چې پر ترکمنانو بريالی او ترکمنستان اشغال کړي، د ترکمنستان لوېديځه برخه په خپله خوښه د روسيې سره يو ځای شوه.

په روسيه کې د ۱۹۱۷ زېږديز کال تر انقلاب وروسته ترکمنستان د شوروي ترکستان د جهموريت يوه برخه شوه.

تر خپلواکۍ وروسته د ترکمنستان اقتصاد د نورو نويو جمهوريتونو په څېر په دولتي مالکيت ولاړ و. د خپرو شويو آثارو له مخې د هېواد د ټولو محصولاتو ۹۵ سلنه د دولتي واحدونو له خوا توليدېدل. بانکونه، بيمې، بهرنۍ سوداګري او ټول لوی پلورنځي دولتي وو، دغه اقتصادي سيستم چې پر دولتي بنياد ولاړ و، د نوښت د نشتوالي، لږکارۍ، فلجوونکې بېروکراسۍ او د تکنالوژۍ د نشتوالي له امله له سختو ستونزو سره مخ و او د پورته ستونزو د له منځه وړلو لپاره دولت په دوو کارونو لاس پورې کړ:

۱- په مسکو او د کامنولت د نورو غړيو هېوادونو پورې د ځان تړنې د ريښو پرې کول.

۲- د ملي اقتصاد بنسټ ايښودل او په خپلواکه توګه د طبيعي ځيرمو څخه ګټه اخيستنه د کورنۍ اړتياو د رفع کولو په منظور. چې د دې مامول د پوره کولو لپاره څو مرحله يزه ملي استراتيژي مطرح شوه.

ترکمنستان د روسيې له فدارسيون څخه وروسته د مشترک المنافع هېوادونو په منځ کې د ۲,۷ ترېليون متر مکعب ګازو په در لودو سره دويم هېواد دی. د ترکمنستان په سلو کې ٤۸ سلنه خلک په کرهنيزو او د څارويو په چارو بوخت دي. ددې هېواد په سلو کې ۸۰ سلنه ځمکه د اوبو د سرچينو له نشتوالي سره مخامخ ده. په ترکمنستان کې مالدارۍ نسبتاً ښه وده کړې ده. د قره قل پسونو د نرمو وړيو او پوستکو په لرلو سره په کې ډېر روزل کېږي. د ترکمنستان يو بل صنعت غالي جوړونه ده، چې د ترکمني ښځو په منځ کې رواج او نړيوال شهرت لري، ترکمنستان په مرکزي آسيا کې له ځانګړې جغرافيوي پلوه مناسب ستراتېژيک موقعيت لري.

• دغه هېواد تر ځمکې لاندې ډېرې لويې په ځانګړې توګه د نفتو ذخيرې لري، چې همدې ټکي د سيمې د هېوادونو پام ترکمنستان ته را اړولی دی.

• ترکمنستان اروپا او ځينو نورو هېوادونو ته د ګاز د انتقال پوتنسيال لري او د اروپا د انرژۍ د تامينونکو هېوادونو څخه ګڼل کېږي.

• ترکمنستان د کسپين د بحرې له ساحلي هېوادونو څخه دی چې د انرژۍ ځيرمو په لرو سره له اقتصادي لوړ ارزښت څخه برخمن دی.

ترکمنستان د پخواني شوروي اتحاد د ٦٠ کلنې واکمنۍ په وخت کې د نورو منځنۍ آسيا د جمهوريتونو په څېر د بدلونونو له مخې يو منجمد تاريخ تېر کړ، يوازې د يادولو مهمه پېښه په کې د قره قوم د کانال جوړول و.

په پخواني شوروي اتحاد کې د سياسي بحرانونو په ډېرېدو سره کمونيست حزب منحل او د ترکمنستان ديموکراتيک ګوند د ١٩٩١ز کال د اکتوبر په ٢٦ مه جوړ شو، چې مشري يې نيازاف پر غاړه لرله او د اکتوبر په ٢٧ مه ترکمنستان رسماً خپله خپلواکي اعلان او د يوه خپلواکه هېواد په توګه په رسميت وپېژندل شو. يو کال وروسته ددې هېواد د پارلمان له خوا نوی اساسي قانون جوړ او د جمهور رئيس واک يې په کې ډېر کړ.

تر خپلواکۍ وروسته ترکمنستان د ملګرو ملتونو د ټولنې، د خپلواکو مشترک المنافع هېوادونو، د آسيا پراختيايي بانک، اسلامي پرمختيايي بانک، اسلامي کنفرانس د سازمان، د کار د نړېوا ل سازمان او دلسګونو نورو نړېوالو ټولنو غړېتوب ترلاسه کړی دی.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په څو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د ترکمنستان د موقعيت په اړه، دويمه دې د ژبې، درېيمه دې د ترک تبارانو د استوګنې او څلورمه دې د ترکمنانو د نژادي ريښې په برخه کې يو له بله پوښتنې وکړي.

## پوښتنې

١- د ترکمنستان د مشهورو قبايلو نومونه واخلئ.

٢- روسانو په کوم کال کې ترکمنستان ونيوه؟

٣- ترکمنستان له خپلواکۍ وروسته څه ډول استراتيژي طرح کړه؟

٤- د ترکمنستان تر ټولو لوی صادراتي توکی کوم شی دی؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د ترکمنستان نقشه رسم او د هغې پر مخ د صنعتي ښارونو ولايتونو او ګاونډي هيوادنه په نښه کړي.

# دویم څپرکی

په شلمه پېړۍ کې د نړۍ مهمې پېښې

## د څپرکي موخې

په شلمه پېړۍ کې د نړۍ د ځینو مهمو پېښو سره بلدتیا

۱-د لومړۍ نړیوالې جګړې او د هغې د لاملونونه تحلیل کول.

۲- دویمه نړیواله جګړه او د هغې لاملونه تحلیل او تفسیر وکړای شي.

۳- د ملګرو ملتونو د جوړښت ضرورت درک کړای شي.

٤- د پخواني شوروي اتحاد د ټوټې کیدلو د لاملونو تحلیل او تفسیر وکړای شي.

٥- د نقشو او اطلسونو څخه ګټه پورته کړي.

# لومړۍ نړیواله جګړه او د هغې لاملونه



په دې لوست کې زده کوونکي د لومړۍ نړیوالې جګړې له علتونو، لاملونو او دهغو د ناوړو پایلو په اړه معلومات تر لاسه کوي.

لوېدیځې نړۍ د شلمې پېړۍ په لومړیو کې پر نړۍ پوځي او اقتصادي واک تر لاسه کړ. په نوموړې پېړۍ کې اروپایي سرتېرو او مقاماتو پر هند، جنوب ختیځې آسیا او د افریقا پر ډېرو برخو حکومت کاوه. د بهرني سیاست مامورینو او اروپایي سوداګرو د چین، ایران او عثماني امپراتورۍ اقتصادي او سیاسي چارې په لاس کې درلودې. په لوېدیځه نیمه کره کې متحده ایالات د لوېدیځو قدرتونو په ډله کې نوی مطرح شوی و او په ټوله نړۍ کې په یوه ځواکمن قدرت بدلېده.

د وضعې او حالاتو بدلون داسې و، چې د عمومي جګړې لپاره یې لار هواروله. د دغه حالت په پای کې لومړۍ نړیواله جګړه پیښه شوه. لومړۍ د بازارونو پر سر اقتصادي سیالۍ پیل شوې، وروسته د اروپا اتحاد، هېوادونه یو د بل پر ضد متحد کړل. دربیم، ټولو قومي ډلو قوي ملي ګرایانه احساسات درلودل.

د اروپا صنعتي هېوادونو د نفوذ او مستعمره کولو پر سر یو له بله سره سیاسي سیالۍ درلوده. انګلستان

تر **۱۸۷۰** ز کاله پورې په ټوله نړۍ کې تر ټولو مخکې صنعتي هېواد و. وروسته المان په صنعت پیل وکړ او په چټکۍ سره صنعتي شو او د ورېلو راوړلو او اړیکو نوې شبکه یې رامنځ ته کړه. الماني سوداګرو له انګلیسی سوداګرو سره د آسیا په ختیځ، منځني ختیځ او لاتینه امریکا کې بریالی سیالۍ پیل کړې. د نړیوال واک پر سر سیالۍ په سمندري وسله واله سیالۍ باندې بدلون وموند. مهم هېوادونه لکه د امریکا متحده ایالات او جاپان د خپلو کشتیو د چلونې د خوندیتوب لپاره خپل سمندري ځواک پیاوړی کړ.

انګلستان په **۱۸۸۴**ز کال کې د کشتیو او لویو سمندري توپونو جوړول پیل کړل. المان چې په اقتصادي برخه کې د هغه اصلي دښمن و، ډېر ژر یې د هغه هېواد تقلید وکړ.

د شلمې زېږدیز پېړۍ په لومړیو کې د المان د سمندري ځواک چټکه پیاوړتیا د انګلستان د سمندري ځواک ته یو ګواښ و. انګلیس هڅه وکړه، چې د سمندري پوځي سیالۍ د پای لپاره له المان سره یوه موافقه وکړي. کله چې دغه هڅه ناکامه شوه، انګلستان د متحدینو په لټه کې شو.

فرانسې او انګلستان د خپلو هېوادونو په منځ کې په **۱۹۰۴**ز کا ل کې یو تړون لاسلیک کړ انګلستان په **۱۹۰۷** ز کې له روسیې سره هم متحد شو او د دې درې هېوادونو اتحاد په (مثلث) تبدیل شو.

د اروپا مهمو قدرتونو په هغه وخت کې په دوو اتحادونو کې یو د بل مخې ته ولاړ وو او دواړو خپل ځانونه وسله وال کول. د عمومي جګړې ګواښ ډېر شو. د بهرني سیاست بدګوماني او بې باورۍ سوله لا د خطر سره مخامخ کړه. تر لومړۍ نړیوالې جګړې دمخه د اتریش ولیعهد د سارایو مرکز بوسني کې ووژل شو.

المان نبت درلود، چې یوازې له خپل لوی متحد، اتریش څخه ملاتړ وکړي. بل متحد یې ایټالیه وه. برعکس روسیې تصمیم ونیو چې صربستان سره مرسته وکړي. روسي پوځ لومړی پوځ و چې د جګړې لپاره تیار شو. د المان حکومت له روسیې څخه وغوښتل چې له دې کاره لاس واخلي. ځکه له دې یې وېره درلوده، چې روسیه او فرانسه به یې پر خاوره په یوه وخت یرغل وکړي. روسیې

د المان غوښتنه رد کړه او د **۱۹۱۶** ز کال د اګست په لومړۍ نېټه المان لومړی روسيې ته او بيا فرانسې ته د جګړې اعلان وکړ.

المانيانو د بلژيک ناپېيلتوب تر پښو لاندې او د **۱۹۱۴** ز کال د اګست په **دريمه** يې پر هغه هېواد يرغل وکړ. يوه ورځ وروسته انګلستان المان او اتريش ته د جګړې اعلان وکړ. په صربستان د اتريش د يرغل تر پرېکړې وروسته په يوه اونۍ کې د دوو لويو اتحادو هېوادونه په جګړې کې ښکيل شول.

لومړۍ نړيواله جګړه د **۱۹۱۴** ز کا ل د اګست په لومړۍ نېټه پيل شوه او د دواړو ترون هېوادونو هيله درلوده چې په چټکۍ سره به بريالي شي، البته ټول په دغه وړاندوينه کې تېروتي وو. روسان په چټکۍ سره منسجم شول. فرانسې فکر نه کاوه چې المان به د بلژيک له لارې حمله وکړي. ايټاليې د المان او اتريش سره په اتحاد کې له جګړې سرغړونه وکړه. اتريش د خپلې ځانځانۍ له امله ونه توانېد چې پر وړوکي صربستان بريالی شي.

امريکا له اروپا څخه د جلاوالي سنت وساته. او خپله بېطرفي يې اعلان کړه. ختيځې او لوېديځې جبهې د جګړې اصلي ميدانونه وو. لوېديځه جبهه د سوېس له سرحده پيل او د فرانسې په خاوره کې د شمال تر روده ادامه درلوده. ختيځه جبهه د لهستان په خاوره کې تر روسيې پورې غځېدلې وه. په **۱۹۱۶** ز کال کې ختيځه جبهه په بالکان کې پرانيستل شوه.

متفقينو په **۱۹۱۵** ز کال کې هڅه وکړه چې د عثماني امپرتورۍ په ماتولو سره په دردانيل کې د پښې اېښودو ځای پيدا کړي. د متفقينو په زرګونو کسانو، چې ډېری يې استراليايي ځوانان وو، د هغو غرونو په لمنو کې چې عثماني ترکانو په توپونو او وسلو ترې دفاع کوله، خپل ځانونه له لاسه ورکړل. د عثماني امپراتورۍ عربي اتباعو په **۱۹۱۶** ز کال کې د ترک د حاکمانو پر ضد پاڅون وکړ. دغه پاڅون د ملک فيصل په مشرۍ چې په هاشمي اصيلې کورنۍ پورې يې اړه درلوده، له عربستان څخه يې فلسطين او سوريې ته خپور شو. انګلستان او فرانسې دواړو د عربي پاڅون کوونکو غوښتنې پوره کړې، چې په پايله کې عثماني امپراتوري له مينځه ولاړه د عثماني خلافت له مينځ تللو سره مسلمانانو

خپل د سیاسي یووالی سمبول له لاسه ورکړ.

المانیان د **۱۹۱۶**ز کال په فبرورۍ کې له اقتصادي ستونزې سره مخ شول. د المان د قومندې مرکز د دې لپاره چې له دې ستونزې ووځي، وې غوښتل، چې په فرانسه کې د وردن پر ښار یرغل وکړي، البته دا یې نه غوښتل چې په جبهه کې به د متفقینو ځواك لوی بری تر لاسه کړي، بلکې دا هیله یې درلوده چې د دفاع په ترځ کې به د فرانسې ځواکونه په تدریجي توګه له منځه یوسي.

ساتونکو له وردن څخه د فشار د له منځه وړلو لپاره له انګلیسانو او فرانسویانو څخه یو مرکب ځواك جوړ کړ او د Somme سیند په اوږدو کې یې یوه درنه حمله پیل کړه. Somme (سوم) د فرانسې په شمال ختیځ کې وړوکی سیند دی چې په مانش سمندرګي کې ورګډیږي. د Somme د جګړې په لومړۍ ورځ انګلیسانو د **۶۰۰۰۰** په شاوخوا کې تلفات ورکړل. په لومړیو **۲۴** ساعتونو کې په هره دقیقه کې **۱۵** انګلیسان مړه او **۳۰** کسه ژوبل شول. انګلیسانو د Somme په جګړې کې نوې وسلې واردې کړې. جګړې تر دسمبره پورې دوام وکړ. په دې جګړې کې المانیانو **۳۳۰۰۰۰** او فرانسویانو **۳۵۰۰۰۰** کسه تلفات ورکړل. د ایټالیا په جبهه کې د تلفاتو شمېر له **۳۰۰۰۰۰** څخه ډېر شو. په ختیځه جبهه کې ښایي د **۲،۱** میلیون کسو پورې په جګړې کې وژل شوي وي دي. جګړې له یو میلیون څخه ډېر زخمیان درلودل.

د **۱۹۱۵** کال د مۍ په **۷**مه یوه الماني تحت البحري کښتۍ پر لوسی تانیا اقیانوس پیما نومې کښتۍ چې د ایرلېنډ په سیند کې د حرکت په حال کې وه، یرغل وکړ او دا کښتۍ په چټکۍ سره ډوبه شوه او **۱۲۰۰** کسه په کې مړه شول. له **۱۰۰** څخه ډېر غرق شوي، امریکایان وو. لوسي تانیا انګلستان ته په پټه وسله وړله.

د لوسی تانیا غرقېدو المان او متحده ایالات د جګړې ډګر ته راښکیل کړل. لس میاشتې وروسته ترنځتیا ډېره شوه. د **۱۹۱۶**ز کال د مارچ په **۲۴**مه المانیانو فرانسوي ولاړه کښتۍ د مانش په بحیره کې غرقه کړه او یو ځل بیا د امریکا خلك ووژل شول.

لومړۍ نړیواله جګړه د نړۍ د تاریخ لومړنۍ هوایي جګړه وه. د جګړې په لومړیو مرحلو کې ډېرو

هېوادونو د دښمن د واحدونو موقعیت د معلوملو لپاره له الوتکو څخه ګټه اخیسته.

متحده ایالاتو او متفقینو یې د سمندري مراقبتي نظام په وسیله د المانیانو یرغلو ته ځواب ورکړ. یو شمېر کښتیو د څارنې لپاره یو له بله سره حرکت کاوه.

د **۱۹۱۸**ز کال په مارچ کې د برست لیتوفسک تر تړون **۱۸** ورځې وروسته الماني ځواکونه دې ته اړ شول چې له روسیې څخه لوېدیځې جبهې ته راشي. المانیانو په لوېدیځه جبهه کې وحشتناکه حمله پیل کړه. د درنې توپخانې په بمبارد او ګازي بمونو سره یې حمله وکړه. انګلیسي، فرانسوي او بلژیکي واحدونه یې د سیند لوري ته په شا کړل. د **۱۹۱۸**ز کا ل په سپتمبر کې بلغارستان له موقتې اوربندۍ سره موافقه وکړه. عثماني امپراتورۍ د اکتوبر تر پایه تسلیم شوه. د **۱۹۱۸**ز کال د نوامبر په درېیمه اتریش، مجارستان د اوربندۍ منل لاسلیک کړل، چې په جګړې کې د هغوی د لاسوهنې د پای مانا یې لرله.

د **۱۹۱۸**ز کال د نومبر په **۱۱**مه سهار سر تا سري اوربندي وشوه او په لوېدیځه جبهه کې د توپونو درزا غلې شوه. په پای کې تر څلورو کلونو وروسته لومړۍ نړیواله جګړه پای ته ورسېده.

د رسمي شمېرنو له مخې په لومړۍ نړیواله جګړه کې د ځمکنیو او سمندري قواو **۹،۱** میلیونه سرتیری ووژل شول او یا یې له ژوبلېدو او ناروغیو له امله ژوند له لاسه ورکړ. تر **۲۱** میلیونه ډېر پوځیان ژوبل، **۷،۴** میلیونه کسه بندیان یا ورک شول. دغه شمېرنه د ملکي خلکو په برخه کې نه ده.

## د جګړې اقتصادي پایلې:

د فرانسې، لهستان(پولند)، سربستان ډېرې شمال ختیځې برخې او د ایټالیا شمال ختیځې سیمې په کنډوالو بدلې شوې. یوازې په فرانسه کې **۴۸۰۰** کیلو متره ځنګلي ځمکه وسوځېده او د **۱۲۸۰۰** کیلو متره مربع په شاوخوا کې کرنیزه ځمکه یې له منځه لاړه. د وردن په شاوخوا کې تر جګړې وروسته تر یوه نسله پورې مېکانیزه کرنه ناشونې وه، له دې امله چې ټوله ځمکه د اوسپنو ټوټو نیولې وه. مادي زیان کلیوالي او ښاري خلک دواړه له اقتصادي ستونزو سره مخامخ کړل. بزګرانو تر یو میلیون

ډېر څاروي او حیوانات له لاسه ورکړل. په ښارونو کې تر ۶۰۰۰۰۰ ډېرې ودانۍ ورانې او یا زیانمنې شوې. پلونه، لویې لارې، تونلونه، د اورګاډي پټلي د تلګراف او ټیلیفون مزي له منځه لاړل.

لومړۍ نړیواله جګړه د بشریت په تاریخ کې تر ټولو ورانوونکې او د ډېر لګښت لرونکي جګړو څخه شمېرل کېږي. دې جګړې د روسیې، المان، اتریش، مجارستان او عثماني ترکیې امپراتورۍ له منځه یوورې. د رومانوف، هونسولرن او هاپسبورګ لړۍ له واکه لرې شوې. د اروپا او سهېل لوېدیځې اسیا د نقشو ډېرې برخې له سره وکښل شوې. فرانسوي امپراتوري د فاتحینو تر منځ وویشل شوه.

جګړې فرانسه او روسیه ورانه کړه. المان، بلژیک او انګلستان یې هم زیانمن کړل. د امریکا متحده ایالات انزوا او ګوښه والي ته ستون شو. لوړې او ناروغیو او جګړې ډېر تلفات را منځته کړل او د اروپا پخوانۍ امپراتورۍ یې یو له بله سره بېلې کړې. تر څلورو کلونو اوږدې جګړې وروسته سوله منځ ته راغله.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په ټولګي کې پر دووجلا ډلو ووېشل شي. لومړۍ ډله دې د جګړې پر علتونو او دویمه ډله دې د اروپایي هېوادونو د سیالیو په اړه یو له بله سره خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱ـ لومړۍ نړیواله جګړه په کوم کال کې پیښه شوه؟

۲ـ په دواړو جلا اتحادونو کې کومو هېوادونو ګډون درلود؟

۳ـ په دې جګړه کې کومو هېوادونو ډېر تلفات ولیدل؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د جګړې د پایلو په اړه د منابعو په مرسته معلومات تر لاسه او په ټولګي کې دې ووایي.

# دویمه نړیواله جګړه



آدولف هتلر

په دې لوست کې به د دویمې نړیوالې جګړې څخه د مخه د بحرانونو په اړه او همدارنګه د جګړې د لاملونو او پایلو په اړوند معلومات تر لاسه کړئ.

اقتصادي بحران او رکود د ۱۹۲۹- ۱۹۳۳ز کلونو تر منځ په المان کې په ډېره چټکتیا سره پراختیا ومندله. او دې بحران درې کاله دوام وکړ، په صنایعو کې پر سلو کې ۴۰ ټیټوالی راغی. د بیکارانو شمیر ۷.۵ میلونو تنو ته ورسید، واقعي مزد له ۲۵ څخه تر ۴۰ په سلو کې را ټیټ شو. کرنه د حوادثو قرباني شوه او یو شمیر بانکونه له ماتې سره مخامخ شول اقتصادي بحران د ویمار جمهوري جوړښت متزلزل کړ او د هیټلر د رامنځ ته کیدو لپاره یې په سیاسي ډګر کې زمینه برابره کړه.

ادولف هیټلر په ۱۸۸۹ز کال په اتریش کې زېږیدلی او د لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته یې د نازي ګوند جوړ او په ۱۹۲۰ز کال کې همدې ګوند مشرۍ تر لاسه کړه چې ملي ګرایي، افراط ګرایي، نژاد ګرایي او تیرۍ پر یهودو دهغه له اصولو څخه وو. نوموړی په لومړۍ نړیواله جګړه کې څو واري ټپي شوی وه د نازیو له ِشعارونو څخه یو هم دا وه ( نن آلمان سبا جهان)، هیټلر عقیده در لوده هر څوک چې په منځنۍ اروپا مسلط شي کولای شي پر ټوله اروپا او نړۍ تسلط پیدا کاندي.

د اروپا قدرت غوښتونکي واکمنان د سولې لپاره تهدید ګڼل کیدل. په شوروي اتحاد کې ستالین غوښتل

چې خپله واکمني پراخه کړي. د موسولیني په مغزو کې د روم د لرغوني امپراتورۍ خیال ګرځېده.
په **۱۹۳۶**ز کې د ملتونو ټولنه ببخي بې باوره شوې وه. د همدې کا ل په اکتوبر کې هټلر او موسولیني د روم ـ برلین محور جوړ او هغه یې (پولادي تړون) ونوماوه. لږ وروسته جاپان او ایټالیا د کمنترن تړون لاسلیک کړ، چې موخه یې د کمونېزم د پراخوالي مخنیوی و. د جاپان امپراتورۍ د **۱۹۳۷**م کال په دوبي کې د چین پر شمال یرغل وکړ. د ملتونو ټولنه یو ځل بیا ونه توانېده چې سوله وساتي. هټلر په **۱۹۳۸**ز کې اتریش له المان سره یو ځای کړ او وروسته یې د سودت الماني سیمې چې د وارسای دتړون له مخې د چکوسلواکیې برخه ګرځېدلې وې، بیرته د آلمان سره یو ځای کړې. هټلر او موسولیني دډسمبر په میاشت کې د انګلستان او فرانسې د لومړیووزیرانو سره د میونیخ په ښار کې وکتل.
د المان پوځ د **۱۹۳۹**ز کال د ډسمبر د میاشتې په لومړیو کې پر لهستان یرغل وکړ. د المان پوځ له پوځي تاکتیک څخه ګټه واخیسته او په چټکۍ سره یې د لهستان پوځ درې وړې کړ.
انګلستان او فرانسې په **۲۴** ساعتونو کې المان ته د جګړې اعلان وکړ او له دې سره بیا دویمه نړیواله جګړه پیل شوه. پخوا له دې چې په اروپا کې جګړه پیل شي، د ایټالیا دیکتاتور موسولیني ایتوپیا نیولی وه. د افریقا په شمال کې د مصر او سویز کانا ل پر سر جګړه ونښته. د سویز د کانال په نیولو چې هر یو بریالی شوی وای، له دې لارې یې کولای شول چې په مستقیمه توګه خپلې جنګي بېړۍ د اسیا جبهې ته ورسوي. هر هېواد چې شمالي افریقا نیولې وای، د منځني ختیځ ټولې د تیلو ذخېرې سیمې یې تر ولکې لاندې راتللې.
د متفقینو ځواکونو د مصر په دارالعین کې د نازیانو پرمختګ ودراوه او په **۱۹۴۰ز** کې یې د هغوی پر ضد یرغل پیل کړ او **۹۰۰۰** الماني پوځیان یې اسیر کړل. دویمه نړیواله جګړه چې په اروپا کې پیل شوه، نو المانیان ورته په بشپړه توګه تیار وو، جګړیز وسایل یې نوي او پوځیانو یې ښه زده کړه کړې وه. د **۱۹۳۹ز** کال په ډسمبر کې د المان لښکرو پر لهستان یرغل وکړ او د لهستان پوځ یې په څلورو اونیو کې دننه درې وړې کړ. په دې وخت کې شورویانو د هغه پټ تړون له مخې چې له المانیانو سره یې کړې و، د لهستان ختیځ یې ونیو. له لومړۍ نړیوا لې جګړې څخه وروسته فرانسې له المان سره خپله پوله پیاوړې کړې وه او په ختیځ کې یې د یرغل د مخنیوي لپاره د **۳۲۰** کیلو مترو په اندازه اوسپنیز سیمي استحکامات جوړ کړل. دغه استحکامات د یوه سیاستمدار په نامه، د ماژینو د خط په نامه ونومول شول. د دغو استحکاماتو

ډېره برخه د ځمکې لاندې جوړه شوې وه.

المان پر لهستان یرغل وکړ. فرانسوي ځواکونه د ماژینو په خط ځای پر ځای شول او انګلیسان د مانش له سمندرګي څخه تېر شول او د فرانسې په شمال کې دیره شول. دانګلیسانو سمندري ځواکونو د المان بندرونه محاصره کړل.

د جګړې په اوږدو کې شورویانو په ختیځ کې د لاتویا، استونیا او لېتوانیا دولتونه د بالتیک په حوزه کې اتحاد ته اړ کړل. شوروي واحدونو د فنلاند پوځ ته ماتې ورکړه او د روسیې پخوانۍ پولې یې پراخې کړې.

د ۱۹٤۰ز کال د اپریل په نهمه آلماني ځواکونو د هوا او ځمکې له لارې په دنمارك او ناروې یرغل وکړ. دنمارکیو پوځ نه درلود او فوراً تسلیم شول. ناروېژانو غوښتل جګړه وکړي خو د دریو اونیو په اوږدو کې تسلیم شول.

د **۱۹۴۰**ز کال د اپرېل پر لسمه نازیانو پر بلژیک او هالنډ یرغل وکړ. المانیانو له سمندري ځواک، پیاده، ټانك، بم غورځوونکو الوتکو او کوماندویي ځواك څخه ګټه اخیسته او د ماژینو د خط په شاو خوا کې ځای پر ځای شول.

المانیانو د همدغه کال په جون کې د لوېدیځ په جبهه کې خپل ځواکونه ځای پر ځای کړل او وروسته یې د شمالي دښتو له لارې پر فرانسې حمله وکړه. د ماژینو له خط څخه تېر شول او له شپږو اونیو څخه په لږه موده کې پاریس ته ورسېدل.

فرانسه د **۱۹۴۰**ز کال د جون په **۲۲**مه المان ته تسلیم شوه. مارشال هانري پتن د لومړي نړیوالې جګړې سپین ږیري او اتل نوی حکومت جوړ او له المان سره یې د ډزبندۍ تړون لاسلیك کړ. د تسلیمي د شرایطو پر بنسټ د فرانسې پوځ بې وسلې شو. المان د فرانسې په شمال کې پاریس ونیو. د فرانسې دولت د فرانسې سهېل ته چې اشغال شوی نه و، انتقا ل شو.

د انګلستان د خلکو مشري د وېنستون چرچل په نامه نوي صدراعظم په لاس کې واخیسته، انګلیسانو غوښتل چې جګړې ته دوام ورکړي.

د جګړې لمنه د بالکان شبه جزیرې ته هم ورسېده. موسولیني د **۱۹۴۰**ز کا ل په مني کې پر یونان یرغل وکړ. د **۱۹۴۰**ز کال د مني په پای کې مجارستان او رومانیه د محور له ځواکونو سره یو ځای

شول. د ۱۹۴۱ز کال په لومړيو کې بلغاريا له فاشيستانو سره يو ځای شوه. ۱۹۴۱ز په پسرلي کې نازيانو پر يوګوسلاويا يرغل وکړ او پر يونان پوره برياليي شول. په افريقا کې په مصر او سوماليه کې د ايټاليا ځواکونه له انګليسانو سره وجنګېدل. د ۱۹۴۱ز کال د پسرلي پورې ټوله شمالي افريقا د جګړې په صحنه بدله شوه.

له انګلستان سره جګړه اوږده شوه. د لوېديځې جبهې د برياليتوب په برخه کې هټلر ناهيلی شو، د دې پر ځای يې ختيځ ته پام شو او کمونيزم يې خپل اصلي دښمن وګاڼه. نوموړی په دې عقيده و، چې پر شوروي اتحاد برياليتوب، پر نړۍ د تسلط يو ګام دی او د جولايي پر ۲۲مه المان د روس په ضد عمليات پيل کړل. د المان واحدونو د ۳۲۰۰ کيلو مترو د جبهې په اوږدوالي د بالتيک له سيند څخه تر تور سمندرګي پورې پر شوروي يرغل وکړ. المانيانو د لهستان په ختيځ، د بالتيک سيمې او وروسته يې پر روسيې او يوکراين يرغل وکړ او په ۱۹۴۱ز کې د لېننګراد ښار محاصره پيل شوه، چې سل ورځې اوږده شوه. نازيانو د اکتوبر په مياشت کې يوکراين ونيو او کريمه ته داخل شول.

د ۱۹۴۱م کال په نوامبر کې الماني ځواکونه او تدارکاتي خطوط يې ډېر پراخه شول. د المان په لوی جګړيز ماشين کې شنيدلی حالت رامنځ ته شو.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي لومړۍ ډله دې د جګړې د لاملونو او دويمه ډله دې د ادلف هيټلر د ونډې په اړه په خپل منځ کې مباحثه وکړي او پايلي دې ټولګي ته وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱- دويمه نړيواله جګړه په کوم کال کې پيښه شوه؟

۲- محور ګروپ کومو هيوادونه ته ويل کيدل؟

۳- آلمان په کوم کال په شوروی اتحاد تيری وکړ؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې د خپلو ښوونکو او منابعو په مرسته د محور هيوادونو د ماتې په اړه معلومات تر لاسه او بيا دې ټولګيوالو ته وړاندې کړي.

# پر هند او چین باندې د جاپان یرغل



د جاپان یرغل د هندوچین په جزایرو، د محور ماتی او د دویمې نړیوالې جګړې د پایلو په اړه، په دې لوست کې به ورسره آشنا شئ.

په داسې حال کې چې د هټلر پوځ په ټوله اروپا کې خپرېده، جاپانیانو په ختیځ کې خپلو پر مختګ ته دوام ورکاوه او غوښتل یې چې پر پراخه سیمه مسلط او له ځمکې او منابعو څخه یې ګټه واخلي. جاپان په ۱۹۳۲ز کا ل کې منچوریا ونیوله. په ۱۹۳۷ز کا ل کې د جاپان او چین واحدونو د پیکن په شاوخوا کې یو له بله سره په جګړه بوخت وو. د جاپان پوځ ښار ونیو او وروسته یې د سهېل په لور حرکت وکړ او تر ۱۹۳۹ز کال پورې یې د چین خلورمه برخه ونیوله، خو چینایان تسلیم نه شول او خپله پلازمېنه یې یانګ تسه ته یووړه او په خورو ورو جګړو یې لاس پورې کړ.
جاپان په ۱۹۳۹ز کال کې د هانیان جزیره او هندوچین ساحل ته نیږدې نورې کوچنۍ جزیرې ونیولې. دغه بریالیتوب د انګلستان تدارکاتي مسیر له هانکانګ څخه تر سینګاپوره پورې په خطر کې واچاوه. دغو یرغلونو د امریکا متحده ایالات پریشانه کړل. د ۱۹۴۱ز کال په لومړیو کې یې له جاپان سره خپلې ټولې اړیکې پرې او په امریکا کې د دې هېواد پانګه ضبط شوه. د همدې کا ل په ډسمبر کې جاپانیانو په هاوایي او فلپین په جزیرو کې د امریکا پر مرکزونو او هم په هانګ کانګ او ملایا کې د انګلستان

پر پوځي مرکزونو یرغل وکړ. جاپان د امریکا پرالوتکو او هوایي هډو چې د آرام اقیانوس په پرل هاربر کې یې لنګر اچولی و، بمباري وکړه. جاپاني پیلوټانو ۱۸ جګړېیزې امریکایي کشتۍ او ۱۸۰ امریکایي الوتکې له منځه یووړې او د ۳۵۰۰ کسو په شاو خوا کې یې ووژل.

جاپانیانو په آرام سمندرکې د ۱۹۴۱ز کال د ډسمبر د حملو په ترڅ کې ډېر لوی امتیازات لاس ته راوړل. د ۱۹۴۲ز کال په لومړیو کې د هغو موخو د لاس ته راوړلولپاره چې هغه د اسیا د ختیځې برخې نیول وو، پر مخ روان وو. دجاپان امپراتورۍ د برما په جګړې کې پر مخ لاړه. ګورم، د ویک جزیره او د فلپاین جزایر یې ونیول. هانګ کانګ، سینګاپور، او د شرقي هند جزایرو هم سقوط وکړ. جاپاني ځواکونو پر بریتانیوي هند یرغل ته ځان چمتو کړ. په استرالیا، نیو زیلانډ او د هاوایي په جزیرو کې یې هم پر مختګ وکړ. داسې ښکاره کېده چې هټلر او موسولیني بریالیتوب تر لاسه کړ. د دې په مقابل کې د متفقینو د ځواکونو مشرانو (د انګلستان د صدراعظم چرچل، د شوروي د رهبر ستالین او د امریکا د جمهور رئیس روزولټ) په مشرۍ د تهاجمي یرغل لپاره یو له بل سره یو ځای شول. پرل هاربر له یرغل څخه وروسته د امریکا ګوښه والی پای ته ورسېد. د ۱۹۴۲ ز کا ل په می کې د امریکا او استرالیا هوایي او سمندري ځواکونو په آرام سمندر کې د جاپانیانو پرمختګ ودراوه. یوه میاشت وروسته د امریکا متحده ایالاتو د جاپان لویه کشتۍ چې ختیځ لورې ته د میدوې پر جزیرې د یرغل لپاره د حرکت په حال کې وه، ودروله. د امریکا متحده ایالاتو او جاپان د دریو ورځو لپاره د میدوې د جزیرې په شمال کې په هوا او سمندر کې سره وجنګیدل، چې په پای کې د امریکا متحده ایالات بریالی شوه.

## الف- د محور ځواکونو ماتې

د ۱۹۴۲م کال د نوامبر په میاشت د شوروي کلکو یرغلو المان شاتګ ته اړ کړ. هټلر خپلو پوځونو ته امر وکړ چې وجنګیږي، خو د ۱۹۴۳ز کال په جون کې د المان پوځونه تسلیم شول.

د ۱۹۴۳ز کال په دوبي کې انګلیسي - امریکایي ځواکونو سیسلي ونیوله. د همدې کا ل په وروستیو میاشتو کې متفقینو ورو ورو شمال ته پرمختګ کاوه. په آرام سمندر کې یې جاپانیان جزیره په جزیره شا تګ ته اړ کړ.

د ۱۹۴۳ز کال په نوامبر کې روزولټ، چرچل او ستالین په تهران کې سره وکتل. هغوی پر فرانسې د

متفقینو د یرغل پر نقشې سره خبرې وکړې. د دې نقشې پر بنسټ د متفقینو ځواکونه باید د مانش له بحیرې څخه تېر شوي او د نرماندي په سواحلو کې پیاده شوي وای.

په دې یرغل کې څه د پاسه له ۱۷۵۰۰۰ سرتیرو، او هم له ډېرو تجهیزاتو څخه کار واخستل شو. په نرماندي کې د ځواکونو تر پیاده کېدو ۱۰۰ ورځې وروسته، د ۲ میلیونو په شاوخوا کې سرتیري فرانسې ته داخل شول او د ۱۹۴۴ز کال د اگست په ۲۵ مه یې پاریس آزاد کړ.

شوروي پوځ د ۱۹۴۴ز کال په جون کې ستوني، لیتوانیا، لیتویا، رومانیه او بلغارستان ونیول او همدارنگه انگلیسانو المانیان د یونان له خاورې وویستل. د ۱۹۴۵ز کال په فبروری کې روزولټ، چرچل او ستالین په ایټالیا کې د تورې بحیرې په غاړه یو له بل سره ولیدل. همدارنگه مشرانو د دې هڅه وکړه چې په اروپا کې تر جگړې وروسته د مسایلو د حل لپاره توافق وکړي. هغوی د المان د وېش نقشه د نیول شوې سیمې په توگه وکښله. د فرانسې سرتیرو یې د متفقینو د مهمو ځواکونو لپاره سیمه مشخصه کړه. هغه اروپایي دولتونه چې له نازیانو څخه خپلواک شوي وو، باید د ځانونو لپاره یې حکومتونه انتخاب کړي وای. همدارنگه روزولټ دا ومنله، چې شوروي د ملگرو ملتونو له ټولنې سره یو ځای شي، نو په ختیځه اروپا کې به د دې هېواد امتیازات تضمین کړي.

د ۱۹۴۵ کال د می په لومړیو کې د برلین د ښار په سړکو کې تر خونړیو جگړو وروسته، دغه ښار د روسانو پر وړاندې سقوط وکړ. د هټلر ژوند د هغه تر ځمکې لاندې پټنځای کې پای ته ورسېد. د جاپان سره لا جگړه روانه وه. د ۱۹۴۵ز په اپریل کې روزولټ ناڅاپه مړ شو. هري ترومن چې جمهوري ریاست ته ورسېد، د مهنتن له پټې طرحې خبر شو چې یو شمیر پوهانو او مهندسانو د دغه نامه لاندې د لومړنی اتومي وسلې په جوړولو لگیا وو.

متفقینو د جولایي په ۲۶مه د جاپان حکومت ته الټیماتوم ورکړ او له هغه هېواد څخه یې وغوښتل چې تسلیم شي، خو جاپان الټیماتوم ونه مانه.

د ۱۹۴۵ز کال د اگست په۶ مه د امریکا د اوږده واټن الوتکې د جاپان د هیروشیما پر ښار بم وغورځاوه. دې بم د ښار تر ۶۰ مې برخې ډېره ورانه کړه او تر ۱۵۰۰۰۰ ډېر کسان یې ووژل. خو سره له دې بیاهم جاپان تسلیم نه شو. د ۱۹۴۵ز کال د اگست پر نهمه ـ B ۲۹ ډول الوتکې پر ناگاساکي بل بم راوغورځاوه او ۴۰۰۰۰ کسان یې ووژل. پاتې ۷۰۰۰۰ کسه په ډېره وحشتناکه توگه سوي وو.

جاپان د ۱۹۴۵ ز کال د سپتمبر پر دویمه تسلیم شو. د تسلیمۍ خبر ټولې نړۍ ته مخابره شو. د متفقینو ډېرو پلویانو د ډېرو لویو غونډو په ترڅ کې په لویو ښارونو کې خوشالۍ او جشنونه پیل کړل. په وروستیو اونیو کې روسیې منچوریا ونیوله. په اندونیزیا او ملایا کې جاپاني ځواکونه انگلستان ته تسلیم شول. د امریکاه متحده ایالاتو ځواکونو جاپان ونیو او چین یې آزاد کړ او په دې توگه په تاریخ کې تر ټولو خونړۍ جگړه پای ته ورسېده.

## ب- د دویمې نړیوالې جگړې پایلې

دویمې نړیوالې جگړې ډېر مالي او ځاني زیانونه رامنځ ته کړل. په دې جگړه کې له ۴۰ ـ ۵۰ میلیونو پورې انسانان ووژ ل شول. د امریکا متحده ایالاتو خپل ۳۰۰۰۰۰ ځواکونه له لاسه ورکړل. د جگړې لگښت تر یو ټریلیون ډالرو ډېر و. ۲۳۰ میلیارده ډالر د محور هېوادونو ولگول. د امریکا متحده ایالاتو له ۳۱۷ ـ ۳۴۱ میلیاردو ډالرو پورې ولگول. لویو ښارونو لکه وارسا، لندن او برلېن ډېر درانده زیانونه ولیدل. هېروشیما او ناگاساکي کابو بېخي له منځه لاړل. د اروپا او آسیا ټولو خلکو خپل کورونه، کروندې او همدارنگه دندې له لاسه ورکړې. کلیساگانې، کارخانې، سړکونه، د اوسپنو لارې او بندري تاسیسات د بمباریو او د توپونو د اور له امله وران شول. د نړۍ د ډېرو هېوادونو پرمختگ او وده د خپل اصلي مسیر څخه منحرفه شوه.

### په ټولگي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وېشل شي لومړۍ ډله دې د رهبرانو ونډې لکه روزولت، چرچل او ستالین د محور هیوادونو په ماتې کې او دویمه ډله دې د جگړې د پایلو په اړه په خپل منځ کې مباحثه وکړي او پایلې دې ټولگیوالو ته وړاندې کړي.

### پوښتنې

۱ـ د امریکې متحده ایالاتو څرنگه په جگړه کې گډون وکړ؟
۲- جاپان ولې په دویمه نړیواله جگړه کې امریکې ته تسلیم شو؟

### له ټولگي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د اروپا نقشه رسم او پرمخ دې د محور او متفق هیوادونه په نښه کړي.

# د ملګرو ملتو د سازمان جوړېدل



په دې لوست کې به د ملګرو ملتونو د سازمان د رامنځ ته کېدو او د هغه د ضرورت په اړه معلومات تر لاسه کړئ.

د ۱۹٤٥ز کال په اوږدو کې د متفق هیوادونو استازو له جګړې څخه وروسته د نړۍ د موقعیت په اړه د تصمیم نیولو لپاره لیدنه وکړه. هغوی په دې توافق وکړ چې داسې نړیوا ل سازمان جوړ شي، چې ټول خپل ځانونه د هېوادونو په منځ کې د سولې او همکارۍ لپاره متعهد وساتي او هم د هغو خلکو په برخه کې چې د محور هېوادونو څواک یې جوړاوه، د سرنوشت په اړه یې تصمیم ونیسي. متفقینو ملګري ملتونه جوړ کړل. د متفقو پنځوسو هېوادونو استازیو په سانفرانسیسکو کې د ۱۹۴۵ز کا ل له اپریل څخه تر جونه پورې سره ولیدل. هغوی د نړیوال سازمان د منشور په برخه کې توافق ته ورسېدل. دا منشور په ۱۹ فصلونو او ۱۱۱ مادو کې تدوین شو او د لاهې د نړیوالې محکمې د دیوان اساسنامه د دغو ۵۰ هېوادونو لاینفک برخه شوه. غړیو هېوادونو په دې توافق وکړ چې د سولې د ساتنې او پرمختلنې لپاره به د ټولو ملتونو حقوق او حاکمیت په مساوي توګه په پام کې ساتي او نړیواله همکاري یې هم تضمین کوی.

د ملګرو ملتونو سازمان لویه شورا لري. عمومي شورا د ټولو غړیو هېوادونو له استازیو جوړېږي، خو

ربښتینې ځواک د امنیت له شورا سره دی. د امریکا متحده ایالات، انګلستان، فرانسه، روسیه او چین په دې شورا کې دایمي څوکۍ لري. شپږ نور هېوادونه په دوراني توګه ټاکل کېږي.

د امنیت د شورا رایه په اکثریت ولاړه وي. د پرېکړې د تصویب په صورت کې د پنځو دایمي هېوادونو رایه د اکثریت رایې یوه برخه وي. په دې توګه له دغو پنځو لویو هېوادونو څخه هر یو د دې شورا د پرېکړې د ویټو حق لري. اقتصادي او اجتماعي شورا، نړیواله محکمه او سرمنشي، د ملګرو ملتونو اصلي جوړښت تشکیلوي. متفقینو پرته له ملګرو ملتونو، د جګړې د وضعیت د ژر اداره کولو او په راتلونکې کې د پراختیا او ودې لپاره نور ګڼ شمېر سازمانونه هم جوړ کړل، چې بېلابېل فعالیتونه د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې تر سره کوي.

د ملګرو ملتونو د سازمان په جوړېدو کې د ډېرو اقداماتو لاس دی، چې هر یو په کې اغېزمنه ونډه اخیستې ده. د دې اقداماتو له جملې څخه کولای شو، چې په زماني ترتیب سره د بین المتحدینو د اعلامیې خپریدل، اتلانتیک منشور، د ملګرو ملتونو اعلامیه، د مسکو او تهران کنفرانسونه، د دامبارټن اوکس او یالتا کنفرانس او په پای کې د سانفرانسیسکو کنفرانس ته اشاره وکړو.

## په ټولګي کې فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د نړیوالو سازمانونو او دویمه دې د دې سازمان د موخو په برخه کې یو له بله سره خبرې او مشاجرې وکړي او پایله دې په ټولګي کې ووایي.

## پوښتنې

۱ـ د ملګرو ملتونو ټولنه څنګه جوړه شوه؟

۲ـ څو هېوادونه د امنیت د شورا دایمي غړي دي؟

۳ـ د ملګرو ملتونو ټولنه په کوم کال کې جوړه شوه؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زده کوونکي دې د دیرشو هیوادونو لیست ترتیب کړي چې د ملګرو ملتونو غړیتوب ولري او په ټولګي کې دې ووایې.

# د شوروي اتحاد له منځه تلل




يو شمېر بهرني او داخلي عوامل چې د شوروي اتحاد د له منځه تلنې سبب شول، په لاندې توګه به ورسره آشنا شئ.

## الف: کورني لاملونه

په شوروي اتحاد کې مارکسيستي او لېنينستي نظام له ۱۹۱۷ـ۱۹۹۱ ز پورې سره له دې چې د سوسياليزم د تحقق لپاره ورته ډېرې هڅې وشوې، له منځه لاړ. د هغو نظريو پر بنسټ چې د مارکسېزم د پلويانو او د هغوی د مخا لفينو له خوا ځرګندې شوې، نو دا ترې جوتېږي، چې د شوروي اتحاد سياسي، اقتصادي او ټولنيز نظام په دې ونه توانېد، چې د روسيې د خلکو اړتياوې پوره کړي. د مارکسيستي نظرياتو څخه په روسي انقلابي بڼه او د سياسي فرهنګ د دوام له امله داسې يو ترکيب رامنځ ته شو، چې يو له بله سره يې هېڅ ډول هماهنګي نه درلوده. سره له دې چې روسيه يې په يوه لوی ځواک بدله کړه، خو د انسانانو له فطري خصوصيت سره د توپير له امله په پای کې له منځه تلو سره مخامخ شو.

د شوروي اتحاد اقتدار غوښتونکی سياسي نظام، چې کمونېست ګوند يې د کارګر د استازي په نامه پر

هېواد واکمن کړی و، له شدید کنترول او د ډول ډول ځکولو او اختناق سره سره، په پای کې د میلیتونو د اعتراضاتو په وړاندې چې کلونه کلونه یې د مرکزي حکومت د واکمنۍ لاندې ژوند تېر کړی و، ټینګار ونه شو کړای او هغه پراخ ټولنیز بدلونونه، په ځانګړې توګه هغه زاړه فردي روشونه او وېشنه چې ټولنه تري جوړه شوې وه او د کمونېست ګوند منشي تطبیقوله، د ۱۹۸۰ز د لسیزې بدلونونه یې چټک کړل، چې په پای کې د میلیتونو د زندان ور پرانیستل شو.


ریګن او ګورباچوف

پر شوروي اتحاد حاکم نظام چې د کمونېزم د نظریو تر رهبرۍ لاندې په ځانګړې توګه د ستالین په وسیله رامنځ ته شو، پخپله د دې نظام د له منځه تلنې سبب و. داسې نظام چې پر اداري او اقتصادي چارو یې بشپړ امرانه کنترول درلود، د ټیټو او منځنیو طبقو فردي ګټې له منځه وړلې او د انسان د فطرت ځانګړتیاوې یې نه منلې. د شوروي اتحاد د صنعتي لاس ته راوړنو سره سره یې د خلکو عادي ورځنۍ اړتیاوې نه شوې پوره کولای او هغه اقتصادي او انساني منابع یې چې درلودې، له هغوی څخه یې په پوځي برخوکې ګټه واخیسته.

د امریکایانو فشار او له پردیو څخه وېره چې په روسي ټولنه کې یې ریښه درلوده، د داخلي ناخوالو د پټولو لپاره به یې په افراطي توګه ورته پاملرنه کوله. فدرالي نظام به ادعا کوله چې د ټولو میلیتونو او قومونو بشپړ حقوق په پام کې نیول کېږي، خو په عمل کې یې توپیر درلود، چې دغه تبعیض په

میلیتونو کې ناخوښي او نارضایتي رامنځ ته کړه. سره له دې چې گورباچوف ډېره هڅه وکړه چې دا تبعیض له منځه یوسي، خو بریالی نه شو، تر دې چې د نظام د له منځه تلنې زمینه په تدریج سره تیاره شوه.

په پای کې په ۱۹۹۱ز کال کې د شوروي سیاسي، اقتصادي او ټولنیز نظام سره د دې چې ۷۴ کاله یې ډېرې هڅې وکړې، خو د سوسیالېزم پر تداوم او عملي کېدنه بریالی نه شو په پایله کې له منځه لاړ.

## ب ـ بهرني لاملونه

د دویمې نړیوالې جگړې تر پای وروسته، سوړ جنگ پیل شو، ځکه په دې موده کې کومه نړیواله جگړه رامنځ ته نه شوه. او لویو ځواکونو یو د بل پر ضد تبلیغات پیل کړل او تسلیحاتي سیالۍ پیل شوې او هر یوه هڅه کوله چې ورانوونکې وسله جوړه کړي. لوېدیځو هېوادونو د امریکا په مشرۍ د کمونېزم د خپراوي پر ضد پراخه تبلیغات پیل کړل او په شوروي اتحاد کې یې کمونیستي نظام تخریباوه.

فضایي سیالۍ او رقابتونه هم د شوروي اتحاد د له منځه تلنې سبب گڼل کېږي، ځکه چې د هرې فضایي بېړۍ لپاره په میلیاردونو امریکایي ډالر لگول کېده او د شوروي اتحاد لپاره د هرې مصنوعي سپوږمۍ جوړول او توغول ورته ډېر گران تمامېده.

شوروي اتحاد افغانستان په ۱۹۷۸ز کې اشغال کړ، شوروي اتحاد دا فکر نه کاوه چې دا جگړه به اوږده شي او د غیرتمنو افغانانو له داسې مقاومت سره به مخامخ شي. د روسانو د تر اشغال وروسته افغانستان سره اسلامي او لوېدیځو دولتونو مرسته کوله او شوروي اتحاد په دې جگړې کې ډېر لگښتونه وکړل، چې د هغه کمزوری اقتصاد یې لا پسې کمزوری کړ. د شوروي اتحاد په له منځه وړنې کې ځاني تلفات هم له سترو عواملو څخه گڼل کېږي، ځکه د ځوانانو وژنه او معیوب کېدنه د خلکو د کرکې

سبب شوه او له افغانستان څخه د قواوو د ويستلو غوښتونکي شول. په پای کې شوروي اتحاد په افغانستان کې ماتې وخوړه او خپل ځواکونه يې له افغانستانه بهر کړل.

پورتنيو کورنيو او بهرنيو لاملو د شوروي اتحاد د له منځه وړنې لپاره مناسب شرايط برابر کړل، چې حاکم نظام په خپلو ټولو هڅو سره په دې ونه توانېد چې مخه يې ونيسي، چې په پای کې د کمونست ګوند تر اوږده حاکميت وروسته پر پنځلسو جمهوريتونو شوروي اتحاد وپاشل شو. سوسياليستي نظام له منځه لاړ او ډېرو جمهوريتونو خپله خپلواکي اعلان کړه.

## په ټولګي کې فعاليت

زده کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي. لومړنۍ ډله دې د سوسياليستي نظام پر ماهيت او دويمه ډله دې د شورروي اتحاد د له منځه تلنې پر کورنۍ لاملونو خبرې وکړي او پايله دې په ټولګي کې ووايي.

## پوښتنې

۱ـ د روسيې کارګري انقلاب په کوم کال کې رامنځ ته شو؟

۲ـ شوروي سوسياليستي نظام په کوم کال کې له منځه لاړ؟

۳ـ په ۱۹۸۰ ز لسيزه کې په شوروي کې کوم بدلونونه رامنځ ته شول؟

۴ـ شوروي نظام څو کاله دوام وکړ او څو جمهوريتونه يې لرل؟

۵- د افغانستان مسلمان ملت د شوروي او کمونيزم په نابودي کې کومه ونډه ولوبوله په لنډه توګه ووايي.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت

زده کوونکي دې له مشرانو او فرهنګي شخصيتونو څخه د شوروي اتحاد په له منځه تللو کې د بهرنيو لاملونو په اړه معلوما ت تر لاسه او بيا دې په ټولګي کې ووايي.

# د جغرافيې برخه

## لومړی څپرکي: کرنه او مالداري

### لومړی لوست   د کرنې ارزښت او ډولونه



١- شکل

په افغانستان کې د ځمکې د قولبې (یوې) او کرنې عنعنوي لارې چارې

د کرنې د حیاتي او اقتصادي ارزښت په هکله څومره پوهیږئ؟

په کرونده کې کرنه د غلو دانو، سبو او نباتي لومړنیو توکو د تخمونو له شیندلو څخه عبارت ده، تخمونه له موسم او اوبو او خاورې له سمون سره د کال په بیلابیلو وختونو کې په للمي یا ابي کروندو کې په دودیزو یا میکانیزه وسایلو کرل کیږي او د بشر د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ترې حاصل اخلي.

کرنه زموږ د هیواد د ملي اقتصاد یوه مهمه او بنسټیزه برخه ده او د هغې ځینې حاصلات، لکه: میوې، زعفران او نور د صادراتو او عایداتو لویه سرچینه جوړوي.

له تاریخي پلوه د کرنې خوراکي توکي له ډیر پخوا څخه د انسانانو د استفادې وړ گرځیدلي دي. کرنه او مالداري زموږ د زیاتره خلکو کار او دنده ده. کرنیز حاصلات نه یوازې دا چې د وگړو د لومړنیو اړتیاو و په پوره کولو کې ارزښت لري، بلکې د سپکو صنایعو او خوراکي توکو په پرمختیا او د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې ورڅخه هم گټه اخیستل کیږي. د ځینو کرنیزو

حاصلاتو له خرڅلاو څخه د یوشمیر اړتیاوو د پوره کولو لپاره پیسې ترلاسه کوو.

کرنه د حبوباتو، سبزیجاتو او لومړنیو نباتي موادو د تخمونو د کرلو او شیندلو لپاره دځمکې له تیارولو څخه عبارت ده چې له اقلیم، مساعدو اوبو او خاورې سره په توافق د دودیزې او یا معاصرې ټکنالوژۍ د وسایلو پواسطه په آبي او للمي ډول سرته رسیږي او د کال په بیلا بیلو فصلونو کې له ځمکې څخه مطلوب حاصلات اخلي. زموږ په کرنیز هیواد افغانستان کې بیلابیلې غلې دانې، ډول ډول میوې، صنعتي او غوړلرونکي بوټي، بیلابیل سابه، واښه (شوتله او ریشقه)، یو شمیر طبي بوټي، لکه زعفران او نور کرل کیږي.

هغه لاملونه چې د کرنیزو تولیداتو پر څرنګوالي باندې اغیزه لري، فزیکي، ټولنیز، اقتصادي او سیاسي لاملونه دي. د خاورې څرنګوالی، د ځمکې جوړښت او بڼه، اقلیم او د اوبو سرچینې فزیکي لاملونه بلل کیږي چې د کرنیزو حاصلاتو پر څرنګوالي او څومره والي په نیغه باندې اغیزه کوي.

د ژمي د واورې اوربښت او پسرلني بارانونه د لوړو سیمو او د غرونو د لمنو د خاورو لرونکو طبقو په لند بل کې ګټور او د ونو ـ بوټو په وده او د هغو د ریښو په پیاوړتیا په تیره د للمي غنمو په تولید کې اغیزه لري.



۲- شکل

په افغانستان کې د ځمکو اوبه کولو لارې چارې چې زیاتره په دودیزه غیر فني او نا منظمه توګه ترسره کېږي.

# د کرنې لارې چارې

زمونږ په هیواد کې له ډېر پخوا راهیسې کرنه په دودیز ډول، پر څارویو باندې یوې کول او درانه کارونه د بزګر په مټ پر مخ وړل کیږي، خو د هغې لږ حاصل زمونږ د هیواد د ورځ په ورځ زیاتیدونکي نفوس لګښت نه پوره کوي، نو ځکه هر کال یوه زیاته اندازه غله له بهر څخه واردیږي.

**پخوانی طریقه**: د افغانستان دغه ډول کرنه زیاتره دودیزه کرنه ده چې موخه یې یوازې د بزګرانو د اړتیا پوره کول دي.

څرنګه چې په دودیزه کرنه کې د بزګر د کورنۍ د لومړنیو خوراکي توکو چمتو کول له لومړنیو اړتیاوو څخه ګڼل کیږي، نو ددې موخې لپاره په سلوکې له ٦٠ څخه تر ٨٠ پورې ځمکې او کار د غلې دانې د حاصل لپاره ځانګړې شوې دي، په دودیزه کرنه کې ځمکه د کار ځواک، کرنیز وسایل او تخم په لومړنۍ بڼه وي چې ټول د بزګرانو لخوا چمتو کیږي. بزګران خپل ډېره لږه اندازه تولید شوی حاصل بازار ته وړاندې کوي چې د هغو په پیسو خپلې اړتیاوې پوره کوي.

**د کرنې پرمختللې او عصري طریقه**: په پرمختللې او عصري کرنه باندې د وروسته پاتې عنعنوي کرنې د بدلولو لپاره د شرایطو او اسانتیاوو د برابرولو په خاطر لاندې امکانات بنسټیز رول لري: مواصلاتي کرښې او د حمل او نقل وسایل، بریښنا، د اوبو لګولو سیستم، بازار موندنه، اړیکې، کرنیز اصلاح شوي تخمونه، سره، د ونو ـ بوټو د ناروغیو او نباتي افاتو ضد دارو، کرنیز ماشینونه، د څېړنو، ترویج او د نباتاتو د ساتنې خدمتونه او نور.

د عصري او پرمختللې کرنې نورې ځانګړتیاوې دا دي چې په کارونو کې آسانتیا او په تولیداتو کې زیاتوالي لاسته راوړي.

د عصري کرنې په لارو ـ چارو کې کرنیز ماشینونه په کار کې اسانتیا راولي او د تولید اندازه لوړوي.

د بندونو جوړول او د ویالو کیندل، د ژورو څاګانو ایستل او د پراخو شاړو ځمکو تر کرنې لاندې راوستل د تولیداتو د زیاتیدو او پر خپل ځان د هیواد د بسیا کیدو لامل کیدای شي.

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په څلورو ډلو کې تنظیم شي له خبرو اترو وروسته دې لنډ ځواب ووايي:

بیا د هرې ډلې استازي دې د خپلې ډلې د کار په هکله د ټولګي په مخکې نورو زده کوونکو ته معلومات ورکړي.

لومړۍ ډله دې د کرنیزو بوټو او د هغو د حیاتي ګټو په هکله او دویمه ډله دې زموږ په هیواد کې د کرنې د اقتصادي ارزښت په هکله بحث وکړي.

دریمه ډله: ستره موخه په عنعنوی کرنه کې څه ده؟

څلورمه ډله: ستره موخه په عصري او پر مختللې کرنه کې څه ده؟

## پوښتنې

۱ـ کرنه څه ډول فعالیت دی، تعریف یې کړئ.

۲ـ کرنه څه اقتصادي ارزښت لري؟ توضیح یې کړئ.

۳ـ غنم څو ډوله کرل کیږي؟

پوښتنې په غور ولولئ، دسم ځواب مخې ته يې(ص) او د غلط ځواب مخې ته یې (غ) ولیکئ.

۱- په عنعنوي کرنه کې تولیدات او کرنیز حاصلات ډیریږي(   )

۲- په عصري او ماشیني کرنه کې تولیدات او حاصل لږ او د یادولو وړنه وي.(          )

۳- اقلیمي شرایط هم د کرنې پر تولیداتو اغیز لري(   )

## له ټولګي څخه د باندې فعالیتونه

زده کوونکي دې د خپلې کورنۍ له غړو سره له مشورې څخه وروسته د لاندې پوښتنو لنډ ځواب ولیکي او په راتلونکي ساعت کې دې په ټولګي کې بیان کړي.

ماشیني کرنه به زموږ د هیواد په عنعنوي کرنه کې څه ډول اغیز وکړي.

# دویم لوست

## مهم کرنيز توليدات



په يوه کروندہ کې د پنبې د محصولاتو راټولول

زموږ د هيواد طبيعي شرايط د کومو کرنيزو بوټو کرلوته برابر دي؟

افغانستان چې بيلابيلې اقليمي سيمې لري د بيلابيلو ونو ـ بوټو د کرلو وړتيا لري. د افغانستان له ټولو زيات کرنيز توليدات غلې ـ دانې (غنم، وريجې، جوار او وربشې) دي چې په پراخه کرنيزه ساحه کې کرل کيږي او لوړ ارزښت لري. دغه غلې د کرنې وړ په سلوکې ۸۳ آبي ځمکه او نوره للمي ځمکه نيسي. نورې ونې او بوټي، لکه: ميوې، سابه او صنعتي بوټي، لکه: چغندر، پنبه، د څارويو لپاره واښه او نور په ۴۳۰ زره هکتاره آبي کرنيزه ځمکه کې کرل کيږي.

ـ زموږ په هيواد کې د ټولو کرنيزو توليداتو پرتله هغه څه چې د وګړو خوراکي اړتيا پوره کوي، غنم دي، چې زموږ د خلکو د خوراک بنسټيز توکي دي.

غنم تر ډيره پورې په جغرافيايي منځنيو عرض البلدونو کې وده کوي چې له دې پلوه افغانستان د غنمو د کرلو او ودې تر ټولو غوره طبيعي شرايط لري. غنم د افغانستان له ۳۰۰۰ څخه تر ۳۳۰۰ مترو پورې په بيلابيلو لوړو سيمو کې کرل کيږي او د افغانستان په سلوکې له (۵۰ څخه تر ۶۰) ځمکې يې نيولې دي، په داسې حال کې چې د کرنې وړ ځمکو په سلوکې ۹۰ برخه يې نيولې ده.

زموږ هيواد د پستو يا په منې کې د کرل کيدونکو اوبيزو غنمو او د للمي يا د کلکو پسرلنيو غنمو د بيلابيلو ډولونو د لرلو له کبله په ټولو هيوادوکې لومړی ځای لري.

د روسي عالم (وايولوف) د څيړنې له مخې د افغانستان شمال سيمې په آسيا کې د پستو غنمو د ودې لومړنی مرکز دی چې د غنمو په سلوکې د (۵۷) ډولونو په لرلو سره په ټوله نړۍ کې لومړی ځای لري. دغه ډول غنم په منې کې په ابي ځمکو کې کرل کيږي.

په افغانستان کې د غنمو ډېره برخه په ابي ځمکو کې کېږي چې د للمي په پرتله یې د حاصل اندازه ډېره زیاته ده. د غنمو له دوه پر دریمې برخې څخه زیات یې بیرته په تولیدوونکو سیمو کې خوړل کېږي، یوازې دریمه برخه یې د هیواد دننه مارکیټونو ته د پلورلو لپاره وړل کېږي. د للمي غنمو د کرلو ډېرې پراخې ځمکې د هیواد په شمال کې دي، خو په آبي توګه غنم په جنوبي، مرکزي او جنوب لویدیځو سیمو کې کرل کېږي.

- له غنمو څخه وروسته وریجې د افغانستان مهمه غله او د خلکو د خوراک اړین توکی دي.

وریجې زیاتره په هغو ځایونو کې کرل کېږي چې توده هوا او ډېرې اوبه ولري. په افغانستان کې هم وریجې په هغو ټیټو سیمو کې چې توده هوا او پریمانه اوبه لري، کرل کېږي چې دوه ډولونه لري: نرۍ وریجې او غټې وریجې.

د غټو وریجو په پرتله د نریو وریجو بیه، د تولیداتو اندازه او لګښت زیات دی. نرۍ وریجې د هیواد ختیځو ولایتونو یعنې لغمان، کونړ او ننګرهار اوبه شمالي ولایتونو لکه بغلان، کندز او تخار کې ډېرې کرل کېږي. غټې وریجې معمولاً په میدان وردګ، لوګر، بغلان او تخار ولایتونو کې کرل کېږي.

- جوار هم په تودو او اوبه لرونکو سیمو کې کرل کېږي. د جوارو تولیدات، پخوا په ډېرو ولایتونو کې مصرفیدل او د یو شمیر خلکو خوراکي توکي بلل کیدل، خوپه دې وروستیو کې دهغو د کرلو ساحه کوچنۍ شوې ده او د خلکو د خوراکي توکو په توګه ورڅخه ډیر کار نه اخېستل کېږي.

جوار په پکتیا، پکتیکا، ننګرهار او لوګر کې ډېر کرل کېږي.

- وربشې هم په تودو او اوبه لرونکو سیمو کې کرل کېږي، خو د غنمو پرتله په سړو سیمو کې ښه وده کوي. وربشې زیاتره څارویو ته ورکول کېږي.

زموږ د هیواد په ګڼ شمیر سیمو کې یو شمیر نورې غلې - دانې لکه مۍ، لوبیا، نخود، مشنګ او باقلي هم کرل کېږي.

- سابه هم په افغانستان کې مهم خوراکي توکي دي. په افغانستان کې مهم کرل کیدونکي سابه دا دي: کچالو (پټاټې) ، پیاز ، تور بانجان، رومي بانجان، ګازرې، شلغم (ټیپر) پالک، کدو، ګلپي، مرچک، لیرو (بینډۍ)، کاهو او نور.

- میوې هم زموږ د هیواد غوره کرنیز تولیدات دي. د افغانستان طبیعي شرایط د میوه لرونکو بیلابیلو ونو د ودې او روزنې لپاره ډیر غوره دي. میوې د کورنیو اړتیاوو له پوره کولو سربېره بهر ته هم صادرېږي.

افغانستان د بیلابیلو پاېرېژو او ستروس میوو د لرلو له مخې زیات نوم لري چې هم له تازه انګورو، مڼو، خټکیو، هندواڼو، انارو، ناکو، بهي او نورو اوهم یې له وچو لکه بادامو، ممیزو، پستې، غوزانو او نورو څخه استفاده کېږي او بهرته هم لیږل کېږي.

ـ صنعتي بوټي هم لکه: ګني، جغندراو پنبه د هیواد په بیلابیلو سیمو کې کرل کیږي. افغانستان په نړۍ کې د پنبې د کرلو سیمه ده، هغه سیمې چې توده هوا اوپوره اوبه ولري، د پنبې لپاره غوره بریښي. د هغې کرل د هیواد په شمال، لویدیځ او ختیځ کې رواج لري.
جغندر هم له پخوا څخه زموږ په هیواد کې کرل کیږي، په پخوا کلونو کې يې په کندز او بغلان کې کرل زيات رواج و او د بغلان د بورې (شکرې) په فابريکه کې ور څخه استفاده کيده.
ګني د ننګرهار، کونړ، لغمان او پکتيا ولایتونو کې په یوه محدوده ساحه کې کرل کیږي، د جلال آباد شاوخوا کې يې کرنه ډيره رواج ده چې د ګوړې په جوړولو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي.
ـ زموږ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې بیلابیل طبي بوټي هم وده کوي چې زموږ خلک له هغو څخه له ډیر پخوا راهیسې په ډیرو لومړنیو بڼو کار اخلي، یو شمیر دغه بوټي بهرته هم استول کیږي، هغه بوټي چې په یوناني طب کې ورڅخه کار اخیستل کیږي او یاهم د معاصرو درمل جوړونې په صنعت کې کارول کیږي دا دي: زعفران، خوږه ولې، شمکۍ او نور.
زموږ د هیواد یو شمیر سیمو کې غوړ لرونکي بوټي، لکه: زغر، شرشم، کُونځلې، لمرګلی او نور هم کرل کیږي.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په څلورو ډلو ویشل شي، لومړۍ ډله د غنمو او میوو په هکله، دویمه ډله د وریجو او جوارو د کرنې په هکله، دریمه ډله د اوربشو او سبو په اړه او څلورمه ډله دې د صنعتي او طبي بوټو په هکله سره بحث وکړي او پایله دې خپلو ټولګیوالو ته و وایي.

## پوښتنې

۱ ـ کوم ډول کرنيز بوټي زموږ په هیواد کې په پراخه اندازه کرل کیږي؟ د هغو په اړه توضیحات ورکړئ.
۲ ـ وریجې په څو ډوله دي او د هیواد په کومو سیمو کې او په څه ډول طبیعي شرایطو کې کرل کیږي؟
۳ ـ د هیواد څو ډوله میوې پیژنئ، د هغو د ارزښت په اړه معلومات ورکړئ.
٤ ـ صنعتي بوټي یعنې څه اوڅو ډوله یې پیژنئ، نوم يې واخلئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسې د اوسیدلو له سیمې څخه کوم ډول کرنيز محصولات ترلاسه کیږي، د هغو کرلو کې کومې ستونزې تر سترګو کیږي، ستاسې د سیمې کرنه به څرنګه پرمختګ وکړي چې د بزګرانو او د هیواد اقتصاد مو پیاوړی شي. په دې اړه په یوه پاڼه کې لیکنه وکړئ او په ټولګي کې د هغې په هکله خبرې وکړئ.

# مالداري او د وحشي ځارويو ډولونه




د ځارويو روزنه او ساتنه زموږ د خلکو په ژوند کې څومره ارزښت لري؟

مالداري او د ځارويو روزنه په افغانستان کې ډېر لرغونتوب لري. کله چې د ځارويو ښکار کول مخ په کمښت شول اويا بشپړ ودريدل. خلکو یو نوی ډول ژوند پیل کړ او د ځارويو په ساتنه او روزنه بوخت شول. له هغه وخته تر اوسه پورې ډېرې پیړۍ تیرې شوي دي او خلکو همدغه ډول ژوند ته دوام ورکړی دی.

زموږ د هیواد په ټولو سیمو کې د غرونو لمنو او خاورینو غونډیو د ځارويو روزنې او ساتنې ته ډیر غوره شرایط چمتو کړي دي او تر اوسه پورې یې زموږ یو زیات شمیر وګړي د ژوند په زیاته موده کې په همدغه ډول بوخت کړي دي.

په افغانستان کې په سلوکې د ۸۰ په شاوخوا وګړي په کرنه بوخت دي، هیڅ داسې یو بزګر نشته چې د ځارويو په ساتنه بوخت نه وي، سربېره پر دې، زموږ یو شمیر خلک، په تیره بیا کوچیان په بشپړ ډول د ځارويو په ساتنه بوخت دي او همدایې د ژوند اړتیاوې پوره کوي.

د څرنګوالي له پلوه د ځارويو د روزنې یا مالدارۍ ارزښت په دې کې دی چې زموږ د خلکو د اقتصاد په پرمختیا کې مهم رول لري.

سربېره پردې خلک له ځارويو څخه د کار ځواک د تولید، باروړلو، د پوستکي د ترلاسه کولو، وړيو او نورو لپاره هم کار اخلي. د ځارويو یو شمیر محصولات، لکه: وړی، د پسونو او غویانو

پوستکي، قره قل پوستکي او کولمې د خپلې بيې له پلوه د هيواد د صادراتو په سلوکې(۱۰ ـ ۲۰) پورې جوړوي.
همدارنگه د غاليو صادرات او د وړيو صنايع، پوستين باب او د پوستکو صنايع هم د افغانستان په صادراتو کې د پام وړ برخه لري.
هغه کورني ژاروي چې بزگران او مالداران يې ساتي دا دي: پسونه، غواوې، وزې، خره، اوښان، اس، کچرې او کورني چرگان. د کورنيو ژارويو په ډله کې تر ټولو زيات قره قل پسونه او عادي پسونه د هيواد په اقتصاد کې ډير غوره ارزښت لري او د ژارويو د محصولاتو په صادراتو کې يې برخه ډيره ده.
لکه چې د ژارويو روزنې په (I) نقشه کې ښکاري، د پسونو روزنه څه ناځه د هيواد په ټولو برخو کې ترسترگو کيږي، خو قره قل پسونه يوازې شمالي ولايتونو کې له بدخشان څخه تر هرات پورې ډير دي. وزې هم په ټول هيواد کې روزل کيږي.
که چيرې د ژارويو روزنې (II) نقشې ته ځير شو، نور ژاروي، لکه: غواگانې، خره، اسونه او اوښان څه ناڅه د هيواد په ټولو ولايتونو کې روزل کيږي.



## وحشي ژوي

وحشي ژوي د چاپېريال د يوې مهمې ارزښتمنې ښکارندې (پديدې) په توګه پر طبيعي بيارغاونه باندې ژوره اغېزه لري. په طبيعت کې، په تېره بيا په ځنګلونو کې بېلابېل ژوي ژوند کوي چې هريو يې ځانګړې دندې لري. د هغو ژويو ارزښت چې په ځنګلونو او څرځايونو کې اوسېږي، د ګرځندويانو (توريستانو يا سيلانيانو) د رابللو، ښکارکولو، د هغوی د پوستکي د ارزښت او د طبيعت د توازن له مخې ډېر اوچت دي. ددغو ژويو په ژوند او پايښت کې د انسانانو د فعاليت اغېزه ډېره ژوره ده او د هغوی ښکارکول او په پټنځايونو کې يې لاس وهنه د هغوی ژوند له ګواښ سره مخامخ کوي. انسان د ځنګلونو په وهلو، د کورنيو څارويو په څرولو، د وښو او د سوځولو لپاره د ونو بوټو په پرې کولو سره وحشي ژويو ته ګواښ پېښوي.

د افغانستان طبيعي جوړښت چې ډېره برخه يې غرونه دي، په تېره بيا د هندوکش لړۍ چې زياتې لوړې - ژورې او شګلنې لمنې او ډاګونه لري، د ژويو لپاره يې جغرافيايي ارزښت رامنځته کړی دی او د ژوند او ژويو ډول ډول والی يې پياوړی کړی دی. زموږ په هېواد کې د ځمکې د جوړښت، اقليمي شرايطو او خوراکي توکو د پيداکېدو له مخې د بېلابېلو ژويو او الوتونکو لپاره د ژوند غوره چاپېريالونه رامنځته شوي دي چې يو شمېر يې دا دي:

- ذوحياتين او ښښيدونکي، لکه: څرمښکی، سمسېره، چنګاښ، مار او نور. په افغانستان کې يوازې د مار (۲۷) ډولونه پېژندل شوي دي. اووه ډوله يې زهري دي چې دوه ډوله يې کبرا او پنځه ډوله يې افعي ماران دي.
- تي لرونکي ژوي: چې (۱۲۰) ډولونه يې په افغانستان کې پېژندل شوي، خو له بده مرغه زيات شمېر يې اوس له منځه تلو په حال کې دي، لکه:
- پړانګ چې د پامير په لوړو درو او مرغاب کې ليدل شوی و.
- سورلنډيان چې د هېواد مرکزي سيمو کې ژوند کوي.
- ليوان، سرې ګيدړې، غرنۍ پيشوګانې او کوچنۍ وحشي پيشوګانې چې په ټول هېواد کې شته.
- يږې چې هم په غرنيو سيمو او هم په ځنګلونو کې اوسيږي.
- همدارنګه مارکوپولو پسونه، هوسۍ، مارخوړونکي وزې او نور چې هريو يې د يادولو وړ دي او د افغانستان په بېلابېلو سيمو کې ژوند کوي.

يوه سروې چې زموږ په هېواد کې ترسره شوې وه، په هغې کې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د الوتونکو (۳۰۰) بېلابېل ډولونه پېژندل شوي وو چې په هغو کې د دښتو، ځنګلونو او اوبو بېلابېل

الوتونکی یادولای شو چې تر ټولو نامتو يې زاڼه، ډېنګ، مارغه، توتي، کارغه، باښه، توتکی، چڼچڼي، پتکه او نوردي.

## د ټولګي دننه فعاليت

زده کوونکي دې په پنځو ډلو وويشل شي، لاندې دندې دې پرمخ بوځي او د هغو پايلې دې ټولګي کې خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړي:

- د مالدارۍ پر ارزښت دې خبرې وکړي.
- کوچيان د څه لپاره او کوم څاروي ساتي؟
- کروندګر کوم څاروي او د څه موخې لپاره ساتي؟
- د واښه خوړونکو څارويو نومونه واخلئ؟
- د غوښو خوړونکو څارويو نومونه واخلئ؟

## پوښتنې

١ . مالداري زموږ د هيوادوالو په ژوند او اقتصاد کې څه ارزښت لري؟ څرګند يې کړئ.

٢ .د کوم ډول کورنيو څارويو روزنه او ساتنه زموږ په هيواد کې دود ده؟ نوم يې واخلئ.

٣ .له محصولاتو پرته د کومو څارويو له ځواک څخه د کومو کارونو په ترسره کولو کې کار اخيستل کيږي؟ توضيح يې کړئ.

٤ .هغه محصولات چې له څارويو ترلاسه کيږي، کوم دي؟ له هغو څخه په څه شي کې کار اخيستل کيږي او له صنعتي کيدلو څخه وروسته د څارويو د کوم محصول ارزښت اوچتيدلای شي؟

٥ ـ د وحشي ژويو ژوند او شتوالی له کومو ګواښونو سره مخامخ دی؟ توضيح يې کړئ.

٦ ـ هر څو ډوله الوتونکي، تي لرونکي او ښنيدونکي ژوي چې پيژنئ، نومونه يې واخلئ.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

په طبيعت کې د الوتونکو او وحشي ژويو د ارزښت په هکله او هغه ګواښ چې دوی ورسره مخامخ دي او داچې څرنګه بايد د هغو ساتنه او څارنه وشي، په يوه مقاله کې وليکئ.

## څلورم لوست سوداګري او اهميت يې:



سوداګري په حقيقت کې د شيانو او خدماتو تبادله کول دي چې د پيرودونکي او پلورونکی د اړتيا له مخې کيږي.

د سوداګرۍ اصلي بڼه د مالونو سيده راکړه ورکړه ده چې يو له بل سره تبادله کيږي، خو د نن ورځې پرمختللې سوداګري د پيسو په وړاندې ترسره کيږي.

په ډېرو پخوا وختونو کې انسانانو په خپلو سيمو کې د اضافي شيانو په تبادله لاس پورې کړی وو، وروسته بيا سوداګري شاوخوا سيمو او وروسته لرې سيموته پراخه شوه.

اجناس او خدمات هغه وخت تبادله کيږي چې لاندېني شرايط چمتو شي:

۱ـ د اجناسو اضافي توليد ترسره شوی وي.

۲ـ په ټاکلې حرفه او ځانګه کې تخصص رامنځته شوی وي.

۳ـ توليد د کار د ويش پړاوته رسيدلی وي (د کار ويش ترسرګوشي)

٤ـ د دوو سيمو د توليداتو د ډولونو ترمنځ توپير وليدل شي.

٥ـ سياسي، کلتوري او ګمرکي خنډونه نه وي.

٦ـ د ليږدولو د دوو سيمو ترمنځ به وسايل او لارې او د اړيکو ټينګولو په خاطر ډيرې ښې لارې ـ چارې چمتووي.

۷ـ د دواړو سيمو وګړي يو د بل اجناسوته اړتيا او ليوالتيا ولري.

په عمومي توګه پورتني شرايط په ټولو ځايونو کې څه ناڅه د سوداګرۍ لپاره لاره اواروي، همدارنګه د بهرنۍ سوداګرۍ د رامنځته کيدو يو لوی لامل د طبيعي سرچينو ترمنځ توپير او د پرمختيا په اړه له تخنيک څخه د خلکو د کار اخېستو په استعداد کې د توپير تر سترګو کيدل دي، په بله وينا خلک ځکه په سوداګرۍ لاس پورې

کوي چې غواړي خپل تولید کړي اجناس په لوړه بیه نورو سیمو کې وپلوري او یاهم هغه څه چې دوی یې خپله نشي تولیدولای او یايې په خپله سیمه کې د تولید شوې بیې پرتله په ارزانه له بلې سیمې څخه پیرودلای شي، ترلاسه کړي.

په افغانستان (او لرغوني آریانا) کې له ډیر پخوا څخه د هغه د جغرافیایي ارزښت له مخې چې په دغه سیمه کې يې لرل او دا چې د هغه وخت د تمدن پر لاره پروت و، یعني ختیځ ته يې د هند او چین تمدن او لویدیځ ته یې د یونان او روم تمدن و، نو اضافي تولید دلته رامنځته کیده او ددې هیواد وګړو سوداګري او راکړه ورکړه کوله.

مخکې تر دې چې سمندري لارې وپیژندل شي، د سوداګریزو توکو او مالونو وړل راوړل ټول د وچې له لارې په کاروانونو ترسره کیدل. هغه مهال د مالونو تبادله او لیږدول د کاروانونو په واسطه د ختیځ او لویدیځ ترمنځ یعنې د مدیترانې د سمندرګي له ختیځو غاړو څخه تر چین پورې ترسره کیدل او افغانستان د یوې مهمې ټرانزیتي سیمې په توګه هغه وخت د ډیر ارزښت وړ و.

وروسته بیا دغه لاره د وریښمو د لویې لارې په نوم یاده شوه، داځکه چې هغه وخت ډیر ګرانبیه مالونه، لکه: وریښمین ټوکران، درمل او نور له همدې لارې څخه تیریدل را تیریدل.

په اوسني وخت کې هم د افغانستان خلکوته سوداګري ځانګړی ارزښت لري. افغانستان کولای شي د ګاونډیو ترمنځ د یوې څلورلارې په توګه له خپل ځانګړې جغرافیايي موقعیت څخه پوره ګټه واخلي او د خپل ملي عاید د زیاتولو، د کار موندلو او اړیکو په برخه کې اغیزمن ګامونه اوچت کړي، دا ځکه چې افغانستان د خپلو لویو لارو څخه د زرګونو ټنو سوداګریزو مالونو، په تیره بیا د ټرانزیتي اجناسو د لیږدولو وړتیا لري.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان د بهرنی سوداګری بیلانس توازن نه لري، ځکه د صادراتو کچه یې له وارداتو څخه ډیره کمه ده چې دا موضوع د کمزوري اقتصاد څرګندوی ده.

## په ټولګي کې فعالیتونه

دوه، دوه زده کوونکي باید لومړی د لوست متن او انځورونه په پوره ځیرتیا ولولي او د لوست پر مهموټکو په خپل منځ کې خبرې اترې وکړي، وروسته دې خپل نظرونه د سوداګری او د هغې د ارزښت په اړه ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

### پوښتنې:

۱- ولی خلک سوداګری ته مخه کوي؟

۲- زموږ په اقتصاد کې سوداګري څه رول او اهمیت لري.

۳- افغانستان په سیمه کې له څه ډول ټرانزیتي موقعیت څخه برخمن دی؟

## له ټولګی څخه د باندې فعالیتونه:

یو کتاب، مجله او یا ورځپاڼه چې د افغانستان د سوداګری په اړه معلومات ولري، ولولئ، په راتلونکي ساعت کې هغه ښوونکی ته تشریح کړئ، پر مهمو ټکو یې خبرې اترې وکړئ.

# کورنۍ او بهرنۍ سوداګري (صادرات او واردات)




**په افغانستان کې کومو لاملونو (عواملو) د سوداګرۍ پر پرمختیا او وروسته پاتېوالي اغېزه درلوده او لري يې؟**

نن ورځ د افغانستان دننه سوداګري ښه پراخه ده چې علت يې د نفوسو ډېروالی، د ژوند د کچې نسبي لوړېدل او خوراکي توکو، صنعتي او خدماتي اجناسو او وسايلو ته د خلکو ورځ په ورځ د اړتيا زياتوالی دی. افغانستان چې بيلابيلې اقليمي سيمې لري، د بيلابيلو ونو - بوټو کرنې او توليد ته يې ښه لاره هواره کړې ده.

بزګران او څمکوال سربېره پردې چې خپلې اړتياوې پوره کوي. کرنيز محصولات بازار ته هم وړاندې کوي او پلوري يې، د بېلګې په توګه وريجې په هغو سيمو کې چې توده هوا او پوره اوبه لري، لکه په ختيځ کې ننګرهار، لغمان، کونړ او د هيواد په شمال، لکه: کندز، بغلان او تخار کې ډېرې کرل کيږي، چې طبعاً د هغو اضافي توليدات د هيواد دننه هغونورو سيموته چې هلته وريجې نه کرل کيږي، ليږل او پلورل کيږي. ددې يوه بله بېلګه غالۍ دي چې زياتره د هيواد په شمالي برخو کې توليديږي. چې نه يوازې د هيواد دننه بازارونو کې پلورل کيږي، بلکې يو مهم صادراتي توکی هم دی.

ځيني کرنيز محصولات وروسته له پروسس او صنعتي کيدو څخه د هيواد دننه بازارونو کې پلورل کيږي بلکې يو مهم صادراتي توکي هم دي.

د يادونې وړ ده چې په وروستيو ديرش کلنو جګړو کې د هيواد ټول اقتصادي، ټولنيز، اداري او سياسي بنسټونه ويجاړ او سوداګري ته هم زيات زيان واوښت او هم افغانان تر پخوا زيات وارداتي مالونو او اجناسوته اړ شول. له نيکه مرغه په دې وروستيو کې د يو شمير مؤسسو د بيارغونې کار پيل شوی دی، يو شمير يې خصوصي سکتور ته ورکړل شوي دي او بيايې پر فعاليت باندې پيل کړی دی. همدارنګه د مواصلاتي کرښو او سړکونو بيارغاونه هم پيل شوې ده. سوداګريز نوی سياست او قوانين رامنځته شوي چې دا ټول به د کورنی سوداګری د پرمختګ لامل شي.

**بهرنی سوداګري**:

افغانستان د آسيا د لويې وچې د يوه ځانګړي موقعيت په لرلو سره له ډير پخوا څخه د ټرانزيټي او مهم سوداګريز مرکز په نوم پيژندل شوی دی او کاني او کرنيز ځانګړي توليدات يې له ډير پخوا څخه په نړيوالو بازارونو کې پلورل کيږي.




د افغانستان بهرنی سوداګري پخوا په دريو حوزو کې وه:

- د بارتر سوداګري حوزه: جنس د جنس په وړاندې تبادلې ته بارتر ويل کيږي، دغه ډول سوداګری د مالونو د بدلولو په توګه پخوا د افغانستان او يو شمير سوسيالستي هيوادونو، لکه: پخواني شوروي اتحاد، پولند، چک اوسلواکيا، چين، بلغاريا او نورو سره وه.
- ازاده حوزه: چې لويديځې اروپا، د امريکې متحده ايالتونو او جاپان سره وه.
- د هند د نيمې وچې سره د سوداګری حوزه: د هند د نيمې وچې سره د افغانستان سوداګري ډيره اوږده تاريخي ريښه لري چې دوخت په تيريدو سره يې پراختيا موندلې ده.

د پخواني شوروي اتحاد له ړنګيدو وروسته، په ختيځه اروپا کې د سياسي رژيمونو له منځه تللو او د افغانستان د بهرني، اقتصادي او سوداګريز نوي سياست له پيل کيدو وروسته، د هيواد د سوداګری په

سیستم کې بدلون راغی.
اوس د افغانستان دولت د سوداګریزو نوو قوانینو پر بنسټ، کورنیو او بهرنیو سوداګرو او پانګوالو ته د پانګې اچونې او د خصوصي بانکونو رامنځته کیدوته لاره هواره کړې ده او د ګاونډیو او نورو پرمختللو هیوادونو سره سوداګرۍ د پراختیا په حال کې ده.
د افغانستان مهم صادراتي توکي یو شمیر خوراکي او خام توکي، لکه: وچې او تازه میوې، مالوچ، د څارویو محصولات، لکه، وړۍ او اوزغنې، پوستکي، د قره قل پوستکی او کولمې او یو شمیر صنعتي توکي، لکه غالۍ او ټغرونه، لاسي صنایع او ګرانبیه ډبرې دي. د افغانستان د صادراتو په پرتله د وارداتي مالونو حجم او ډولونه ډیر زیات دي چې دا د افغانستان د اقتصاد کمزوري ښکاره کوي. هغه مالونه چې له بهر څخه افغانستان ته راځي، زیاتره یې استهلاکي مالونه او نور دي، لکه ټرانسپورټي وسایط او ماشینونه، نفتي مواد او روغنیات، کیمیاوي مواد، خوراکي توکي، لکه غنم، بوره، چای، غوړي او منسوجات، لکه جامې، درمل او نور.

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دوه کسیزو ډلو کې لاندې فعالیتونه ترسره او پایله دې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړي:

- د لاسي صنایعو او بازارونو نقشه وګورئ لاندنیو پوښتنوته ځواب ولیکۍ.
- هغه سیمې چې په آبي، شین او ژیړ رنګ ښودل شوي دی، کوم مفهوم افاده کوي.
- د څلورو ښارونو نومونه ولیکي چې له ۲۳۰۰ دوکانونو څخه ډېر په کې شتون لري.

د څو مهمو او عمده تولیدي مرکزونو نومونه چې د صادراتو او توریستي برخه کې فعالیت کوي، ولیکۍ.

## پوښتنې:

۱. د بارتر د سوداګرۍ مفهوم څه دی؟
۲. د افغانستان واردات کوم دي؟
۳. د افغانستان صادرات کوم دي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د یو څو قلمه هغو جنسونو نومونه چې له بهر څخه واردیږي او تاسې په خپله ورځخه کار اخیستی وي، ولیکۍ او همدارنګه یې جوړوونکي هیوادونو نومونه واخلئ.

# شپږم لوست

## صنایع (د صنایعو ډولونه او ارزښت)



په افغانستان کې د غالۍ اوبدلو صنعت

تاسې پوهیږئ چې صنعتي فعالیت د توکو ارزښت، څرنګوالي او ګټورتوب لوړوي؟

صنعت یو تولیدي فعالیت دی چې د هغه په ترڅ کې له هغو لومړنیو یا خامو توکو څخه چې له ځمکې ترلاسه کیږي د کار وړ شیان او اجناس جوړیږي او د بشري ټولنو اړتیاوې ورباندې بشپړیږي. صنعت هم د لاس او هم د ماشین په واسطه پر مخ تلای شي.

صنعتي فعالیت چې د ارزښت، څرنګوالي او ګټورتوب د لوړولو لپاره د توکو د بڼې د بدلون عملیه ده، د بشریت په تاریخ کې اوږده سابقه لري.

صنعتي انقلاب چې د اتلسمې پیړۍ په دویمه نیمایي په اروپا کې پیل شو، په پای کې یې بشري ټولنې ته ژور بدلون ورکړ او د خلکو ژوند ته یې بله بڼه ورکړه.

د لومړنیو یا خامو توکو، لکه د کاني توکو، کرنیزو تولیداتو او نورو د بڼې بدلون چې په وروستیو صنعتي پخو اجناسو واړول شي، بیلابیل صنعتي پړاوونه تیروي، د بیلګې په توګه:

که چیرې تاسې هغه محصولات او اجناس کتلي وي چې په پلورنځي کې یې پیرئ، لیدلي به مو وي چې پیرودل شوي جنس دومره هم اسانه په لاس نه دی راغلی، بلکې بیلابیل صنعتي پړاوونه یې تیر کړي چې پلورنځي کې د پلورل کیدو وړ ګرځیدلی دی. موږ کولای شو د موضوع د لا روښانه کولو لپاره یو کتاب چې په کتاب پلورنځي کې پلورل کیږي، د بیلګې په توګه یاد کړو. دغه کتاب چې پلورل کیږي کارېې د یوه نیالګي له کینولو څخه پیل کیږي، کله چې نیالګیو ښه وده وکړه او لویې ونې ورڅخه جوړې شوې، پرې شوي لرګي یې فابریکې ته وړل کیږي، هلته ورڅخه کاغذ جوړیږي، کله چې کاغذ جوړ شو، مطبعې ته لیږل کیږي، د یو کتاب لیکوال چې کتاب یې چاپولو ته تیاره کړی ده او هغه یې د چاپ لپاره مطبعې ته لیږلی دی، مخکې له مخکې طرحه او په کمپیوټر یا پرکوم بل شکل باندې ډیزاین

شوي، پر کاغذ باندې چاپ او د صحافی له پړاو څخه وروسته د کتاب په بڼه چمتو کیږي او د خرڅلاو لپاره کتاب پلورنځي ته راوړل کیږي.
په همدې توګه که چیرې موږ ځیر شو ټول صنعتي محصولات د کار بیلابیل پړاوونه تیروي او بیا د ګټې وړ ګرځي.
د صنایعو، په تیره بیا د ماشیني صنایعو ارزښت په دې کې دی چې په لږ وخت کې ډیرو موادوته د بڼې بدلون ورکوي، د هغو په څرنګوالي او بیه کې لوړوالی راځي.
زموږ خلک له ډیر پخوا څخه په کوچنیو لاسي دستګاوو کې په لاسي صنایعو بوخت وو. فرش، لکه غالی، لمڅې، ټغرونه او نور د اړتیا وړ وسایل یې ځان ته جوړول.
زموږ هیواد دبیلابیلو او ډیرو کانونو، کرنیزو ډول ډول محصولاتو او د پوره کار ځواک په لرلو سره صنایعو او د هغو ودې ته ډیره ښه زمینه چمتو کولای شي. که چیرې حکومت وکولای شي چې د ملي صنایعو د ملاتړ لپاره له یوه غوره اقتصادي پالیسی څخه کار واخلي ، د فابریکو او کارځایونو جوړولو ته شرایط برابر کړي، نو زیات شمیر اړین اجناس او مالونه به د هیواد دننه تولید او ملي عاید به لا اوچت شي.

## د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې درې ډلې شي، له متن، انځورونه او د لوست له بیلګو څخه دې کار واخلي، لاندې فعالیتونه دې ترسره او بیا دې د خپل کار پایله خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.
لومړۍ ډله: د خپلو جامو په هکله خبرې وکړئ چې په څه ډول جوړې شوي او کوم صنعتي پړاوونه یې تیر کړي دي؟
دویمه ډله: د خپل ټولګي د میزونو او څوکیو په هکله بحث وکړئ د هغو صنعتي پړاوونه او چمتو کول توضیح کړئ.
دریمه ډله: د خپل ښوونځي د ودانی په هکله خبرې وکړئ چې له کومو توکو څخه جوړه او کوم صنعتي پړاوونه یې تېر کړي دي.

| لومړني خام توکي | صنعتي شوي توکي |
| --- | --- |
| پنبه | |
| | غالی |
| ګنې | |
| | ډوډۍ |
| لرګي | |
| | بوټان |
| | غوړي |
| اوسپنه | |
| | (پنیر) خیدک |

## پوښتنې:

۱ ـ صنعت څه ته وایي توضیح یې کړئ؟
۲ ـ د صنایعو د ارزښت په هکله معلومات ورکړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د لاندې جدول په تشو ځایونو کې د لومړنیو یا خامو توکو او صنعتي شوو اجناسو (مالونو) نومونه په خپله کتابچه کې ولیکئ.

## اووم لوست

# صنعتي توليدات (لاسي او ماشيني صنايع)



لاسي صنايع د افغانستان خلکو له لرغونو زمانو راهيسې د کورنيو اړتياوو او بهرنۍ سوداګرۍ لپاره په خپل لاس جوړشوو دستګاوو باندې د اړتيا وړ شيان جوړول او خپلې اړتياوې يې پوره کولې.

کليوالي صنعت کارانو به په خپلو ډيرو لومړنيو وسايلو سره د صنعتي اجناسو په جوړولو لاس پورې کاوه چې له لاندنيو سرچينو څخه يې کار اخېست:

١. له څارويو څخه تر لاسه کيدونکو لومړنيو توکو، لکه: وړيو، ويښتانو او د وريښمو د چنجيو له تارونو او نورو څخه.

٢. له نباتي سرچينو، لکه پنبې، کتان، سنډو او نورو څخه.

٣. کاني توکو، لکه اوسپنې، مس، سرو او سپينو زرو او له ختو او نورو څخه.

ـ هغه د لاسي صنايعو محصولات چې د څارويو له الیافو څخه جوړيږي، مشهورېې غالۍ، ليمڅۍ، برګ، ټغر، شړۍ او نور دي.

د غالۍ اوبدلو صنعت د افغانستان يو ډير مهم لاسي صنعت او غالۍ صادراتي مهم قلم او لاسي صنعت دی چې زياتره په شمال، شمال لويديځ او لويديځو ولايتونو کې توليديږي.

ـ د لاسي صنايعو هغه محصولات چې له مالوچو څخه جوړيږي دا دي: خمتا، رختونه، کشميره، پټو، لونګۍ، سطرنجې اونور. پخوابه چې په افغانستان کې په کومو ځايونو کې پنبه ډيره کرل کيدله،

هلته به کلیوالو پنبه یې یا نخي رختونه ورڅخه جوړول.
ـ زرگران ، مسگران او پښان له فلزاتو څخه د کار وړ شیان، لکه یوم، تبر، تیشه (ترېشځ)، چاقو، چاړه او مسي لوښي، لکه دیگونه او نور، گاڼې له سرو اوسپینو زرو او قیمتي ډبرو، لکه لاجوردو او یاقوتو څخه جوړوي.

**ماشیني صنایع**: نوې ماشیني صنایع او عصري فابریکې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۷م کال. کې د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ پرمهال او لږ وروسته بیا په یوڅه پرمختللې بڼه د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ پر مهال د نولسمې پیړۍ په وروستیو کې په هیواد کې رامنځته او لومړنۍ عصري فابریکه د کابل ماشین خانې په نوم تاسیس شوه، په دغې فابریکې کې د توپ، ټوپک او حربي مهماتو او سرې او تودې وسلې په گډون حربي مهمات تولید او جوړېدل. وروسته بیا ماشیني صنایعو یوڅه وده وکړه. په ۱۳٦٥ هـ ل کال کې په هیواد کې (۳۹۱) صنعتي موسسې فعالې او په کار بوختې وې چې له هغو څخه یې ۲۷٤ د خصوصي سکتور او پاتې ۱۱۷ یې د دولتي او مختلط سکتور وې.
له دې امله چې د ماشیني صنایعو په رامنځته کیدو او وده کې څرخوونکي ځواک یا انرژي لومړنۍ اړتیا بلل کیږي، نوځکه په هغو سیمو کې چې بریښنا او گڼ خلک وي، لکه په کابل، کندهار، هرات، مزارشریف، کندز او جلال اباد کې، صنایع ځای پرځای رامنځته شوي دي.
زموږ په هیواد کې د ۳۰ کلنو جگړو پرمهال، زیات شمیر صنعتي تاسیسات زیانمن شول اوس یې بیارغاونه او جوړونه روانه ده او یو شمیر کورنیو او بهرنیو پانگوالو د نویو صنعتي موسساتو په جوړولو هم لاس پورې کړی دی.

| گڼه | ماشيني توليدي صنايع | د توليد ډول | توليدي ظرفيت | اوسنی ظرفيت | اوسنۍ حقوقي شخصيت |
|---|---|---|---|---|---|
| ١ | د بگراميو نساجي | تاري ټوکران | ١٦ ميليونه متره | فعاله نه ده | دولتي |
| ٢ | دکندهار نخي نساجي | // // | ٤٠ // // | // // | تصدي |
| ٣ | دکندهار ورۍ اوبدل | ورېښمين رخت | يو ميليون متره | // // | // |
| ٤ | د هرات نخي نساجي | تاري ټوکران | ١٢,٥ ميليونه متره | // // | دولتي |
| ٥ | د بلخ نساجي | // // | ٢٢ ميليونه متره | په کال کې ٣٠ ټنه تجارتي تار | تصدي |
| ٦ | دگلبهار نساجي | // // | ٥٠ ميليونه متره | فعاله نه ده | سهامي شرکت |
| ٧ | کابل نساجي | // // | يو ميليون متره | // // | // // |
| ٨ | د پلخمري نساجي | // // | ٢٤ ميليونه متره | په سلو کې ٥٠٪ فعاله ده | // // |
| ٩ | د مزار د سرې او برېښنا فابريکه | له يوريا سره | په کال کې ١٠٥ زره ټنه | په ٢٤ ساعتونو کې ١٠٠ ټنه | تصدي |
| ١٠ | لومړی غوري سمنټ | سمنټ | په کال کې ١٢٠٠٠٠ ټنه | يوه شپه ورځ کې ٤٠٠ ټنه | خصوصي |
| ١١ | دويم غوري سمنټ | // // | په کال کې ٣١٠٠٠٠ ټنه | په يوه شپه ورځ کې ١٠٣٣ ټنه | // // |
| ١٢ | د هرات سمنټ | // // | په کال کې ٢١٠٠٠٠ ټنه | په يوه شپه ورځ کې ٧٠٠ ټنه | دولتي |
| ١٣ | دکابل د تار اوبدلو دستگاه | تار | په کال کې ٥٥٠ ټنه | غير فعاله ده | خصوصي |
| ١٤ | دکابل د اوبدلو فابريکه | رخت | په کال کې ١,٨٣ ميليونه متره | غير فعاله | خصوصي |
| ١٥ | دکندز سپين زر | محلوج، (مالوچ) او غوړي | په کال کې ١١٠٠٠٠ ټنه | لږ ې فعاله شوې په اجاره ورکړل شوې | دولتي تصدي |
| ١٦ | د بلخ جن او پرس فابريکه | // // | ٤٠٠٠٠ دانه لرونکې پنبه (پومبه) | // // | // // |
| ١٧ | بست تصدي | // // | په کال کې ٢٥٠٠٠ ټنه | په کال کې ٨٥٠٠ ټنه | تصدي |
| ١٨ | د هرات د مالوچو شرکت | پنبه، مالوچ، غوړي او صابون | په کال کې ١٠٨٠٠ ټنه | يوخه فعاله | // // |
| ١٩ | مرکزي سيلو | ډوډۍ او اوړه | ٥٠ زره ټنه ذخيره | | |

| ګڼه | ماشيني توليدي صنايع | د توليد ډول | توليدي ناصبه ظرفيت | اوسنی ظرفيت | اوسنی حقوقي شخصيت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | پلخمري سيلو | ډوډۍ او د خوړو توکی | ۲۰ زره ټنه ذخيره | فعاله ده | // // |
| ۲۱ | د کندهار سيلو | د غنمو ذخيره | په ۲٤ ساعتونو کې ٦۰ ټنه اوړه کول | غير فعاله | // // |
| ۲۲ | د بلخ سيلو | ډوډۍ او اوړه | | فعاله ده | دولتي تصدي ده |
| ۲۳ | د هرات سيلو | د غنمو ذخيره | په کال کې ۲۰ زره ټنه غنم | // // | // // |
| ۲٤ | د بغلان د شکرې پروژه | شکره | په کال کې ۲۰ زره ټنه | // // | دولتي |
| ۲٥ | د هلمند حجاري او نجاري | مرمر، موبل او فرنيچر | | بيارغول شوې خو فعاله نه ده | ګډ شرکت |

## د ټولګي دننه فعاليت:

په خپلو کتابچو کې لاندې جدول په مناسبو کلماتو سره د لوست د متن او تصويرونو په کتلو او له ورکړل شوې بېلګې څخه په ګټې ډک کړئ.

| حيواني منابع (سرچينې) | صنعتي شوي مواد | نباتي منابع | صنعتي شوي مواد | کاني منابع | صنعتي شوي توکي |
|---|---|---|---|---|---|
| کرک (د وزو له وزغنو جوړېږي) | پټو، جرابې، دسماغو، (دستکشی) پرتوګانې | جغندر | شکره | مس | ديګي، کوزه او چلمچي |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

## پوښتني

۱ ـ ستاسو له نظره د لاسي صنايعو کوم ډول توليدات ډېر ارزښت لري او ولې؟

۲ـ ستاسو له نظره تر اوسه پورې په هيواد کې کوم لاملونه (عوامل) د ماشيني صنايعو د ودې خنډ ګرځېدلي وو؟

۳ـ پښنان، مسګران، او زرګران له کومو منابعو څخه په څه ډول کار اخلي او کوم شيان جوړوي؟

٤ـ ماشيني صنايع زياتره په کومو ځايونو کې راټول شوي دي او ولې؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د ماشيني صنايعو د مؤسساتو د ځانګړتياوو جدول وګورئ له هغه له مخې د لاندينو پوښتنو ځوابونه و مومئ او د خپل کار پايله په بل ساعت کې خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړئ.

۱. زموږ په هيواد کې د اوبدلو څو فابريکې شته؟ کومې يې فعالې او کومې نه دي فعالې؟

۲. زموږ په هيواد کې د خوراکي توکو څو فابريکې شته او کومې يې ډېر توليدات لري؟

۳. ستاسو له نظره ستاسې په سيمه کې کومه فابريکه شته چې نوم يې په دغه جدول کې نه ليدل کېږي؟

# بانکونه او د هغو کړنلاره




بانک هغه اداره یا حقوقي شخصیت دی چې له عامو خلکواو دولتي ارګانو نو څخه پیسې اخلي ساتي یې، په دوران کې یې اچوي. همدارنګه بیرته پورونه ورکوي. داسې هم ویلای شو چې بانک هغه اقتصادي واحد دی چې په پرله پسې توګه اعتبار ترلاسه کوي او بیرته یې هم ورکوي.

همدارنګه د هیوادونو بانکي او سوداګریز قوانین د بانکونو ځینې فعالیتونو ته اجازه ورکوي، خو ځینې نور غیر مجاز بولي، یعنې د حکومتونو له لوري د بانکونو ځینو فعالیتونو ته پولې ټاکل شوي دي. په پای کې ویلای شو چې هغه مؤسسه بانک بلل کیږي چې پولي، اعتباري او مالي چارې پرمخ بیایي.

بانکونه د هغوی د عملیاتو او د کارونو د ډول له مخې بیلابیل دي، خو د ډیرو پوهانو په وینا بانک په عمومي توګه درې ډولونه لري:

- مرکزي بانکونه
- سوداګریز بانکونه
- شخصي بانکونه

- **مرکزي بانک**

په ټولو هیوادونو کې مرکزي بانک د بانکي فعالیتونو اصلي سازمان ورکوونکی او خوځوونکی دی چې زیاتره د دولتي بانک په بڼه کارکوي او په انتفاعي توګه خپلې چارې پرمخ بیایي. مرکزي بانک د بانکونو د مور په نوم هم یادیږي، همدارنګه ځینې خلک هغه ته د بانکونو بانک هم وایي، دا ځکه چې ددغه ډول بانک یوه دنده د نورو بانکونو څارنه او کنټرول کول دي.

په افغانستان کې (د افغانستان بانک) مرکزي بانک دی چې د ۱۳۱۸ هـ ل. کال. د وري په میاشت کې یې د ۱۲۰ میلیونو افغانیو په ارزښت په کار پیل وکړ.

په عمومي توګه مرکزي بانکونه لاندنې دندې لري:

- د بانکنوټونو خپرول
- د اسعارو کنترول
- د نورو بانکونو څارنه
- د بهرنیو اسعارو په وړاندې د داخلي یا ملي پیسو د ارزښت ثابت ساتل.
- په غوره توګه د استخدام لوري ته د اقتصاد لارښوونه او داسې نورې دندې.

- **سوداګریز بانکونه**:

په زیاترو هیوادو کې سوداګریز بانکونه هغو بانکونو ته ویل کیږي چې د لنډې مودې عملیات او د امانتونو دندې پرمخ بیایي. په لومړیوو ختونوکې چې کله سوداګریزو بانکونو نوی په کار پیل وکړ، ټولې هغه دندې چې نور بانکونه یې ترسره کوي، سوداګریز بانکونو هم ترسره کولې یعنې دوی په صنعت، کرنه، د ودانیو په جوړولو او نورو چاروکې د پانګې اچونې دندې هم پرمخ بیولې، خو وروسته له دې چې ځانګړي بانکونه لکه، کرنیز بانک، رهني بانک او نور جوړ شول، د سوداګریزو بانکونو فعالیت محدود شو.



- **تخصصي بانکونه**:

دغه بانکونه، لکه: د سوداګریزو بانکونو په څېر عادي فعالیتونه او چارې پرمخ نه بیایي، بلکې په بشپړه توګه په ځانګړو برخو، لکه په صنعت، کرنه او نورو کې فعالیت کوي او په همدغو برخو کې دندې پرمخ بیایي چې ښې بېلګې یې صنعتي بانکك، کرنیز بانکك او رهني بانکونه دي.

په دې وروستیو کې په افغانستان کې د خصوصي بانکونو د بانکي چارو نوی قانون نافذ شوی دی او یو شمیر نا دولتي بانکونه یا خصوصي بانکونه جوړشوي دي چې معمولاً د سوداګرۍ په برخه کې فعالیت کوي.

### د ټولګي دننه فعالیت:

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او د نوي لوست د متن او انځورونو په کتنې سره دې لاندنۍ دندې ترسره کړي اود خپلو دندو پایله دې د ډلې استازي له خوا ټولګیوالوته وړاندې کړي:

- لومړۍ ډله دې د بانکك د کلمې او د هغو دندو په هکله خبرې وکړي.
- دویمه ډله دې د مرکزي بانکك دندې و وایي.
- دریمه ډله دې د سوداګریزو او ځانګړو تخصصي بانکونو دندې اوبېلګې توضیح کړي.

### پوښتنې:

۱. د افغانستان بانکك څه ډول بانکك دی، پر کوم کال تاسیس او کومې دندې ترسره کوي؟

۲. په عمومي توګه بانکونه څو ډوله دي؟

۳. د مرکزي، سوداګریزو او شخصي بانکونو ترمنځ څه ورته والی او کوم توپیرونه شته؟ توضیح یې کړئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

که چیرې مو مور او پلار یاکوم خپلوان په بانکك کې حساب ولري، هغوی سره خبرې وکړئ چې له څه وخت راهیسې، کوم بانکك سره په څه ډول معامله لري، څه ګټه ترلاسه کوي او له اړوند بانکك سره د خپلو اړیکو له امله خوښ دي که نه؟ خپل معلومات په بل ساعت کې د ټولګي ملګروته ووایاست.

# نهم لوست

## توریسم:




توریزم Tourism یا گرځندوی یو ډول مسافرت او گرځیدل دي چې موخه یې د نړۍ د بیلابیلو سیمو علمي څیړنه، کتنه، تفریح، سیل او سیاحت دی.

توریست یا سیاح هغه څوک دی، چې موخه یې د تاریخي، جغرافیایي، فرهنگي او د بشری ټولنو برجسته اثارو لیدل او یا د یوې سیمې کلتور دی. چې پکې د زیارت کولو، سوداگرۍ او یا له یوې سیمې بلې ته عادي سفرونه نه دي.

توریستي سفرونه معمولاً کاري او تفریحي موخې لري، یو گرځندوی هغه څوک دی چې خپل اوسیدو ځای څخه بهر نوروسیمو، ښارونو او هیوادونو ته داسې سفر کوي چې له یوې شپې ورځې کم نه وي او له یوه کال څخه زیات نه وي. گرځندویان معمولاً د یوې توریستي سیمې د طبیعت یا

کلتور سره مینه او هغه ته پاملرنه لري. شتمنو خلکو به له ډېر پخوا څخه لرې سیمو ته سفرونه کول چې په هغو ځایونو کې ښکلي او تاریخي ځایونه او ودانۍ وګوري او د نړۍ له طبیعي او کلتوري شتمنیو څخه خبرشي. له همدې امله نن ورځ توریزم یا ګرځندوی په نړۍ کې د اقتصادي ودې په یوه لویه سرچینه اوښتې ده، د نړۍ په ډېرو هیوادونو او سیمو کې مهمه عایداتي سرچینه شمیرل کیږي. نن ورځ زیاتره هیوادونه هڅه کوي چې په خپلو هیوادونو کې د ګرځندوی د ودې او پراختیا لپاره امکانات چمتو او پراخ کړي، دا ځکه چې ګرځندوی د عوایدو د ترلاسه کولو یوه لاره ده.

افغانستان په اسیا کې د یوه ځانګړي جغرافیایي موقعیت، تاریخي لرغونتوب، پخوانیو ودانیو، ښکلي طبیعت، غوره هوا او د ګرځندویي سیمې لري، له ډېرو پخوا کلونو څخه د وریښمو د کاروانونو د سوداګریزو انډیو د ورلو او راوړلو لاره وه. سوداګرو له چین څخه د اروپا تر لویدیځ پورې تګ راتګ کاوه. دغه تګ ـ راتګ د ګرځندویانو، په تیره بیا د بودایي راهبانو پام دې خواته راواړاوه او د بامیانو له اسرارو ډکه سیمه یې د نمانځنې د ځای په توګه غوره او هلته یې د بودا لویې او نامتو مجسمې د غره په یوه خوا کې جوړې کړې.

د بودیزم لارویان او نور ګرځندویان د نړۍ له هر ګوټ څخه مخ په دې خوا رامات شول، دهیواد همدا تاریخي اثار او د ګرځندوی وړ سیمې وې چې د ګرځندویانو د پام وړ ګرځیدلې وې.

د افغانستان دولت په ۱۳۳۷ هـ ل کال کې د ګرځندوی مؤسسه (اوسنی افغان تور) په دې برخه کې د اسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره جوړه اوپه ۱۳۴٤ هـ ل. کال کې یې د ګرځندوی د نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کړ.

په تیرو څو لسیزو کې توریزم یا ګرځندویي په افغانستان کې د عایداتو یوه سرچینه وه. زموږ په هیواد کې ډېر لرغوني اثار او تاریخي ځایونه، لکه په بامیانو کې د بودا مجسمې او یو شمیر نور تاریخي اثار، د بلخ د لرغوني ښار اثار، خیبر دره، په هرات کې زیات شمیر تاریخي اثار او همدارنګه په کندهار، غزني، ننګرهار او نورو کې شته. د جګړو پر مهال په افغانستان کې ګرځندویي ته هم ډېر زیان واوښت، یوازې د ګوتو په شمار خبریالانو افغانستان ته تګ راتګ درلود. په دې وروستیو کې چې امنیتي شرایط یوڅه ښه شوي دي او که په ټول هیواد کې داډمنه سوله راشي او دولت د ګرځندوینې په هکله ځانګړې پاملرنه وکړي، یو شمیر هوټلونه، د ورلو راوړلو وسایل او نور امکانات برابر کړي، نو افغانستان به یو ځل بیا د ګرځندویانو لپاره یو په زړه پورې هیواد شي.

# د هیواد گرځندویي سیمې

د افغانستان گرځندويي سیمې زیاتره طبیعي ښکلي ځایونه (ښایسته ځروبي، د سیندونو په زړه پورې غاړې، ولاړې اوبه، غرونه او نور، همدارنگه کلتوري سیمې او اثار موزیمونه، مذهبي او تاریخي ودانۍ او د لاسي صنايعو بازارونه او نور) دي.

په افغانستان کې د گرځندویانو لپاره په زړه پورې سیمې او ښارونه دا دي:

باميان، بلخ، سمنگان، هرات، غور، غزني، کندهار، کابل، جلال اباد او لښکرگاه.

په باميانو کې توږل شوي سمڅې، مجسمې او اميربند، په بلخ ولايت کې د روضې مبارکې زيارت. په هرات کې تاريخي څلي، د خواجه عبدالله انصاري زيارت، خواجه غلطان ،عياران څلی، اختيارالدين کلا.

په غور کې د جام منار، په غزني کې تاريخي څلي، د سردار غونډۍ، بالاحصار او په ننگرهار کې تاريخي اثار اوله هغې جملې څخه هډه او نور د يادولو وړ دي.

په ځينو ښارونو، لکه هرات کې لرغوني اثار دومره ډير دي چې يونسکو دغه ډول سيمې د خپل پوښښ لاندې غوره کړې دي. په دې وروستيوکې غزني د يو شمير پخوانيو زيارتونو او ودانيو له امله د اسلامي تمدن د يوه مرکز او توريستي ښار په توکه پيژندل شوی دی.



د ميرويس نيکه زيارت چې گرځندويانو ته کلتوري او تاريخي ارزښت لري.



د جام منار هم لکه د هېواد د نورو لسگونو اثارو په څېر ځانگړې تاريخي او کلتوري ارزښت لري

دا باید هم وویل شي چې افغانستان د ګرځندوی ډېر غوره طبیعي ځایونه او پارکونه لري د بېلګې په توګه د پامیر لوی او کوچني غرونه، په نورستان کې د لیدلو وړ طبیعي سیمې، په کابل کې یو شمیر پارکونه او باغونه، د ننګرهار یو شمیر سیمې، هرات، کندهار، مزارشریف، د قرغې بند، د پغمان دره او په نورو بیلابیلو ولایتونو کې یو شمیر طبیعي ساحې یادولي شو چې د افغانستان د ګرځندوی په نقشه کې یې کتلای شئ.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په پنځو ډلو ووېشل شي، هره ډله دې د افغانستان د ګرځندوی نقشه وګوري، لاندې دندې دې ترسره کړي او بیا دې د خپل کار پایله په ټولګي کې وړاندې کړي:

- لومړنۍ ډله دې د ګرځندوی مهم ښارونه او سیمې لست کړي.
- دوېمه ډله دې هغه سیمې لست کړي چې هلته اسلامي عبادت ځایونه او زیارتونه دي.
- درېمه ډله دې د لاسي صنایعو بازارونه لست کړي.
- څلورمه ډله دې د طبیعي ښکلو منظرو لرونکې، په زړه پورې او د لیدلو وړ سیمې لست کړي.
- پنځمه ډله دې هغه سیمې وښیي او لست کړي چې هلته د ګرځندوی د خدماتو ځانګې شته.

## پوښتنې:

۱ـ د افغانستان د ګرځندوی (توریستي) مشهورو سیمو نوم واخلئ.

۲ـ د افغانستان کومه توریستي ګرځندویي موسسه اوس د ګرځندوی خدمات ترسره کوي او ستاسو په فکر دغه موسسه کوم ډول خدمتونه ترسره کوي؟

۳ـ ولې په دې وروستیو کې ډېر لږ ګرځندویان افغانستان ته راځي؟ ستاسو په نظر افغانستان باید د ګرځندویانو د پام را اړولو لپاره څه وکړي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیتونه:

د نوي لوست د متن او د ګرځندوی د نقشو په کتنې سره لاندنی جدول په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

| ګڼه | هغه طبیعي راښکون چې د ګرځندوی پاملرنه ځانته را اړوي | ګڼه | هغه کلتوري او مذهبي په زړه پورې واڼي چې د ګرځندوی د پاملرنې وړ دي |
|---|---|---|---|
| ۱ | د امیر بند | ۱ | د کابل موزیم |
| ۲ | | ۲ | |
| ۳ | | ۳ | |
| ۴ | | ۴ | |
| ۵ | | ۵ | |

# دریم څپرکي
# د برښنا انرژي، کاني سون توکي او کانونه

## لسم لوست: انرژي او کانونه



د لمریز اوبه تودوونکي (کلکتور) انځور

د انرژۍ په هکله څه پوهیږئ؟

انرژي هغه ځواک یا قوت دی چې په هغې سره په صنایعو، ماشینونو او صنعتي تولیداتو کې خوځښت راځي زموږ په هیواد افغانستان کې د انرژۍ او کانونو زیاتې سرچینې شته چې هم د ځمکې پرمخ او هم تر ځمکې لاندې موندل کیږي.

په اوسني وخت کې د افغانستان صنایع انرژي ته اړتیا لري چې لوی او کوچني ماشینونه وګرځوي. په افغانستان کې انرژي ډېر ارزښت لري، سوداګري، صنعت. لیږدول او نورې حیاتي چارې په نیغه (مستقیمه) توګه په انرژۍ پورې تړلې دي.

د انرژۍ مهمې سرچینې، د ډبرو سکاره، نفت، ګاز، اوبه ، باد، لمر او نورې دي.

ـ د ډبروسکاره په افغانستان کې د انرژۍ یوه مهمه سرچینه ده، په تیره بیا په اوسني وخت کې چې د انرژۍ نورې سرچینې لکه نفت او ګاز قیمتي دي، نو ځکه د ډبرو سکاره د انرژي د یوې نسبتا ارزانه سرچینې په توګه د ارزښت وړ دي.

د ډبرو سکرو یوه برخه په صنعت کې او نورې برخې یې د سون توکو په توګه کاریږي، سربېره پر دې نفت هم زموږ په هیواد کې د انرژۍ د تولید د یوې سرچینې په توګه د ځانګړي ارزښت لرونکي بلل کیږي.

ـ هغه څیړنې چې د نفتو د پلټنې په برخه کې له ۱۳۱۵ هـ ل کال څخه راپدې خوا د افغاني او بهرنیو جیولوجیستانو له خوا ترسره شوي دي، ښکاره کوي چې د هیواد په ډیرو سیمو، لکه: شمال، لویدیځ او جنوب لویدیځ برخو کې د نفتو زیرمې شته.

ـ د انرژۍ د تولید یوه بله سرچینه طبیعي ګاز دی. طبیعي ګاز په افغانستان کې له مهمو کانونو څخه ګڼل کیږي چې په هیواد کې دننه د لګښت او بهرته د صادرولو له مخې لوړ ارزښت لري. د کورونو له روښانولو او تودولو پرته په پخلي او د صعنتي کارخایونو کې هم ورځنې ګټه اخیستل کیږي.

فلزات د کاني توکو یوه بله برخه ده، چې انسانان د ځینو شیانو او فلزي وسایلو په جوړولو کې له هغه ګټه اخلي، اقتصادي، سوداګریز، تخنیکي او نور، تر ډېرې کچې د فلزي صنایعو له پرمختیا او پراختیا سره تړاو لري، له دې جملې اوسپنه او المونیم ځانګړې ارزښت لري.


د سولر انرژی انځور چې په هغه سره د لمر انرژي زیرمه کیږي.

- په افغانستان کې د اوبو له سرچینو د بریښنا انرژي ترلاسه کیږي، له بریښنا څخه د کورونو په روښانولو، پخلي او د برقي وسایلو په کار اچولو کې کار اخېستل کیږي. په افغانستان کې د انرژی یو شمیر نور ډولونه هم شته، چې په ځینو کارځایونو کې ورڅخه کار اخېستل کیږي، ممکن په راتلونکي کې به په ټول افغانستان کې دود شي، لکه: د لمریزې بریښنا Solar Energy دستګاوې، لمریز پمپونه، د اوبو لګولو لمریز پمپونه او لمریز څراغونه، چې د لمر له انرژی څخه کار اخلي. په دې وروستیو کلونو کې د اوبو او انرژي وزارت په پام کې لري چې د اتومیلیاردو ډالرو په لګښت د کونړ او کوکچې پر سیندونو باندی د اوبو د بریښنا بندونه جوړ کړي.

له هغې انرژی څخه د کار اخېستلو اغیزمنتوب چې طبیعي نوې کیدونکې سرچینې لري، لکه لمر، اوبه او باد، د سکرو او تیلو د لګښت په برخه کې سپما رامنځته کوي.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې دوې ډلې شي، لومړۍ ډله دې د انرژۍ او دویمه ډله دې په ورځني ژوند کې د انرژۍ د ارزښت په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایله به نورو ته ووایي.

## پوښتنې

۱. انرژي تعریف کړئ او د هغې مهمې سرچینې وښیئ.

۲. ولې د ډېرو سکاره د انرژۍ له مهمو توکو څخه شمیرل کیږي؟

۳. د بریښنا د انرژۍ په تولید کې د اوبو د ارزښت په اړه معلومات ورکړئ.

٤. د انرژۍ ارزښت څرګند کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

تاسې په تېره شپه ـ ورځ کې له کوم ډول انرژۍ څخه کار اخېستی دی، د هغې په هکله معلومات ورکړئ چې له کومې سرچینې څخه ترلاسه، چیرته تولید او په څه ډول ستاسو په واک کې راغلې، په یوه پاڼه کې یې ولیکئ.

# د انرژۍ او د هغه د سرچینو ارزښت (نوي کېدونکې او نه نوي کېدونکي انرژي)



د سولر انرژي یا لمریز ي بریښنا یو انځور

## د انرژۍ په هکله څه پوهیږئ؟

هغه معدني مواد چې انساني ژوند ته یې بدلون ورکړی، په اقتصادي پرمختګ او بشري ټولنو په پرمختیا کې ډېر ارزښت لري، د سون مواد دي. نفت، ګاز، او د ډبرو سکاره د انرژۍ له مهمو سرچینو څخه دي، چې له انرژۍ یې د تودخې، رڼا او محرکه قوې په تولید کې ګټه اخیستل کیږي، له دې امله انرژي او د انرژۍ سرچینې له ډېر اقتصادي ارزښت څخه برخمنې دي.

د انرژۍ د نوي کېدو او نه نوي کېدو وړ سرچینې څه مفهوم لري؟

په طبیعت کې د انرژۍ دوه ډوله سرچینې شته: د انرژۍ هغه منابع (سرچینې) چې نوې کیږي او د انرژۍ هغه سرچینې چې د نوي کېدو وړتیا نه لري. دلته یې دواړه ډولونه په تفصیل سره لولو:

د انرژۍ د تولید د نوي کېدو وړ سرچینې هغو سرچینوته ویل کیږي چې په طبیعت کې په پوره اندازې موندل کیږي، لکه اوبه، باد او لمر چې تل زموږ په چاپیریال کې شته، پای ته نه رسیدونکې دي او بیا نوي کیږي.

د انرژۍ نه نوي کیدونکې منابع یا سرچینې هغو سرچینوته ویل کیږي چې وروسته تر یوې مودې د هغو زیرمې پای ته رسیږي، لکه د ډبرو د سکرو، نفتو، او ګازو زیرمې، چې وروسته له یوې مودې څخه یې په کانونو کې زیرمې پای ته رسیږي او انسان نشي کولای چې تل او په دوامداره توګه ورڅخه کار واخلي.

حرارتي انرژي چې د ډبرو سکرو، نفتو او ګازو له سوځولو څخه ترلاسه کیږي، د چاپیریال د ککړتیا او د ځمکې د ډیرو تودیدو لامل ګرځي.

زموږ په هیوا د افغانستان کې د انرژۍ دغه دواړه ډوله سرچینې، لکه نوي کیدونکې او نه نوې کیدونکې تر کار لاندې دي.

په افغانستان کې د دې ترڅنګ چې د ډبرو د سکرو، نفتو او ګازو له نه نوي کیدونکو سرچینو څخه کار اخېستل کیږي، د انرژۍ د نوي کیدونکو سرچینو څخه هم کار اخېستل کیږي چې په دې کې یوهم اوبه د انرژۍ د نوي کیدونکو سرچینو یوه مهمه سرچینه ده.

هغه سیندونه چې مخ په ځوړ دي، د بریښنا د ترلاسه کولو لپاره ډېرې غوره سرچینې ګڼل کیږي، چې د بندونو په جوړولو او د توربین په لګولو سره له هغو څخه بریښنا ترلاسه کولای شو.


د لمریز دیګې انځور

له اوبو څخه ترلاسه کېدونکې بریښنا د ډبرو له سکرو، نفتو او ګازو څخه ارزانه ده. د اوبو بریښنا ځکه ارزانه په لاس راځي چې د اوبو د دایمي جریان څخه تولیدیږي. د بریښنا د تولید بله سرچینه باد دی. زموږ د هیواد په ځینو سیمو کې له باد څخه په ازمایښتي بڼه د بریښنا ترلاسه کول پیل شوي دي، ممکن په راتلونکې کې په ټول هیواد کې پراختیا ومومي.

د بریښنا د تولید بله سرچینه لمر دی چې په دې لړکې لمریز کولکتورونه (اوبه ایشوونکې)، لمریز څراغونه، د پخلي دیګونه او نور یادولای شو چې له لمر څخه په کار اخېستو سره یې ډېرې غوره پایلې ترلاسه شوي دي. د لمریزو کولکتورونو څخه په کار اخېستلو سره زموږ په هیواد کې هم د بریښنا په لګښت کې سپما کیږي او هم د چاپیریال د ککړتیا مخه نیول کیږي: په اوسني وخت کې د هیواد په ځینو ولایتونو کې د لمر له انرژۍ څخه کار اخېستل پیل شوي دي او کار وربانديې روان دی.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې دوه ډلې شي. لومړۍ ډله دې د انرژۍ په نوي کېدونکو سرچینو او دویمه ډله دې د انرژۍ پر نه نوي کېدونکو سرچینو باندې خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایله دې نورو ته هم ووایي.

## پوښتنې

١. د ډبرو سکرو، نفتو او ګازو سرچینوته ولې د انرژۍ نه نوی کېدونکې سرچینې وایي.
٢. د انرژۍ د بیلابیلو سرچینو نومونه واخلئ.
٣. د انرژۍ کومو سرچینوته نه نوي کېدونکې سرچینې وایي، ناسم ځواب په نښه کړئ.
الف. اوبه ب. د ډبرو سکاره ج. باد د. لمر
٤. نوي کېدونکې او نه نوي کېدونکې انرژي یو بل سره څه توپیر لري؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

که چیرې ستاسې د اوسیدو په سیمه کې د انرژۍ له نوي کېدو وړ سرچینې څخه کار اخېستل کیږي، د هغې په اړه چې تولید شوې انرژي له کومې سرچینې څخه ترلاسه کیږي او څرنګه تولیدیږي، معلومات راټول کړئ او خپلو ټولګیوالوته یې ووایاست.

# برېښنا (حرارتي او ابي)




د سروبي د برېښنا د فابريکې انځور

په افغانستان کې له برښنا څخه د کومې موخې لپاره کار اخېستل کيږي؟

له برېښنا څخه د مهمې سرچينې په توګه په ټولو صنعتي او اقتصادي چارو، د ښارونو او کورونو په روښانولو او برقي وسايلو کې کار اخېستل کيږي. زموږ په هيواد کې له برښنا څخه کار اخېستل د شلمې پيړۍ له لومړۍ نيمايي څخه پيل شوي دي او په صنعت او ټولنه کې يې ژور بدلون راوستی دی.

په افغانستان کې لومړی ځل د امير عبدالرحمن خان د سلطنت پرمهال د برښنا يوې کوچنۍ کارخانې په کار پيل وکړ چې د يوې ډينمو په بڼه وه او يوازې ځلوېښت څراغونه يې روښانه کول. دغې ډاينمو په ۱۲۷۲ هـ . ل کال په کار پيل وکړ او د ارګ د روښانه کولو لپاره ورڅخه کار اخېستل کيده.

وروسته په ۱۲۷۵ – ۱۲۷۷ هـ . ل کې يو شمير نورې د برښنا کوچنۍ دستګاوې چې د بړاس په انرژۍ يې کار کاوه، يو په بل پسې په کار ولويدې. په ۱۲۹۰ هـ . ل کې په جلال آباد کې د ۱۹ کيلوواټو په قدرت د برښنا يو ماشين د بړاس په واسطه په کار پيل وکړ او وروسته په پغمان کې په ۱۲۹۶ هـ . ل کال کې د ۱۵ کيلوواټو په وړ تيا له بړاس څخه د برښنا د توليد يوه کوچنۍ دستګاه په کار واچول شوه.

په افغانستان کې د برښنا د ترلاسه کولو لپاره د برښنا له بندونو څخه هم کار اخېستل کيږي. د برېښنا هغه بندونه چې په هيواد کې جوړ شوي دي، له ځلوېښتو کلونو را په دې خوا يې پراختيا موندلې نه ده، نو




د سروبي د برېښنا دفابریکې انځور

ځکه د هیواد اوسنۍ اړتیا نشي پوره کولای.

په اوسني وخت کې چې د ښارونو نفوس ډیر زیات شوی دی. برښنا ته د خلکو ورځ په ورځ زیاتیدونکې اړتیا هم ډیره شوې ده. د برښنا د ماستر پلان له مخې افغانستان د ۲٤۰۰۰ میګاواټه برښنا ته اړتیا لري، چې په هغې کې ۲۳۰۰۰ میګاواټه یې د اوبو برښنا او پاتې نوره یې حرارتي برښنا ده چې له طبیعي ګاز، د ډبرو سکرو او نفتو له سرچینو څخه یې ترلاسه کول، په پام کې نیول شوي دي. د هغې تولیدول او پرمختګ ډیرې زیاتې پانګې ته اړتیا لري.

زموږ په هیواد کې د اوبو برښنا انرژي د برښنا د بندونو په جوړولو سره ترلاسه کیږي چې یو شمیر پروژې یې دادي: د نغلو د برښنا بند، د سروبي د برښنا بند، د ماهیپر د برښنا بند، د درونټې د برښنا بند، د کجکي او جبل السراج د برښنا بند د یادولو وړ دي.

## د ټولګي د ننه فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي، هره ډله دې په ورځني ژوند کې د برښنا د ارزښت په اړه خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایله دې نورو ته واوروي.

## پوښتنې

۱. د بریښنا لومړنی دستګاه د کوم پاچا په وخت او په کوم ځای کې جوړه شوه؟

۲. له بریښنا څخه په کومو چارو کې کار اخیستل کیږي؟

۳. افغانستان د څومره میګاه واټه اوبو برښنا ورتیا لري او پاتې د اړتیا وړ برښنا به په هیواد کې له کومو سرچینو څخه ترلاسه شي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

ستاسي په ښوونځي او کور کې بریښنا شته که نه؟ که وی، له کومې سرچینې څخه ترلاسه کیږي. د هغې په اړه معلومات راټول او په راتلونکي ساعت کې یې په اړه خبرې وکړئ.

## الف: د اوبو برېښنا



د نغلو د اوبو د برېښنا د تولید فابریکه

په افغانستان کې د اوبو د برېښنا بندونه پرکومو سیندونو جوړ شوي او زموږ د خلکو پر اقتصادي ژوند باندې کومې اغیزې لري؟

د شلمې پېړۍ له نیمایي را وروسته په صنعت او د بشریت د ژوند په نورو برخو کې برېښنا د انرژۍ د یوې مهمې سرچینې په توګه پېژندل شوې ده او د هغې ترلاسه کول او لګول په چټکۍ پرمخ تللې دي.

د برېښنا د ورځ په ورځ زیاتېدونکي ارزښت له مخې دافغانستان د روانو اوبو سروې ترسره شوې ده او داسې ویل شوي دي چې افغانستان د زیاتو څوړونو د لرلو له کبله، څه ناڅه پر هریوه سیند باندې د برېښنا د بندونو د جوړولو ډېرښه امکانات لري. په حقیقت کې د افغانستان سیندونه د برېښنا د ترلاسه کولو لپاره تر ټولو اقتصادي سرچینې دي.

په افغانستان کې د هغو لومړنیو سروې ګانو او څېړنو د پایلې له مخې چې د برېښنا د تولید په برخه کې ترسره شوي، داسې ښکاري چې د افغانستان له سیندونو څخه په هر ساعت کې ۲.۵ میلیونه کیلوواټه برېښنا ترلاسه کېدای شي، خو اوس دغه سرچینې ډېر لږ تر کار لاندې دي. په اوسني وخت کې برېښنا نه یوازې له سیندونو څخه، بلکې له حرارتي سرچینو، لکه د ډبرو له سکرو، نفتو او ګازو څخه هم ترلاسه کېږي. افغانستان د اوبو د برېښنا د تولید بیلابیلې دستګاوې لري چې په لاندې توګه دي:

### ۱) د جبل السراج د برېښنا فابریکه

د جبل السراج د برېښنا دستګاه د سالنګ پر سیند باندې جوړه شوې ده، له تورېن سره یوځای یې

لوړوالی ۳۷ متره دی. هغه اوبه چې پر توربین باندې راځي په یوه ثانیه کې لس متره مکعبه دي. د جبل السراج ددستګاه د جوړولو کار په ۱۲۹۴ هـ . ل. کال کې پیل اوپه ۱۲۹۹ هـ . ل. کې بشپړ شو. درې توربینونه لري چې مجموعي ظرفیت یې ۱۵۰۰ کیلوواټه دی.

## ۲-د وردګو د چک د بریښنا بند

د چك د بریښنا بند د جوړولو کار په ۱۳۱۶ هـ.ل کال د غوایي په میاشت کې د ۱۵ میلیونه افغانیو په لګښت سرته ورسید. دا بند ۳۰۰ متره اوږدوالی ۱۳ متره پنډوالی اوپه کښتنۍ برخه کې ۹ متره جګوالی او د شرشرې جګوالی یې ۲۷ متره دی چې له ۴۰۰۰ متره اوږده نهر څخه په ګټه اخېستنه ۱۷ متره مکعبه اوبه په ثانیه کی درې توربینونه چې ۳۳۰۰ کیلوواټه توان لري فعالوي. لاس ته راغلې بریښنا د هوایي سیم په وسیله د ۵۵ کیلو مترو په اوږدالي او د ۵۵ ستنو په وسیله کابل ته لیږدول شوې وه. باید ووېل شي چې د نوموړې دستګاه د بریښنا لاس ته راوړنه نظر د اوبو اندازی ته توپیر لري.

## ۳) د پلخمري د بریښنا بند

دغه بند په ۱۳۲۰ هـ . ل کال د کندز پر سیند باندې جوړه شوې چې د بریښنا لوړ ظرفیت یې په یوه ساعت کې ۴۸۰۰ کیلوواټه دی. په ۱۳۳۶ هـ . ل. کې د پلخمري لومړۍ او دویمه دوې نورې دستګاوې هم په یوه ساعت کې د ۹۰۰۰ کیلو واټه ظرفیت په لرلو سره د پخواني شوروي اتحاد د متخصصینو له خوا جوړې او په ۱۳۴۱ هـ . ل. کې یې په کار پیل وکړ. اوسني وخت کې د پلخمري د بریښنا د بند توربینونه بیارغول شوي دي او تر ګټې اخېستنې لاندې دي. د هغه له بریښنا څخه د بغلان د نساجۍ په فابریکې، سیلو، د موټرو د ترمیم په فابریکې او د بغلان ښار په روښانه کولو کې کار اخېستل کیږي.

## ۴) د کجکي د بریښنا بند

د هلمند د ولایت د کجکي په ولسوالۍ کې د بریښنا د تولید یوه لویه دستګاه ده چې له کندهار ښارڅخه کابو ۱۵۰ کیلومتره شمال لویدیځ خوا کې ده. په دغې ولسوالی کې د هیواد د بریښنا تر ټولو لویه دستګاه په پام کې نیول شوې وه چې د بریښنا د تولید ظرفیت یې ۱۲۰۰۰۰ کیلو واټه اټکل شوې و. د جوړولو کار یې په ۱۳۳۰ هـ . ل. کې پیل اوپه ۱۳۳۲ هـ . ل. کې بشپړ شو. په کجکي کې د بریښنا د تولید اوسنۍ دستګاه په یوه ساعت کې ۳۳۰۰۰ کیلوواټه بریښنا تولیدولای شي چې د کندهار ښار، هلمند، لښکرګاه ښار او ګرشک، سنګین، کجکي او د موسی قلعه ولسوالیو او د همدغو سیمویه صنعتي تاسیساتو کې لګول کیږي.

## ۵) د سروبي د اوبو د بریښنا بند

د سروبي د اوبو د بربښنا دستګاه په سروبي کې د کابل د سیند له پاسه، د کابل سیند سره د پنجشیر د سیند د یو ځای کیدو په ۱۵ کیلومتري واټن کې، د سمندر له سطحې څخه د ۱۵۹۶ مترو په

لوړوالي کې جوړه شوی ده. دغه دستگاه دوه توربینونه لري چې د هر توربین د برېښنا د تولید اندازه په یوه ساعت کې ۱۱۰۰۰ (د دواړو یې ۲۲۰۰۰) کیلوواټه کیږي. د جوړولو کارېې په ۱۳۳۰ هـ .ل. کال کې پیل اوپه ۱۳۳۶ هـ .ل. کال کې پای ته ورسید. د سروبي د برېښنا دستگاه دوې ښېگڼې لري: لومړی داچې د کابل ښار او صنعتي مرکزونوته نږدې ده او بل داچې د وریښمو د تنگي په برخه کې د کابل پر سیند باندې جوړه شوې ده چې په پوره اندازه اوږدوالی او ځوړلري، چې د دغې ځانگړتیا په لړلو سره په هر څو کیلومتره واټن کې طبیعي ځوړ جوړوي او د وریښمو د تنگي په برخه کې ورځخه ډېر کار اخېستل کیږي.

د سروبي له برېښنا څخه د کابل ښار د روښانه کولو، دگلبهار د فابریکې او د مرکز د یو شمیر نورو صنعتي مؤسسو د فعالیت لپاره کار اخېستل کیږي.

## ۶) د ماهیپر د برېښنا فابریکه

نوموړې فابریکه د کابل ښار ختیځ ته په ٤٠ کیلومتره واټن کې د دریو توربینونو په لړلو سره د کابل پر سیند جوړه شوې چې هر توربین یې په یوه ساعت کې ۲۲۰۰۰ (ټول ٦٦٠٠٠) کیلوواټه د برېښنا تولید لري. د جوړولو کارېې په ۱۳۳۱ هـ . کال. پیل او په ۱۳٤٥ هـ . کال. کې بشپړ شو اوگټې اخېستل ورځخه پیل شول. دا یوه موسمي فابریکه ده. د اوبو د زیاتوالي پرمهال فعاله وي، خو د اوبو د کمښت پرمهال ولاړه وي. له برېښنا څخه یې د کابل په ښار کې استفاده کیږي.

## ۷) د درونټې د برېښنا فابریکه

د ننگرهار په ولایت کې ددغې فابریکې د جوړولو کار په ۱۳۳۹ هـ .ل. کال پیل او په ۱۳٤۳ هـ .ل. کې بشپړ اوگټه اخېستنه یې پیل شوه. دغه فابریکه درې توربینونه لري چې د برېښنا د تولید ټول ظرفیت یې په یوه ساعت کې ۱۲۰۰۰ کیلوواټه دی.

ددغې فابریکې له تولید شوې برېښنا څخه د جلال آباد ښار د روښانه کولو، صنعتي موسسو او د ۳۲٥۰۰ جریبه ځمکې د اوبو د پمپ کولو لپاره کار اخېستل کیږي.

## ۸) د نغلو د برېښنا د بند فابریکه

د نغلو د اوبو د برېښنا د تولید فابریکه د افغانستان د برېښنا د تولید تر ټولو لویه فابریکه ده چې د کابل ښار ختیځ ته د ۷۰ کیلومترو په واټن کې جوړه شوې او څلور توربینونه لري چې ټوله ورتیا یې په یوه ساعت کې ۱۰۰۰۰۰ کیلوواټه کیږي.

د نوموړي بند د جوړولو کار په ۱۳۳۹ هـ . ل. کال پیل او په ۱۳٤٦ هـ . ل. کال بشپړ او د گټې اخېستو وړ وگرځید.

## د ازبکستان د برېښنا شبکه

د ازبکستان د برېښنا د پروژې غځول په ۱۳۸٦ هـ.ش. کال کې پیل، وروسته کابل ښار او ځینو

نورو ولایتونوته پراخه شول، فعالیتونه یې په لاندې ډول دي.
الف: ۱- له ازبکستان څخه تر حیرتانو پورې د ۵۳ کیلو مترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلو واټو د بل سرکت مزي غځول او د برېښنا لیږدول.
۲- د مزار شریف له نایب آباد څخه ۲۲۰ کیلو واټه د بل سرکت مزي د ۲۳ کیلو مترو په اوږدوالي غځول او د برېښنا لیږدول.
۳- له نایب اباد څخه تر پلخمري پورې د ۱٦٤ کیلو مترو په اوږدوالي ۲۲۰ کیلو واټه برېښنا مزي غځول او دبرېښنا لیږدول چې په ۱۳۸۷ هـ.ش کال کې بشپړ شول او ۳۰۰ میګا واټه برېښنا لري.
ب: ۱- له پلخمري څخه کابل ته د ۲۰۲ کیلو مترو په اوږدوالي د ۲۲۰ کیلو واټو د ډبل سرکت د برېښنا د مزي غځول او د برېښنا لیږدول، د چمتلې دښته کې د ۳۲۰ میګا واټه امپیر په ظرفیت د ۲۲۰/۱۱۰ کیلو واټو سب ستیشن دوداني جوړیدل.
له حیرتانو څخه تر کابله پورې د نوموړي مزي په غځولو کې (۱۳۸۳) اوسپنیزې کتاره لرونکي پایې (ستنې) کارول شوي دي.
په سالنګونو کې هم ځینې ستنې ۳۸۰۰ متره د بحر له سطحې لوړې درول شوي دي. چې تر یوه بریده پورې په کابل ښارکې د خلکو اړتیا بشپړوي. مجموعي ظرفیت یې په یوه ساعت کې ۱۰۰۰۰۰۰ کیلو واټه کیږي.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي، یوه ډله به د نغلو او سروبي او بله ډله به د درونټې او ماهیپر او دریمه ډله به د جبل السراج او پلخمری د برېښنا د بند د ارزښت په هکله خبرې وکړي او پایله به یې خپلو نورو ټولګیووالوته ووایي.

## پوښتنې

۱. د هیواد د نامتو بندونو نوم واخلئ؟
۲. د سروبي او ماهیپر په فابریکه کې له تولید شوې برېښنا څخه چیرته کار اخیستل کیږي؟
۳. د افغانستان له سیندونو څخه د ترلاسه کیدونکې برېښنا اندازه څومره اټکل شوې ده، په لاندینو څلورو ځوابونو کې یې سم ځواب په نښه کړئ؟
الف: په یوه ساعت کې ۸ میلیون کیلوواټه. ب: په یوه ساعت کې ۲,۵ میلیون کیلوواټه.
ج: په یوه ساعت کې ۳,۵میلیون کیلوواټه. د: په یوه ساعت کې ۵میلیون کیلوواټه.
٤. د ازبکستان د برېښنا مزي په څه وخت کې بشپړ او څومره میګا واټه ظرفیت به ولري؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

که چیرې ستاسو د اوسیدو په سیمه کې د اوبو او حرارتي برېښنا فابریکه وي د برېښنا د انرژۍ د روښانولو لپاره له کومې سرچینې څخه ګټه اخیستل کیږي، په دې اړه معلومات راټول او خپلو ټولګیوالو ته یې وړاندې کړئ.

# ب ـ حرارتي بريښنا



ايا په افغانستان کې له حرارتي بريښنا څخه کار اخېستل کيږي؟

د کابل په ښارکې د حرارتي بريښنا د فابريکې يو انځور

حرارتي برښنا چې معمولا د ډبرو سکرو، نفتو اوګازو له سوځولو څخه ترلاسه کيږي، په افغانستان کې د برښنا د توليد ښه سرچينه ده چې د اوبو له برښنا څخه وروسته په دويمه درجه کې د ګټې اخيستنې وړ ده.

د ډيزلي برښنا لومړنۍ فابريکه په ۱۳۵۱ هـ . ل کال په کابل کې جوړه شوه، يو کال وروسته بيا يوه بله کوچنۍ فابريکه په يوه ساعت کې د ۳۰۰ کيلو واټو په ظرفيت د کندهار د ورۍ اوبدلو د فابريکې لپاره جوړه شوه. همدارنګه په ۱۳۳۱ هـ . ل کال کې د ډيزلي بريښنا د توليد دوه ماشينونه د ۵۰۰ کيلوواټو په ظرفيت د هرات په ښارکې په کار اچول شوي وو. د انرژۍ او اوبو د وزارت د ۱۳۸۵هـ . ل کال د راپور له مخې د افغانستان د حرارتي بريښنا د ټولو فابريکو ظرفيت په يوه ساعت کې ۴۲.۷ زره کيلوواټو ته رسيده چې د ټول هيواد د بريښنا فابريکو په سلوکې ۱۲.۵ يې جوړاوه. په اوسني وخت کې کوچنۍ ډيزلي فابريکې په ځينو ښارونو او ولايتونو، لکه: په مزارشريف، شبرغان، تخار، هرات، غزني، جلال اباد اوکابل کې د بريښنا مهمې وسيلې شميرل کيږي. چې د سون توکي يې تيل او په ځينو ځايونو کې ګاز دي .

د مزار شريف حرارتي بريښنا د هېواد تر ټولو لويه فابريکه ده چې د مزارشريف د ښار د لويديځ په ۲۰ کيلومتري واټن کې موقعيت لري او په هغې کې هغه ګاز سوځول کيږي چې له جوزجان څخه په نل

لیکه کې رالیږدول کیږي. دغه فابریکه په ۱۳۴۳ هـ . ل کال کې د یوه روسي انستیتوت له خوا د هغه وخت د کانو او صنایعو وزارت په غوښتنه جوړه شوه.
د نوموړې دستګاه ظرفیت په یوه ساعت کې ۳۶ زره کیلو واټه دی چې د طبیعي ګازو درې توربینونه لري او تر ۴۸ زره کیلوواټه پورې د زیاتولو وړتیا هم لري.
د کابل د ښار ختیځ ته د هودخیلو په سیمه کې د بریښنا یوه بله حرارتي فابریکه په یوه ساعت کې د ۴۳،۶ زره کیلوواټه په ظرفیت جوړه شوې وه، خو د کورنیو جګړو له کبله ویجاړه شوې وه، د هغې د سمون اوبیارغونې قرارداد د سویزرلند د هیواد له Alston کمپنۍ سره شوی چې د دریم او څلورم توربین جوړول یې په پام کې دي.
باید وویل شي چې د حرارتي بریښنا یو شمیر نورې پروژې هم زموږ په هیواد کې په نظر کې نیول شوې چې په دې لړکې د شبرغان د توربین د ګاز د تولید پروژه یادولای شو.
دغه پروژه به د امریکې د متحده ایالاتو د پرمختیایي ادارې په مالي مرسته د ۱۰۰ـ۱۵۰ میګاواټه په ظرفیت په راتلونکې کې جوړه شي.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي، هره ډله دې د حرارتي بریښنا په ارزښت او د یوې فابریکې په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پایلې دې نورو ته ووایي.

## پوښتنې

۱. د افغانستان د حرارتي بریښنا تر ټولو لویه فابریکه چیرې ده او له بریښنا څخه یې په کومو ځایو کې کار اخیستل کیږي؟
۲ . په اوسني وخت کې د افغانستان د ډیزلي بریښنا د کوچنیو فابریکو نومونه واخلئ.
۳- د بریښنا لومړنۍ ډیزلي کارخانه په کوم کال او چیرې جوړه شوه.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

ولې د اوبو د بریښنا پرځای له حرارتي بریښنا څخه کار اخلي او د اوبو د بریښنا او د حرارتي بریښنا ښیګڼې له یو بل سره پرتله کړئ، خپل معلومات په راتلونکي ساعت کې ټولګیوالو ته ووایاست.

# د ډبرو سکاره




د افغانستان د کاني سرچينو (منابعو) نقشه وګورئ.

د کاني منابعو (سرچينو) يوانځور

د ډبرو سکرو زيرمې د افغانستان په کومو سيمو کې دي؟

د ډبرو سکاره د متحجره ډبرو له پاتې شونو څخه عبارت دي، چې د جيالوژيکي دورو په بدلونو کې يې تر خاورو لاندې رسوب کړيدې، د اوږدې زمانې په تيريدو د زيات فشار او تودوخې له امله يې له اصلي حالات څخه بدلون کړی، په پايله کې د ډبرو په سکارو اوښتي دي.

د ډبرو سکاره د انرژۍ د توليد يوه مهمه سرچينه ده، په تيره بيا په اوسني وخت کې چې د نفتو او ګازو بيې مخ په لوړيدو دي، ډبرو سکاره د انرژۍ د توليدوونکې سرچينې په توګه يوڅه ارزانه دي، نوځکه يې ارزښت زيات دی. د ډبرو سکرو را ايستل له ډير پخوا څخه په افغانستان کې معمول و.

د افغانستان د ډبرو سکرو د زيرمو په هکله څيړنې لومړي ځل په ۱۳۲۰ هـ . ل کال د هندي جيولوجيستانو د هيئات له خوا د کهمرد، اشپشتې، صوف درې او تاله او برفک په سيمو کې وشوې. له هماغه وخت څخه وروسته د ډبرو سکرو کارول ورو ورو پيل شول، خو له دويمې نړيوالې جګړې څخه وروسته ترې کار اخېستل ډير پراخه شول او کلنی توليد يې له ۱۲۰ څخه تر ۱٦۰ زرو ټنو پورې لوړ شو.

پرته له دې چې د هيواد په بيلابيلو سيموکې د ډبرو سکرو کوچنۍ زيرمې شته، په شمال کې د ډبرو سکرو ډيرې لويې زيرمې دي چې پراخه سيمه يې نيولې ده. دغه سيمه له تخار څخه تر هرات

پورې غځېدلې چې ۳۵ زره کیلومتره مربع کیږي. د افغانستان د ډبرو سکرو هغه اندازه چې په اشپشته، کرکر، بنګي (د خان اباد د ښار د جنوب په لس میلۍ کې)، کرخ، سبزک او صوف دره کې تثبیت شوي دي، ۲۰۰ میلیونو ټنوته رسیږي. د افغانستان د ډبرو سکاره ډیر غوره کیفیت لري او ډیر کار ورڅخه اخیستل کیدای شي. زموږ په هیواد کې له کانونو څخه د ډبرو سکرو د را ایستلو کار د سیمو د غرني حالت او د لارو د نشتوالي له امله یوڅه ستونزمن او په لومړیو پړاوونو کې دي، نو ځکه یې را ایستل او بیه ګرانه پریوځي، خو سره له هغه هم د ډبرو سکاره د سون توکو په ټوګه لوړ ارزښت لري.

د افغانستان د ډبرو سکرو تولیدات زیاتره د کرکر او اشپشتي له کانونو څخه دي چې د ټول هیواد په سلو کې ۹۰ برخه جوړوي. له تولید شوو ډبرو سکرو څخه په سلو کې ۷۷ په صنعتي کارځایونو کې د سون او پاتې نور یې د کورونو د تودولو لپاره په کاریږي.

په افغانستان کې د ډبرو سکرو بیلابیل ډولونه شته چې ځینې سیمې یې په لاندې توګه ښودل کیږي:



د ډبرو د سکرو د کان یو انځور

## الف ـ د صوف درې د دبرو سکرو کان

د صوف درې کان د لرغونتوب او خپلو ځانګړتیاوو له مخې د افغانستان د نورو سیمو پرتله لومړیتوب لري او په سمنګانو ولایت کې د ډبرو سکرو یو ډیر لوی کان ګڼل کیږي، زیرمې یې ۷٤ میلیونو ټنو ته رسیږي. ددغې سیمې د ډبرو سکرو کان لوړ جنسیت لري، تودوخیزه انرژۍ یې ډیره او د کاربن سلنه یې لوړه ده.

له دغو کانونو څخه، لکه څنګه چې په کار ده، ګټه نه ده اخیستل شوې، لاملونه یې دا دي چې یو خو له صنعتي مرکزونو څخه لرې دي او بل دا چې د لیږدولو وسایل محدود او امکانات په واک کې نشته ده.

ددغه کان یوه اندازه سکاره کابل ته لیږدول کیږي او پاتې نور یې د بلخ ولایت ته ځي.

## ب ـ د آشپشتې د ډبرو سکروکان

دغه کان د پلخمرې د صنعتي ښار جنوب ته په ۱۱۰ کیلومتره واټن کې د بغلان ولایت د سیغان په دره کې واقع دی. له دو آب او میخ زرین څخه ۲۰ کیلومتره واټن لري. ددغه کان د ډبرو سکاره د ځومره والي او ځرنګوالي له پلوه ډیر ارزښت نه لري، داځکه چې د طبیعي جوړښت له مخې پیچلي او د هغو د را ایستلو په برخه کې ستونزې شته.

## ج ـ د کرکر د ډبرو سکرو کان

د کرکرو کان له پلخمرې ښار څخه لس کیلومتره لرې جنوب ختیځ ته د کرکر له غره سره پروت دی. ددغه کان د ډبرو سکرو ټوله اندازه چې هر پوړ یې دوه یا درې متره پریړوالی لري ۱٥ میلیونه ټنه ښودل شوې ده. د سکرو جنسیت یې ښه او د کار اخیستو وړ دی.

## د ـ د هرات د سبزک د مسجد چوبي د ډبرو سکرو کان

دغه کان د هرات ولایت شمال ختیځ کې د ۱۱۰ کیلومترو په واټن له سبزک غاښي څخه لاندې د کرخ دسیند پورته خواته موقعیت لري، د دغې سیمې د ډبرو سکرو جنسیت غوره او لوړه تودوخه(حرارتي) انرژي لري.

## د ټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي، یوه ډله دې د هغو څېړنو او مطالعو په هکله خبرې وکړي چې هندي جیولوجیستانو د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې د ډبرو سکرو په هکله ترسره کړې دي او دویمه ډله دې د ډبرو سکرو د موجوده زیرمو په هکله خبرې وکړي او پایله دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

## پوښتنې

۱. د افغانستان د ډبرو سکرو د تثبیت شوو سیمو نومونه واخلئ.

۲. د اشپشتې د ډبرو سکرو د ځانګړتیاوو په اړه معلومات ورکړئ.

۳. د کرکر د ډبرو سکرو د کان موقعیت له جغرافیایي پلوه څه ارزښت لري؟

۴. په افغانستان کې د ډبرو سکرو هغه تولیدات چې لوړه سلنه لري له کومو سیمو څخه ترلاسه کیږي، سم ځواب په نښه کړئ:

الف . کرکر او اشپشته

ب. د هرات سبزک

ج. د صوف درې کان

د. د هرات د کرخ کان

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

زموږ په هیواد کې د ډبرو سکرو د را ایستلو په برخه کې د ستونزو په اړه او داچې دغه ستونزې او خنډونه په څه ډول باید له منځه یوړل شي، یوه مقاله ولیکئ او نورو ته یې واوروئ.

# نفت او ګاز



د يتيم تاق او جرقدوق د کانونو د ګازي ځاګانو د ازمېښت او چمتو کولو پرانېستنه

له نفتو او ګازو څخه څه کار اخېستل کېږي؟

نفت اوګازد تودوخې او انرژي توليدونکي او د سون توکي دي. زموږ د هيواد په بيلابيلو سيموکې يې زيرمې شته چې په لاندې توګه تر بحث لاندې نيول کېږي:

## الف) نفت

نفت د سوځيدو وړ مايع ده چې تر ۱۸۰۰ مترو ژوروالي پورې د ځمکې په رسوبي پوړونو کې موندل کېږي، ځينې وختونه د ګاز د فشار له امله پورته خواته را وځي او د ځمکې مخ ته را رسيږي. په ميليونونو کاله مخکې د ژونديو ژويو او عضوي توکو پاتي شونې چې په يوه سيمه کې پراته وو، ورو ورو د کلونو په تيريدو سره تر خاورو او رسوبي پوړونو لاندې راغلي، چې د فشار او تو دو خې له امله يې د وخت په تيريدو سره بڼه بدله شوې او نفت ورڅخه جوړ شوي دي. د نفتو د را ايستلو لپاره ژورې ځاګانی کيندل کيږي او ډيرې پريږې نل ليکي د نفتو ځاګانو ته ورننه باسي، په دې توګه خام نفت پورته خواته را وځي يا د پمپ په واسطه را ايستل کيږي. خام نفت تور رنګ لري، خو وروسته تر چاڼولو څخه يې په څنځای کې رنګ بنفش شي او اسانه سوځي.

زموږ د هيواد په ډيرو سيموکې د نفتو زيرمې شته چې شمال، لويديځ او جنوب لويديځ برخې يې نيولي دي او مهم ولايتونه يې هرات، شبرغان، قلعه نو، ميمنه، کندز، تالقان، مزارشريف او نوردي. همدارنګه د هلمند په وادي او د پکتيکا ولايت په کټواز کې هم د نفتو د زيرمو اټکل شوی دی.

نفت په ډېرو ځایونو کې کارول کیږي. د کورونو په روښانه کولو، د حمل ونقل په وسایلو، په صنعتي ماشینونو، کیمیاویي صنایعو او ګڼ شمیرنورو مرکبونو، لکه: مصنوعي ربړ جوړولواو نوروکې ورڅخه استفاده کیږي.

د هغو له فرعي مشتقاتو څخه د پلاستیک په جورولو د عطرونو، رنګونو او ان دا چې د ځینو خوراکي توکو، لکه مارګرین غوړیو په جوړولو کې کار اخېستل کیږي.

## ب) ګاز

د ګازونو را منځته کیدل هم، لکه د نفتو په شان د ژوندیو ژویو له پاتې شونو څخه د عضوي موادو د ترسب او د تودوخې او فشار له امله او هغوته د هوا د نه رسیدلو له امله دي، چې بڼې یې بدلون موندلی او په ګاز بدل شوي دي.

ګاز د افغانستان یوه ډیره ارزښتمنه کاني سرچینه ده. دهغو لویې زیرمې هم دهیواد دننه د لګښت لپاره او هم بهر ته د صادرولو لپاره لوړ ارزښت لري. په داسې حال کې چې د هیواد په بیلابیلو سیموکې د ګازونو د پیدا کیدو امکانات شته، په اوسني وخت کې یې لویې زیرمې په خواجه ګوګردک، یتیم تاق، خواجه بولان او جرقدوق کې موندل شوي دي او همدا اوس ترګټې اخېستنې لاندې دي، طبعي ګاز په ډېرو برخو کې کارول کیږي، سربیره پر دې چې په پخلي، د خونو په تودولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، د کمیاوي مرکبونو په جوړښت کې هم ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، همدارنګه د برښنا انرژي د تولید لپاره ښه سرچینه ګڼل کیږي چې دلته به یې څو حوزې په لنډ ډول له نظره تیرې کړو:

### ۱. د خواجه ګوګردک د ګاز زېرمه

دغه زېرمه د شبرغان دښار شمال لویدیځ ته د ۲۳ کیلو متروپه واټن پروت دی، د کیندل شوو څاګانو شمیرېې ۵۲ دی. ټوله زیرمه یې ۴۶،۸ میلیارده مکعب متره ګاز اټکل شوی چې تر اوسه پورې یې ٤٤ میلیارده مکعب متره را ایستل شوی دی.

### ۲. د یتیم تاق د ګازو زېرمه

دغه زېرمه د شبرغان له ښار څخه ۱۸ کیلو متره لرې ختیځ خوا ته پروت دی. دهغه تثبیت شوې زیرمې ۲۰،۸ میلیارده مکعب متره ښودل شوي دي.

په ۱۳٤۱هـ ل کال کې یې په څلورمه څاه کې اور ولګید چې د برمه کولو په حال کې وه. د دریوکلونو سوځیدلو په ترځ کې یې میلیونونه مکعب متره ګاز وسوځید او له لاسه ووت.

### ۳. د جرقدوق د ګازو زېرمه

دغه زېرمه د شبرغان له ښار څخه ۱۵ کیلو متره لرې جنوب لویدیځ کې پروت دی، ۳۳ څاګانې یې ۲۲۰۰ متره په منځنې ژوروالي کیندل شوي دي، ګاز یې تریو دی، ټوله زیرمه یې ۲٦ میلیارده

مکعب متره ښودل شوې چې تر اوسه پورې يې ۱٥،۳٦۲ ميلیارده مکعب متره را ايستل شوې ده.

## ۴. د خواجه بولان د ګازو زېرمه

د شبرغان د ښار په ۳۰ کیلومتره ختیځ کې پروت دی، د برمه کولو چارې يې په ۱۳٤۲هـ کې پیل شوې دي، تر یو ګاز لري او زېرمې يې ۲،٥ ميلیارده مکعب متره دي.

په پورتنیو سیموکې يې د ګازونو ټولې زېرمې ۱۲۰ ميلیارده مکعب متره تثبیت شوي، چې له هغو څخه يې ٤۰ ميلیارده مکعب متره خوږ ګاز او پاتې نور يې تریو یا سلفر لرونکی ګاز دی.

### دټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې دوې ډلې شي، لومړۍ ډله دې د افغانستان د نفتو د زېر مو او دویمه ډله دې د طبيعي ګاز په هکله خبرې وکړي او د خپلو خبرو پايله به نوروته ووايي.

### پوښتنې

۱. نفت څه دي؟
۲. د ګاز د پیداکیدو د سرچینو په اړه معلومات ورکړئ.
۳. نفت چیرته په کاريږي؟
٤. د افغانستان د ګاز د مهمو حوزو نومونه واخلئ.
٥. د نفتو زېرمې د افغانستان په کومو برخوکې تثبیت شوې دي؟
٦. په افغانستان کې د طبيعي ګاز عمومي زېرمې په څومره اندازه تثبیت شوې دي؟
۷. سم ځواب په نښه کړئ:

الف) ۱۳٥ ميلیارده مکعب متره
ب) ۱۲۰ ميلیارده مکعب متره
ج) ۱۱۰ ميلیارده مکعب متره
د) ۱۸۰ ميلیارده مکعب متره.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت

د افغانستان د کاني سرچینو د نقشې له مخې يوه نقشه رسم کړئ او په هغې کې د ګاز او نفتو سیمې په ځانګړو نښو سره وښیئ او په راتلونکي ساعت کې يې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړئ.

# اوولسم لوست
## فلزات



د فلزاتو زیرمې د افغانستان په کومو سیموکې دي؟

په یوه ډبره کې د مسواثار چې د لوګر له عینک څخه ترلاسه شویده.

انسانانو له ډېر پخوا څخه فلزات پېژندل او هغه یې کارول، خو پخوا یې کارول محدود و. دهغو نښو له مخې چې په دې برخوکې شته، داسې ښرګندېږي چې هغه لومړنی فلز چې انسانانو وپېژاند، مس او بیا وروسته اوسپنه وه. زموږ په هیواد کې د یو شمېر فلزاتو، لکه مسو، اوسپنې، سربو، کرومو، جستو او نجیبه ګرانبیه فلزاتو، لکه: د سرو زرو او سپینو زرو زیرمې او سرچینې شته چې د هریوه په هکله لنډ معلومات وړاندې کوو:

- **اوسپنه**:

د اوسپنې زیرمې د افغانستان په لاندنیو برخو او سیموکې شته:

- **د حاجي ګګ د اوسپنې کان**: د بامیان د جنوب ختیځ په ٤٥ کیلو متره واټن کې پروت دی چې د خپل کیفیت اوزیرمو له پلوه د سیمې یو ډېر لوی او مهم کان ګڼل کېږي. د اوسپنې زیرمې یې ١،٨ میلیارده ټنه ښودل شوې دي او د اوسپنې سلنه یې ٦٣،٥ ښودل شوې ده. دکانونو د وزارت نوې شمېرې د دغه کان ثبت شوې زیرمې ١١٠ میلیونه ټنه او اټکل شوې زیرمې یې ٢٠٧٠ میلیونه ټنه ښودلې دي.

- دکندهار په خاکریز کې چې د زیرمواندازه یې ۸،۲۳ میلیونه ټنه ښودل شوې ده.
- دهرات دغور یانوکان چې په ۱۳۸۸هـ ل کال کې یې له یوې ایراني کمپنی سره د پلټنې تړون شوی و.
- د بدخشان د سیاه درې کان چې اټکلي زیرمه یې له ٤۰ تر ٤٥ میلیون ټنو ده.
- د پغمان د ولسوالۍ د اوسپنې کان چې زیر مه یې ۱،۳۸ میلیون ټنو ته رسیږي.
- دجبل السراج د اوسپنې کان چې د زیرمو اندازه یې اته میلیونو ټنو ته رسیږي او د اوسپنې اندازه یې په سلوکې ٤٥ ښودل شوې ده.

**مس**: د افغانستان په لسو ولایتونو کې د مسو دکانونو ۱۲ زیرمې شته چې له پروان څخه تر فراه او کندهار پورې یې پراخه ساحه نیولې ده. په دې کې دکجکي ترمنځ سیمې ډیرې مهمی دي.
- د مسو د طبقو کانونه په تغر، خورد کابل او ان د چهلستون په غرونو کې تر سترګو کیږي.

- **د لوګر د عینک د مسو کان**: د کابل ښار په جنوب ختیځ کې دی، اټکلي زیرمې یې څلور میلیونه ټنه او په دغه کان کې د مسو اندازه په سلوکې له ۱،۲ تر ۱،٥ پورې ښودل شوې ده. په عینک کان کې د مسو اټکل شوې زیرمې له ٦ میلیونو ټنو څخه زیاتې ښودل شوي دي.
- د مسو د کان زیرمې دهرات په شیدا، بادغیس، فراه، هلمند، کابل، غزني، بامیانو، غوربند، اندراب، بغلان او سرپل کې هم شته چې د ارزښت وړ دي.

- **سره زر**: په افغانستان کې سره زر د هندوکش دواړو خواووته په بیلابیلو سیموکې شته چې یوه پراخه ساحه یې د فیض آباد له شمال څخه په جنوب لویدیځ کې تر کندهار پورې نیولې ده. مهم کانونه یې د بدخشان په یفتل او د غزني په مقر کې شته. د یفتل په سیمه کې د سروزرو او کوارتز د ډبرو څلور رګونه دي چې په هر ټن کاني توکوکې یې له یو څخه تر ۸٥ ګرامو پورې سره زرشته.
- د سروزرو نورې زیرمې د قلات په زرکشانوکې شته چې د سروزرو اندازه یې په هر ټن کاني توکي کې له ۰,٥ څخه تر ۱۱ ګرامو پورې ده.

همدارنگه د کوکچې د سیند او د هغه د مرستیالانو په تګلورې کې په یوه پراخه ساحه کې سره زر شته چې د سرو زرو اندازه یې د شګې په هر مکعب متر کې په منځنۍ توګه تر ۳۹٤ میلي ګرامو پورې محاسبه شوې ده.
له طلا څخه د ښځو د ګاڼو په جوړولو او په بانکونو کې د پیسو د ملاتړ په توګه هم ورڅخه کار اخیستل کیږي.

- **سپین زر**: د سپینو زرو زیرمې د پنجشیر (له عمرز څخه تر خاواک پورې)، دهرات سیم کوه او د بې بې ګوهر په سیمه او د کندهار په خاکریز کې شته چې پخوا به په نا فني توګه ایستل کیدې، له نقرې یا سپینو زرو څخه د سکو او ګاڼو په جوړولو کې کار اخیستل کیږي، ځینې فلزات لکه: مس، نقره او المونیم د بریښنا او تودوخې د لیږدیدو قوت لرونکي دي.

- **د سربو او جستوکانونه**: زموږ په هیواد افغانستان کې د سربو او جستو کانونه هم شته چې په هغوکې د کندهار د بې بې ګوهر د سربو او جستو د کان نوم اخیستلای شو چې زیر مې یې ۲۱۱۰۰ ټنه جست او ۵۵۰۰ ټنه سرب ښودل شوي دي .

- **د کروم د ډبرو کانونه**: د کروم د ډبرو د شتون نښې د خوست، میدان وردګو، د لوګر د محمد اغې او کلنګار او کندهار په سیموکې د یا دونې وړدي.
لکه څرنګه موچې په تیر لوست کې ولوستل او جیولوژیکی څیړنو ښودلې ده، زموږ دهیواد په ډیرو برخوکې، د فلزاتو کانونه شته. دغه کانونه دهیواد په اقصاد کې د ارزښت وړدي. افغانستان د فلزی زیرمو دلرلو له مخې یو بډای هیواد ګڼل کیږي.

 

## دټولګي دننه فعالیت

زده کوونکي دې په پنځو ډلو وویشل شي، د لوست د متن او د افغانستان د کانونو د نقشې په لوستلو دې لاندې فعالیت تر سره کړي او د خپل کار پایلې دې په ټولګي کې و وایي:

لومړۍ ډله : د اوسپنې د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او د نقشې پر مخ يې وښيئ.

دویمه ډله : د سروزرو د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

دریمه ډله : د سپینو زرو د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

څلورمه ډله : د مسو د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

پنځمه ډله : د سربو د کانونو د سیمو نومونه واخلئ او دنقشې پر مخ يې وښيئ.

## پوښتنې

۱- زموږ په هیواد کې څو ډوله فلزات شته، نومونه یې واخلئ.

۲- د اوسپنې کانونه د افغانستان په کومو سیموکې دي او د هغو ډېر مهم کان کوم یودی؟

۳- د لوګر عینک د مسو د کان په هکله معلوماتورکړئ.

٤- د سربو او جستو زیرمې زموږ د هیواد په کومو سیموکې دي، نومونه یې واخلئ.

٥- موږ په هیواد کې د سپینو زرو زیرمې په کومو برخوکې تثبیت شوي دي، نومونه یې واخلئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت

د فلزاتو د لوست متن او د کانونو نقشه ولولئ او په راتلونکي ساعت کې یې د هغو د مهمو ټکو په هکله معلومات ورکړئ.

## لومړی څپرکی

په دې څپرکي کې لاندې لوستونه لولی.

- موږ ولې اقتصاد ته اړتیا لرو؟
- تولید ( د پانګې لاس ته راوړل).
- تبادله ( د پانګې راکړه ورکړه).
- اسهتلاک یعنې څه؟
- د تولید لاملونه.
- ځمکه یا طبیعي زېرمې.
- کار یا انساني کوښښ.

# د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په لوستلو سره لاندې موخې ترلاسه کړي:

- پوه به شي چې اقتصاد ته څومره اړتيا ده؟
- د اقتصاد په ډولونو به پوه شي.
- د توليد، راکړې ورکړې او د استهلاک ( لګښت) مفاهيم به يو له بله سره بېل کړای شي.
- له هغو طبيعي زېرمو سره به چې په ځمکه کې وجود لري مينه پيدا کړي.
- د کار او زيار له لارې به د حلال رزق د لاس ته راوړلو په هڅه کې شي.

# موږ ولې اقتصاد ته اړتيا لرو؟

کله چې موږ يو شي ته اړتيا پيدا کوو کوښښ کوو چې هغه لاس ته راوړو، څرنگه چې د انسانانو اړتياوې ډېرې دي او نه شي کولی چې هغه ټولې ترلاسه کړي. نو ستاسو په فکر هغه کوم علم دی چې د هغې په واسطه له سرچينو او امکاناتو څخه د ښې گټې اخيستنې له مخې وتوانېږو چې خپلې اړتياوې په ښه توگه لاس ته راوړو؟

## خبرې پرې وکړئ

### اقتصاد څه شی دی؟



اقتصاد د بېلابېلو ډلو تر منځ د ارزښتناکو کاليو د توليد او د هغې د توزيع لپاره د کميابو سرچينو څخه د گټې اخيستنې د څرنگوالي د لاس رسی څخه عبارت دی. د اقتصاد علم يو ډول مطالعه او بررسي ده چې د دې په مرسته کولی شو چې له کمو او کميابو سرچينو څخه د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره په ډېره کچه گټه ترلاسه کړو. له دې امله ويلی شو چې اقتصاد د سرچينو د غوره توزيع او ټاکونکی علم دی. د انسانانو اړتياوې ډېرې زياتې دی خو په طبيعت کې موجودې سرچينې او اسانتياوې ډېرې محدودې دي. د دې محدودو اسانتياوو او سرچينو څخه کولی شو چې په بېلابېل ډول گټه واخلو. دغه محدودې سرچينې او اسانتياوې د انسانانو د نامحدودو اړتياوو د پوره کولو توان نه لري. له دې کبله انسان په دوه لارو کې پاتې کېږي او خامخا به يوه غوره کوي. دلته پوښتنه رامنځ ته کېږي چې له اسانتياوو او سرچينو څخه د گټې اخيستنې غوره لاره کومه ده؟انسان د وخت په اوږدو کې د خپلو فکري قواو څخه په کار اخستنې سره تل د غوره لارې او طريقې د پيدا کولو په فکر کې دی. د دې فکري هلوځلو او کوښښ پايله د ( اقتصادي فکر) رامنځ ته کېدل دي. د بشري تمدن په پرمختگ سره د بشر اقتصادي فکر هم تکامل وکړ او د اقتصاد د علم په نوم يې د بشرد علم په څانگو کې ځای ونيو.

د اقتصاد علم د ټولنيزو علومو يوه څانگه ده، اقتصاد له يوې خوا د خلکو د ورځني ژوند او مسايلو سره اړيکې لري او له بلې خوا د اقتصادي نظرونو په بيانولو سره کولی شي ان تر دې چې په غير اقتصادي برخو کې، لکه: د تعليمي او تحقيقي پروگرامونو په وړاندې کولو کې پراخه رول ولري. اقتصاد په سياست کې هم، د سياست مدارانو لپاره د پام وړ لارښوونې لري. همدارنگه په نړۍ کې د يوه پياوړې اقتصادي نظام ټينگښت د موجوده حکومتونو د ثبات او موخو څخه دی چې په دې نسبت د اقتصادي علومو مطالعه، د هغې کارول او پر هغه باندې عمل کول د مختلفو اقتصادي نظامونو په ښه کولو کې هم کېدلی شي چې گټور ثابت شي هغه کورنۍ چې لږه گټه او ډېر مصارف ولري، ښه به وي چې د خپل معاش د توزيع،

تنظیم او دست مزد لپاره له اقتصادي نظریو څخه ګټه واخلي.

د بانکونو خاوندان، د کار خانو خاوندان، د کورنی غړي، حقوق پوهان، مهندسان، په ځینو وختونو کې ډاکتران لنډه دا چې ټول خلک په خپلو اړوندو چارو کې د غوره تصمیمونو د نیولو په خاطر د اقتصاد د اصولو او کلیاتو مطالعې ته اړتیا لري.

یو شمېر اقتصاد پوهان په دې نظر دي چې: د تعلیمي چاپېریالونو، ښوونکو، استاذانو، ان تردې چې د محصلانو او د ښـوونځیو د زده کوونکو د ښې ګټې لپاره د اقتصاد اساسي او عمومي معلومات ضروري دي.

پورتني معلومات د دې څرګندونه کوي چې اقتصاد د ژوند مهمو مسایلو ته د پام وړ رنګ ورکوي، دغه کار پخپله د اقتصاد علم مطالعې او ارزښت ته رسوي.

**فعالیت** د ورځني ژوند په نورو کومو برخو کې کولی شو چې د اقتصادي نظریاتو څخه ګټه واخلو په دې برخه کې څو کرښې ولیکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

دست مزد - هغه پیسې یا کالي چې کار فرما یې خپل کارګر یا کارمند ته د هغه کار په مقابل کې چې ترسره کړی یې دی ورکوي.

## د لوست تکرار

- د اقتصاد علم د ټولنیزو علومو یوه څانګه ده.
- اقتصاد په سیاست کې هم د سیاست مدارانو لپاره د پام وړ لاربښوونې لري.
- یوه خصوصي اداره د خپلو سرچینو څخه د ښې ګټې اخېستنې لپاره د اقتصاد پوهانو نظریاتو ته اړتیا لري.
- هغه کورنۍ چې لږ معاش ولري او ډېر مصارف ولري، ښه به وي چې د خپل معاش او پانګې د توزیع او تنظیم لپاره له اقتصادي مشورو څخه ګټه واخلي.

## پوښتنې

۱- د اقتصاد علم پر کومو موضوعاتو پورې تړلی دی؟

۲-هغه کورنۍ چې لږ معاش او پانګه ولري او مصارف ډېر ولري، خپل اقتصاد څرنګه تنظیم کړي؟

۳- ایا د اقتصاد علم یوازې اقتصادي چارې سمبالوي او که په غیر اقتصادي چارو کې هم رول لري.

**کورنۍ دنده**

زده کوونکي دې کتابخانو ته په ورتللو او له هغې څخه په ګټه اخېستلو دې د اسلامي اقتصاد په اړه مقاله ولیکي.

# تولید ( د پانګې لاس ته راوړل)

په تېر لوست کې مو ولوستل هغه کالي او خدمتونه چې زموږ د ضرورتونو لپاره په کارېږي له هغو سرچينو او اسانتياوو څخه چې په طبيعت کې شته دي او زموږ په لاسونو کې دي برابرېږي. اوس د دې لپاره چې يو کالي خرڅون او مصرف ته تيارشي کوم پړاوونه بايد ترسره کړي.





## خبرې پرې وکړئ

## توليد څه شی دی؟

د دې لپاره چې وتوانېږو له موجوده سرچينو او اسانتياوو څخه د خپلې اړتيا وړ کالي برابر کړو کار او کوښښ ته اړتيا ده، بايد چې هغه د يو لړ اقداماتو په ترسره کولو سره د خپلې اړتيا وړ کاليو باندې واړوو. الله (جَلَّ جَلالُه) په قرانکريم کې ويلي دي: **وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَى** (النجم:٣٩).

ژباړه: اونشته هيڅ انسان لره مګر (بدله) د هغه څه چې کړي يې دي.

دا ډول کوښښونه چې د سرچينو په بدلولو سره د اړتيا وړ کاليو لپاره ترسره کېږي، د توليد په نوم يادېږي. په دې اساس کولی شو چې توليد په لاندې توګه تعريف کړو:

توليد عبارت له هغو فعاليتونو څخه دی چې په پای کې د کاليو يا خدمتونو په لاس ته راوړولو باندې تماميږي.

توليد له يوې خوا کولی شو چې د بشر د غوښتنو او اړتياوو د پوره کولو لپاره د ګټې او مطلب رامنځ ته کول وګڼو او له بلې خوا کولی شو چې توليد: هغو فعاليتونو ته ووايو چې د هغو په وسيله (د توليد لاملونه)[1] يوه له بله سره ترکيب او په کاليو او خدمتونو بدلېږي.

هر اقتصادي نظام بايد چې (په کوم ډول توليد کېږي) پورې اړوند و دريو اساسي پوښتنو ته ځواب ووايي چې هغه عبارت دي له:

الف: کوم کالي بايد توليد شي ؟ يعنې د زرګونو کاليو په منځ کې بايد کوم يو غوره او توليد شي ؟ دويم دا چې د هر يوه د توليد کچه څومره وي؟ ايا بايد جامې توليد شي او که خواړه؟ او که دغه دواړه توليدته ضرورت ولري، کوم يو به يې ډېر او کوم يو به يې لږ وي؟

(۱) طبيعي زيرمې، انساني قواوي او سرمايه په ټوله کې د توليد لاملونه تشکيلوي.

ب: کالي باید په کوم ډول تولیدشي؟ وروسته له دې چې معلومه شوه چې کوم کالي او په څومره اندازه کې باید تولید شي، دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې:

نوموړي کالي باید په کوم فني ډول سره تولید کړي؟ د بېلګې په توګه: ایا د کالیو د تولید لپاره له برښنا یا د اوبو یا د نفتو انرژۍ او یا د اتومي انرژۍ څخه ګټه واخلو.

ج: کالي باید د کومو خلکو لپاره تولید شي؟ وروسته له هغه چې د ( الف او ب) پوښتنوته ځوابونه وویل شول، دا پوښتنه رامنځ ته کېږي چې تولید شوي کالي په کوم ډول د ټولنې د  وګړو ترمنځ  توزیع شي.

ایا تولید شوي کالي د مالدارو خلکو لپاره دي او که د هغو خلکو لپاره دي چې لږه سرمایه ولري؟

**فعالیت** د خپلوټولګیوالو په مرسته چې کالي په کوم ډول تولیدېږي، په هکله بحث وکړئ او په دې باندې یو څو کرښې معلومات ولیکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

کالي څه شی دي؟ هغه څه چې د خرڅون، عرضې او تقاضا وړ دي، لکه، تجارتي مالونه، سامانونه او داسې نور.

## د لوست تکرار

- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------
- ----------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- تولید تعریف کړئ.

۲- څه رنګه کولی شو چې له موجوده سرچینو او اسانتیاوو څخه په ګټه اخیستلو سره د خپلې اړتیا وړ کالي او خدمتونه برابر کړو؟

۳- درې اساسي پوښتنې چې د تولید په خرنګوالي پورې اړه ولري، نومونه واخلئ.

**کورنۍ دنده**

بشپړډول کالي چې  د طبیعت د سرچینو او اسانتیاوو څخه لاسه ته راځي او د انسانانو په ګټه راځي نومونه واخلئ.

(۱) ګرانو زده کوونکو! د دې لوست څخه وروسته د خپل ښوونکي په مرسته په لوست  باندې یو نظر ولیکئ.

# د پانګې تبادله

په تېرشوي لوست کې مو د تولید په هکله معلومات ترلاسه کړ. په دې لوست کې تبادله لولی.

## خبرې پرې وکړئ

تبادله څه ته وایي؟





- یو سړی له کومې لارې او د کوم شي په بدل کې کوم شیان چې هغه ورته اړتیا لري لاس ته راوړلی شي.

هغه وخت چې پیسې موجو دې نه وې تبادله په کوم ډول ترسره کېدله؟

د اقتصاد په علم کې تبادله په شیانو یا پیسو باندې د اقتصادي شیانو او خدمتونو د راکړې ورکړې څخه عبارت دی. د انسانانو په منځ کې د پیسو د جوړېدلو څخه مخکې تبادلې جنس پر جنس ترسره کېدلې، د بېلګې په توګه: یو سړي چې اضافي غنم به یې درلودل او غوښتل یې چې هغه په وریجو باندې بدل کړي، باید یو داسې سړی یې پیدا کړی وای چې هغه اضافه وریجې درلودلې او په دې وخت کې دې ته چمتو وي چې هغه په غنمو باندې بدلې کړي.د دې نظام (جنس پر جنس تبادلې) له ستونزو څخه یوه، د مناسب اخستونکي پیدا کول و، لکه څرنګه چې د رخت ( ټوکر) خرڅوونکی، وریجوته اړتیا لري، باید یو داسې وریجې خرڅوونکی پیدا کړي چې هغه رخت ( ټوکر) ته اړتیا ولري.

د جنس په جنس د نظام بله ستونزه دا وه چې د یو شي د ارزښت معلوملو لپاره معیار نه و؛ که چېرته د جنس پر جنس تبادلې لپاره مناسب اخستونکي پیدا هم شي؛ بیا هم روښانه نه وه چې څو کیلو وریجې باید د څومتره رخت په مقابله کې معامله شي. د پیسو د جوړېدلو څخه مخکې دا موضوع روښانه نه وه په اوس وخت کې، یو متر ټوکر په پیسو بدلېږي او د هغې پیسې په وریجو سره تبادله کوي. د جنس پر جنس د راکړې ورکړې یوه بله ستونزه، د ارزښت د پانګونې لپاره معیار نه و، په دغه نظام کې خپله کالي باید زخیره شوي وایي چې د هغې د ساتلو او حفاظت ستونزې او د له منځه تللو امکانات ډېر وو.

دغه وسیله له پیسو څخه عبارت وه چې د هغې په مرسته د جنس پر جنس ستونزې له منځه یوسي. پیسې له

دي څخه پورته نوري دندې هم ترسره کوي چې د جنس پر جنس دود له هغې څخه عاجز وه، پيسې په اوسني وخت کې دغه درې بنيادي دندې چې د جنس پر جنس تبادله کې ناشونې وې ترسره کوي چې عبارت دي له:

۱- په راکړه ورکړه کې د کارولو وسيله. ۲- د ارزښت د اندازه کولو وسيله. ۳- د سپما او د ارزښت د ساتنې وسيله. د نن ورځې د راکړې ورکړې په دود کې پيسو ډېرې اسانتياوې رامنځ ته کړې دي، څکه، هر دکاندار يا بزګر چې کله خپله سودا خرڅوي پيسې لاس ته راوړي، د پيسو په وسيله د خپلې اړتيا وړ توکي له بازار څخه رانيسي، دغه پيسې د اوسپنې سکو او يا د کاغذي نوټونو په بڼه وي چې ټولو خلکو د راکړې ورکړې لپاره منلې دي.

**فعاليت** د خپلوټولګيوالو په مرسته د جنس پر جنس تبادلې په اړه بحث وکړئ او په اړه يې څو کرښې وليکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

پانګه کول څه شی دي؟ تر واک لاندې د هغې پانګې يوه برخه ده چې په اوسني وخت کې مصرف شوې نه ده چې د قرض حسنه صندوقونو، يا په نورو مالي صندوقونو او يا په خوندي ډول ساتلی کېږي.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-تبادله تعريف کړئ.

۲- مخکې له دې چې پيسې منځ ته راشي تبادله په کوم ډول ترسره کيدله.

۳- جنس پر جس تبادله په کوم ډول ترسره کېږي؟

**کورنۍ دنده**

د پيسو درې اساسي دندې وليکئ.

# استهلاک ( د پانګې لګښت)

په تېر لوست کې مو د تبادلې په اړه معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به د استهلاک (لګښت) سره بلدشئ.




## خبرې پرې وکړئ

## استهلاک (لګښت) څه شی دی؟

دیوه هېواد ځینې شتمنۍ، لکه: ماشینونه، ودانۍ، سړکونه، لارې او داسې نور چې په تولیدي فعالیتونو کې ورڅخه کار اخېستل کېږي، د وخت په تېرېدلو سره وراسته او شنډېږي (خرابېږي) او له منځه ځي، هغه اندازه سرمایه (پانګه) چې د دوی په ودانولو، بیاجوړولو او یا په بدلولو کې لګولې وه د استهلاک په نامه یادېږي. نو د شتمنۍ د ارزښت ټیټوالی یا د مالونو قیمت چې د کار په واسطه د وخت په تېریدلو سره زړېږي او قیمت یې کمېږي، دې کمېدلو ته استهلاک (لګښت) وایي.

د بېلګې په توګه: د ډوډۍ خوړل یا د جامو، فرش، میز، چوکۍ د موټرو پرزې، رادیو، تلویزیون، فابریکې، سپک او درانده ماشینونه او داسې نورو زړول، د دې لپاره چې د دوی هر یو زوړشي او له منځه ولاړشي بېلابېل وختونه ورته په کار دي، همدارنګه کېدلی شي چې یو شي ځینې وختونه هم تولیدي وي او هم استهلاکي یعنې د ځینو خلکو لپاره تولیدي وګڼل شي، د بېلګې په توګه: اوسپنه د ځینو کسانو په نزد چې فولاد جوړوي، تولیدي او په خپله فولاد چې له هغې څخه نور سامان جوړوي، یو استهلاکي شی دی.

د استهلاک اندازه د هغو سرمایه یي کالیو (کارخانه، ماشین الات او داسې نورو) د ارزښت له مخې چې د تولید په وخت کې ورخخه ګټه اخېستل کېږي، لاس ته راځي. دغه لاس ته راوړنه د هغې اندازې سرمایې له مخې چې باید یوې خواته کښېودل شي ترڅو چې لومړنۍ پانګه د لاس نه وهلو څخه باقي پاتې شي تعینېږي. همدارنګه دروان کال د ملي نا خالص تولید یوه برخه ده چې د تولید په جریان کې د مصرف شوې مادي پانګې د ځای نیونې لپاره په کارېږي. د استهلاک بل نوم د پانګې لګښت دي.

**فعالیت** د خپلوټولګیوالو په مرسته د جنس پر جنس تبادلې په اړه بحث وکړئ او څوکرښې پرې ولیکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**ناخالص تولید څه شی دی؟**

که چیرته د ټولنې ټول تولید پرته د استهلاک د لګښت څخه محاسبه کړو، ناخالص تولید ورته ویل کیږي.

**د لوست تکرار**

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱- استهلاک څه شی دی؟

۲- ملي نا خالص عاید څه شی دی؟

۳- ملي خالص تولید څه شی دی؟

**کورنۍ دنده**

د څلور ډولو استهلاکي شیانو نومونه واخلئ چې تاسو له هغې څخه په کورونو کې ګټه اخلئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

# د تولید لاملونه

په تېرلوست کې مو د استهلاک په اړه معلومات ترلاسه کړ. په دې لوست کې د تولید د لاملونو په باره کې معلومات ترلاسه کوئ.

## خبرې پرې وکړئ



د تولید لاملونه په څو برخو وېشلی شو؟

د دې لپاره چې وکولی شو د موجوده سرچینو او امکاناتو څخه د خپلې اړتیا وړ کالي او خدمتونه تیار کړو، کار او کوښښ ته اړتیا لرو چې د یو لړ اقداماتو په ترسره کولو سره هغه د خپلې اړتیا وړ کالیو باندې بدلوو.

ایا پوهېږئ، هغه لاملونه چې د دې ډول کالیو د تولید د بهیر سبب ګرځي، څه شی دي؟

هغه لاملونه چې انسان د هغو په واسطه د خپلې اړتیاوړ کالي تولیدوي، د تولید لاملونه یې بولي.

د تولید لاملونه په عمومي ډول په دریو برخو وېشو:

۱- ټولې طبیعي سرچینې؛ لکه: ځمکه، اوبه، هغه قوه چې په یوه ډول ورڅخه اتوم جوړېږي، د باد قوه او داسې نور په لنډ ډول (ټول طبیعي مخلوقات). د کالیو او خدمتونو په بهیر کې له هغو امکاناتو او سرچینو څخه چې الله تعالی زموږ په واک کې راکړي دي ګټه اخلو، په کرنیزو چارو کې له ځمکې، په ښکارې چارو کې له سمندر او په صنعتي چارو کې له لومړنیو موادو څخه چې له کانونو څخه راوځي ګټه اخلو. دغه ټول عناصر د طبیعي سرچینو برخه ګڼل کېږي. ځینې وختونه دغه برخه د ځمکې په نامه یادېږي، خو د طبیعي سرچینو مفهوم هم ورکوي.

۲- ټولې انساني قواوې، اکتسابي دي که ارثي، جسماني دي یا روحي، په لنډ ډول سره له طبیعي سرچینو څخه په ګټې اخستلو سره د اړتیا وړ محصولاتو تولید او تیارول د انسان کار او فعالیت ته اړتیا لري یعنې تر هغې چې د انسان کوښښ نه وي په عمومي ډول سره د طبیعت پریمانه او با ارزښته سرچینې د غوره ګټې اخیستنې قابلیت نه پیدا کوي، په دې توګه د تولید په بهیر کې د انساني قوې رول ډېر مهم دی.

انساني قواوې په بېلابېلو برخو کې په کار راځي. په ځینو تولیدي فعالیتونو کې کارګرته اړتیاوې، په داسې حال کې چې په ځینو نورو فعالیتونو کې باید د پوهه او تعلیم یافته انسان څخه ګټه واخېستل شي همدارنګه د یو لړ فعالیتونو د ترسره کولو لپاره غوره تخصص او فني پوهې ته اړتیا ده. په دې اساس سره، کولی شو چې انساني قواوې د هغو تجربو، مهارتونو او د تحصیل د درجې له مخې چې لري یې په ساده

انساني قوا، په نیمه پوهه قوه او په متخصصه یا په ماهرې انساني قوا باندې وویشو. انساني قوا ته د کار لامل هم ویل کېږي.

۳- ډېر سامانونه چې د انسان په واسطه جوړ او پوره شوي دي، د نورو کالیو د تولید لپاره په کار راځي؛ لکه: ماشین الات ، په لنډ ډول (سرمایه).

انسان له طبیعي سرچینو څخه د ګټې اخیستنې لپاره وسایلو او سامان ته اړتیا لري، دغه وسایل او سامانونه په حقیقت کې د انسانانو د پخواني کار حاصل دی.

د سرمایې لامل د هغو امکاناتو ټولګه ده چې د انسان د پخواني کار څخه ترلاسه شوې ده او د تولید په بهیر کې د استفادې لاندې راځي، لکه: ماشین الات.

له دې کبله تولید کوونکي د ورځنیو شیانو د پیریدلو، د کارمندانو د معاشونو د ورکولو او داسې نورو لپاره د ماشین الاتو او نورو ضروري شیانو په برابرولو او همدارنګه د یوې اندازې پیسو په بېلولو سره د تولید بهیرته وده ورکوي. هغو پیسو او وسیلو ته چې د تولید په بهیر کې ورڅخه کار اخیستل کېږي، په اصطلاح کې ورته ( مالي سرمایه) ویل کېږي. په دې اساس، طبیعي سرچینې ، انساني قواوې او سرمایه په ټوله کې د تولید لاملونه جوړوي.

**فعالیت** ملي سرمایه څه شی دی؟

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**سرمایه څه شی دی**؟د کالیو او خدمتونو هغه برخه ده چې د نورو کالیو او خدمتونو سبب ګرځي یا هغه مال چې د پیسو عواید په لاس ورکوي.

## د لوست تکرار

- -------------------------------------------------------------------
- -------------------------------------------------------------------
- -------------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- د تولید لاملونه څه شی دي؟

۲-د کالیو اوخدمتونو د تولید په بهیر کې له کومو سرچینو څخه کار اخیستل کېږي.

۳-کوم لاملونه او قوه کولی شي چې د طبیعت پریمانه او با ارزښته سرچینې د استفادې وړ وګرځوي؟

**کورنی دنده**

د تولید هغه لاملونه چې د هغې څخه په تولید کې ګټه اخیستل کېږي ولیکئ.

# ځمکه یا طبیعي سرچینې

په تېرلوست کې مو د تولید د لاملونو په هکله معلومات ترلاسه کړ. په دې لوست کې به ولولئ چې ځمکه هم د تولید د لاملونو څخه ګڼل کېږي.



## خبرې پرې وکړئ

## ځمکه څه شی دی؟ او څه ارزښت لري؟

ځمکه هغه ځای دی چې انسانان، حیوانات، مرغان او خزندې په کې ژوند کوي، ډول ډول نباتات، ونې او واښه په کې راشنې. ایا ویلی شئ چې د یادو شوو ښېګڼو څخه پرته ځمکه نورې کومې ګټورې او ارزښتناکې طبیعي سرچینې لري؟

ځمکه یوازې هغه ځای نه دی چې موږ په هغې کې اوسېږو، یا د هغې پرمخ ګرځو راګرځو. بلکې ځمکه په اقتصاد کې هم ډېر ارزښت لري ځکه چې ټولې طبیعي زېرمې په کار راځي؛ لکه: د تېلو او ګازو کانونه، د اوسپنې او قیمتي تیږو کانونه او داسې نورې اقتصادي سرچینې په کې شاملې دي چې دا ټول په ځمکه کې وجود لري. له دې کبله کله کله د ځمکې د کلمې پرځای د طبیعي سرچینو کلمه هم کارول کېږي.

د ځمکې ارزښت په عمومي توګه په دريو شیانو پورې تړلی دی.

۱- د ځمکې طبیعي وضع او اقلیم یې.

۲- د انساني فعالیت اندازه چې په هغې کې کار کوي.

۳- له بازارونو څخه د هغې واټن او د مواصلاتو ځرنګوالی چې د ځمکې حاصلات په کې خرڅېږي.

الف: د ځمکې طبیعي وضع او اقلیم یې: د ځمکې حاصلات، معدني او نباتي زېرمې، د هغې موقعیت، اوبه او هوا؛ لکه: په افغانستان کې د لوګر او غزني ځمکې په طبیعي ډول حاصل خیزه دي، ډېرې اوبه، کافي لمر او ښه هوا لري خو د فراه او چخانسور ځمکې پریمانه اوبه او ښه هوا نه لري او د شګو میدانونه دي، بارانونه په کې لږ اوري او د بارانه اوبه یې هم لږې دي. د کوهدامن او کوهستان ځمکې د ونو او انګورو د کښېنولو او د غنمو د کرلو لپاره ډېرې ښې مناسبې دي. د لغمان، ننګرهار او کنړ ځمکې ډېرې حاصل خیزه، د سیندونو او خوړ ونو پریمانه اوبه او ښه هوا لري، د هر ډول کښت؛ لکه: د غنمو، جوارو، شولو او ډول ډول میوو لکه: مالټه، نارنج، شفتالو، الوچه، بهي، لوکات، انګور او د داسې نورو ډېرو اصلاح شوو میوو لپاره مساعدې دي، خو دومره ډېرو سیندونو په درلودلو سره بیاهم د سربندونو او نهرونو د نشتوالي له کبله ډېرې ځمکې او دښتې یې بې اوبو او وچ ډاګونه پاتې دي.

ب: د انسان فعالیت: د ځمکې د اصلاح لپاره د بزګر د خوارۍ او زیار څخه عبارت دی، لکه: په مناسبووختونو کې کرکول، اوبه ورکول، د طبیعي ډېرانونو( سرو) او مصنوعي سرو( کود) ورکول، که ځمکې جبه زارې وي د هغې اوبه باید د کاریزونو ( زابرونو) په واسطه وچې شي چې د کرنې لپاره تیارې شي. او د کرنیز نوبت له مخې یعنې ( په یوه ځمکه کې باید هر کال یو نبات شین نه شي)، د بېلګې په ډول: که سږکال مو کچالو کرلي وي، راتلونکي کال ته باید د هغې پرځای غنم یا بل نبات وکرئ. په ځمکه کې ګوټ او للون کول چې بې کاره واښه او هرزه بوټي له

ځمکې لري شي ځمکه د اصلي کښت لپاره مساعده شي ( په اوس وخت کې د بیکاره او مضرو بوټو د منځه وړلو لپاره دوا شیندل کېږي) هغه سیمي چې گرمه هوا لري هلته د ونو کېنول د هوا په برابرولو کې ډېره مرسته کوي.

ج- له بازارونو څخه چې د ځمکې حاصلات په کې خرڅېږي د ځمکې واټن او د مواصلاتو څرنگوالی: د ځمکې حاصل چې هرڅومره ډېروي هغه وخت ښه ارزښت پیدا کوي چې په مناسب وخت کې بازارته ورسېږي او د اخېستونکو لاس ته ورشي، لکه څنگه چې لېدل کېږي د لوگر او غزني د ځمکو حاصلات نسبت د کابل د نږدې سیمو له حاصلاتو څخه مرکزته وروسته رسېږي، همدارنگه دوچو، بحري او هوايي لارو مواصلات د اقتصاد له مخې ډېر ارزښت لري.

## د ځمکې د کرلو دوه مشهورې طریقې

الف: منبسط زراعت: له هغې کرنې څخه عبارت دی چې په ډېرو ځمکو کې په لږ مصرف سره ډېر حاصلات لاس ته راوړي چې دا طریقه په ورسته پاتې او کم نفوسه هېوادونو کې چې د کرنیزو ځمکو پراخه ساحه ولري دود ده.

ب متکاثف زراعت: د هماغې یوې برخې محدودې ځمکې څخه د ډېر حاصل لپاره د مصنوعي سرو او د علمي او ماشیني طریقو په کارولو او د هغې کرلوته د خپلو ټولو قوتونو او لگښتونو د راغونډولو څخه عبارت دی. دا طریقه په پرمختللو او پرنفوسه هېوادونو کې دود ده چې له کمې ځمکې څخه ډېر حاصل ترلاسه کوي. په ځینو هېوادونو کې دغه دواړه طریقې دود دي.

**فعالیت** د خپلو ټولگیوالو په مرسته د ځمکې د کرلو د دوو مشهورو طریقو په هکله معلومات ولیکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**لاملونه او سرچینې**:؟ځینې اقتصاد پوهان دوه اصطلاحگانې: لاملونه او سرچینې یو له بل سره مرادفې کاروي، د یو اقتصاد د موجوده سرچینو اندازه د هغې ټولنې د تولید د اندازې د ټاکوونکي لامل څخه دي.

### د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

### پوښتنې

۱- په اقتصاد کې ځمکه څه ارزښت لري؟

۲-دځمکې طبیعي او اقلیمي حالات څه شی دي؟ بیان یې کړئ.

۳-په عمومي ډول سره د ځمکې ارزښت په څو شیانو پورې تړلی دی؟ نمونه یې واخلي.

**کورنۍ دنده**

د دې لپاره چې د ځمکې څخه ډېر او پراخه حاصلات ترلاسه کړو، باید کوم کارونه ترسره کړو؟

# کار یا انساني کوښښ

په تېر لوست کې مو د ځمکې او طبیعي سرچینو په هکله معلومات ترلاسه کړ. په دې لوست کې به کار یا انساني کوښښ او د کار وېش ولولئ.



## تقاضا څه شی ده؟

## خبرې پرې وکړئ

- کوم کارته اقتصادي او کوم کارته غیر اقتصادي ویلی شو؟

کار د تولید په لاملونو کې ډېر ارزښت لري او په اقتصاد کې د کار ګرانو د کار په ساحه کې د هغوی د جسمي او دماغي کوښښونو څخه عبارت دي چې د پانګې د تولید په خاطر ترسره کېږي. ټول هغه کارونه چې پانګه منځ ته راوړي: په ځمکه کې د بزګر خواري، په فاریکه کې د کارګرانو کار، د تولید لپاره ماشین او د کار وسایل، خوراک او پوښاک، چې د ماشین په واسطه جوړېږي د تعمیراتي موادو تولید، درمل، نانبهایي، د مالونو د وړلو راوړلو کارګر، د بانک مامورین، محاسب، ښوونه، معماري، نقاشي، حجاري او داسې نور د اقتصادي کارونو څخه عبارت دي. خو تفریحي کارونه؛ لکه: منډې(ځغاستې) لامبووهل، ټوپ وهل او داسې نور اقتصادي چارې نه ګڼل کېږي. ځکه د هغوی ارزښت په جنس او یا په پیسو اندازه کولی نه شو.

### د کاروېش

د تولید په مختلفو برخو کې د تخصص او مهارت له مخې د انساني او غیر انساني سرچینو په کار اچول دي، په بل عبارت سره د کار وېش هغه وخت منځ ته راځي چې بېلابېل کارګران بېلابېلو کارونو ته وګمارل شي او د هغوی د پوهو په اساس یو له بل سره د مطلب محصول تولید کړي، که په ټولنه کې اقتصادي چارې مطالعه کړو وینو چې په هغې کې بېلابېل کارونه بېلابېلو خلکوته ورکړ شوي دي او د خلکو ترمنځ دندې بېلې بېلې وېشل شوي دي، لکه: د بوټانو په جوړولو کې یو کس خرمن تیاره کړې ده، بل میخ یو، چا تار، ځینو رنګ او د هغې نور سامان جوړ کړی دی. د کار په وېش کې د فرد یا کارګرپه اړه په کار کې تخصص شرط دی او د ټولنې په اړه مرسته او همکاري ده؛ لکه یو بزګر دی، بل ډاکتر، یو بل ښوونکي، یو ټوته اوبي، بل خیاطي کوي. په حقیقت کې تولید کوونکي د خپلو دندو متخصین جوړېږي. ځیني وختونه د کار تخصص د سیمو له مخې ټاکل کېږي، لکه: مزار شریف په قاقمه جوړولو کې، د ولت اباد په قالین، کابل په ټوټه جوړولو، کندهار د لاس ګنډلو، غزني په برنجي سامان او پوستین ګنډلو کې، استالف په خټینو لوښو او زمونږ د هېواد نور ولایتونه په ځینو نورو باندې په بېلوبېلو شیانو کې نوم لري.

### د کار د وېش ګټې

### د کار وېش لاندې ګټې لري:

۱- حاصلات ډېرېږي ۲- حاصلات اصلاح او ښه کېږي. ۳- د کارګر پوهه په خپله ټاکلې دنده کې ډېرېږي. ٤- کارګران متحد کېږي. ٥- دکارګر جسماني قوه تر فشار لاندې نه راځي. ٦- په خپل کار کې د لیاقت له مخې

يې معاش ښه او چټيږي. ۷- په دغه دنده ( رشته) کې غوره شاګردان روزي، ۸- ډېر خلك په كار اچول کېږي او بيکاري له منځه ځي. ۹- پانګې ډېرې لاس ته راځي او د کار کوونکو ژوند خوند پيدا کوي.

## د كار كولو وړتيا

د کارګرانو په کار پوهېدل او وړتيا په څو لاملونو سره توپير کوي.

۱- په نړۍ کې د ځمکې او اقليم حالات په معتدلو سيمو کې نسبت تودو سيموته فعاليت ډېروي؛ لکه: په انګلستان او جرمني کې کارګران نسبت هند ته ډېر فعاليت کوي.

۲- په مسلك کې پوهه او تخصص: د حلاصلاتو په ډېرولو کې مرسته کوي.

۳- اخلاق: د كار فرما د ښه چلند او غوره اخلاقو له مخې حاصلات ډېريږي.

٤- د ژوند کچه: که د کارګرانو خواړه، جامې او کور ښه وي هغوی خپل کار په ښه ډول ترسره کوي.

٥- پوره او مناسب معاش ولري چې خوا يې پريشانه نه وي.

٦- عمومي وضع او ساعتونه بايد منظم وي او وخت يې بايد ډېر اوږد او ستونزمن نه وي.

۷- د کارګر لپاره په توليد کې روغتيا مرسته کوي.

۸- د موادو موجوديت چې ډېر او ارزان وي.

**فعاليت** د خپلو ټولګيوالو په مرسته د کارګټې په دريو کرښوکې وليکې.

**ستاسې د نور معلوماتو لپاره**

**د کار قوت څه شی دی؟** د کار قوت د ټولنې يوه برخه ده چې کارته تمايل او د کار کولو توان ولري.

**د لوست تکرار**

• ------------------------------------------------------------

• ------------------------------------------------------------

• ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱- کار د اقتصاد له مخې تعريف کړئ.

۲- د اقتصادي کارونو د څو ډولو نمونو نومونه واخلئ.

۳- د تفريحي کارونو د څو نمونو نومونه واخلي.

**کورنۍ دنده**

د لاسي کارونو پنځه ډولونه چې زموږ په هېواد کې نوم لري وليکئ.

# پانگه ( سرمایه)

په تېر لوست کې مو د کار یا د انساني کوښښ په هکله معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به د پانګې سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ

په عمومي ډول خلک ډېرو پیسو او شتوته پانګه یا سرمایه وایي او څوک چې پیسې او ډېر شته لري هغې ته پانګه وال یا پیسه دار وایي، ستاسې په نظر.

## آیا د خلکو دغه فکر سم دی یا خیر؟

ایا هغه پانګه چې د نورې پانګې د پیدا کولو لپاره ونه کارېږي پانګه ورته ویلی شو؟ پانګه له هغو شتمنیو څخه عبارت ده چې د نورې شتمنۍ د لاس ته راوړولو لپاره کارول کېږي. هر کله چې یوه شتمني د بلې شتمنۍ د پیدا کولو لپاره په کار نه شي هغې شتمنۍ ته پانګه نه شو ویلي. د بزګرۍ سامان الات، ماشین الات چې په ځمکه کې د نباتاتو او تخمونو د کرلو، د لوکولو، له ګیاه څخه د دانو د بېلولو او همدارنګه د غنمو، وریجو، جوارو، وربشو، کچالو او سبو د کرلو لپاره کارول کېږي او نور هغه شیان چې د تخم او بیا کرلو لپاره ساتل کېږي ، یا موټر، آس او اوښ چې د تجارت او د مالونو د انتقال لپاره ورڅخه کار اخېتسل کېږي، هغه پیسې چې د تجارت یا د اخېستلو او خرڅولو لپاره ورڅخه کار اخېستل کېږي، پانګه ورته وېل کېږي.((که څه هم چې ځینو اقتصاد پوهانو پیسې یوازې د مبادلې وسیله او د ارزښت مقیاس ګڼلې دی او اسبابو او وسایلو ته پانګه وایي)).

## پانګه په عمومي ډول د دوو خواوو له مخې ارزښت لري:

۱- د هغې د تولیدولو د لامل له مخې چې هغې ته د پانګې طبیعي صفت ویل کېږي.

۲- پرته له خوارۍ څخه د هغې د عایداتي کېدلو د سرچینو له مخې چې دې ته د پانګې کسبي صفت ویل کېږي.

## د پانګې ډولونه

د پانګې مهم ډولونه په لاندې توګه دي:

### ۱- شخصي پانګه او دولتي پانګه

**شخصي پانګه**: د خلکو او افرادو ملکیت دی چې په یوه کس پورې تړلې وي، لکه:شخصي روپۍ، شخصي ځمکه، شخصي دکان یا سرای، شخصي مالونه.

**دولتي پانګه**: هغه پانګه ده چې په دولت پورې اړه ولري، نه په شخص پورې، لکه: دولتي ځمکې او غرونه، دولتي فابریکې، هغه ځنګلونه او د کانونه چې په دولت پورې تړلي وي.

### ۲- مادي پانګه او معنوي پانګه

**مادي پانګه**: هغه پانګه ده چې مادي وي او محسوس کېږي او په یوه ډول د لیږد وړوي، لکه: نقدې روپۍ، اومه مواد، تجارتي مالونه او د لیږد نور مواد.

**معنوي پانګه**: هغه پانګه ده چې مادي نه وي اوپخپله دلېږد وړ نه وي، لکه: علم، فن او کمال خو د هغې ګټه د لېږد وړ ده.

## نقدي پانګه او جنسي پانګه

زموږ په عرف کې نقدي پانګه د نقدو روپیو څخه عبارت ده. جنسي پانګه، له: مال، سامان او د تولید د وسایلو څخه عبارت ده.

**ثابته پانګه او دوراني پانګه**: ثابته پانګه له هغې پانګې څخه عبارت ده چې په دوامداره توګه موجوده وي او په یو وار کارولو سره له منځه نه ځي، لکه: ماشین، سامان، ځمکه او داسې نور.

**دوراني پانګه**: هغه پانګه ده چې په یوه وار کارولو سره له منځه ځي، لکه: د تخم او کر لپاره غلې، دانې، خسته. د لیکلو کاغذ، د سون توکي، د تجارتي او تولیدي چارو لپاره پیسې. د پورتني ویش له مخې کېدلی شي چې یوه پانګه په یوه برخه کې په یوه بڼه او هماغه پانګه په بله برخه کې په بله بڼه څرګنده شي. لکه: جنسي پانګه او نقدي پانګه.

**د پانګې ګټې**: پانګه په اوسني اقتصادي نظام کې درې مهمې ګټې لري.

۱- پانګونه (سرمایه کاري) چې انسانان یې په طبیعت (طبیعي سرچینو) باندې د الاتو، ادواتو، سامانونو، ماشیني وسایلو او کارخانو په شکل کوي، کارونه اسان او تولید زیاتوي.

۲- په بېلابېلو شکلونو په ګدامونو او دکانونو کې زیرمه کېږي او د ضرورت په وختونو کې زموږ اړتیاوې په بنه ډول پوره کوي. که د یوې تولنې وګړي یوازې د (وخوره او څکه ژوند) ولري او پانګه یېزه سپما هم و نه لري، د ټولنې هر غړی اړکېږي چې خپل ټول وخت د ورځنیو ساده لوازمو په لاس ته راوړلو کې ولګوي.

۳- متشبثانو ته دومره قناعت ورکوي چې د زیان احتمال په زړورتیا سره ومني، په امید او انتظار سره تقاضا تولید کړي او د پیرودونکو د فرمایشونو رسیدلو ته انتظار ونه کړي او د اومو موادو سره نورو بازارونو ته د تولید د نوي طریقې سره د تجربې او تحقیق لپاره ورننوځي.

فعالیت: د پانګه وال ګټې په خو کرښو کې ولیکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**پیسې څه شی دی؟** پیسې هغه وسیله ده چې د تبادلې د واسطې رول لوبوي، پیسې د تبادلې د واسطې پرته نورې درې دندې هم لري: ۱- د ارزښت زخیره (زیرمه). ۲- د شمېر د واحد او ارزښتونو د اندازه کولو مقیاس. ۳- د بیړنیو لګښتونو لپاره وسیله.

### د لوست تکرار

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

### پوښتنې

۱- مادي او معنوي پانګه څه شی ده؟

۲- دوراني پانګه تعریف کړئ.

۳- جنسي پانګه او نقدي پانګه یوه له بله سره څه توپیر لري؟

کورنۍ دنده

د مادي او معنوي پانګې، د شخصي او دولتي پانګې، د ثابتې او دوراني پانګې د نقدي اوجنسي پانګې یو یو مثال ولیکئ.

# دویم څپرکی

په دې څپرکي کې لاندې لوستونه لولئ:

- دټولنپېژندنې تعریف
- ټولنپېژندنه د موخې ( هدف) له مخې
- ټولنه او ولس
- د روانشناسۍ تعریف
- د روانشناسۍ لنډ تاریخ
- د روانشناسۍ موضوع
- د روانشناسۍ ګټې

# د څپرکي موخې

زده کوونکي به د دې څپرکي په لوستلو سره په لاندې موضوعګانو باندې پوه شي:

- د ټولنپیژندنې تعریف به وپېژني.
- د ټولنپیژندنې موخه به بیان کړی شي.
- په ټولنه کې به د ژوند کولو سره مینه پیدا کړي.
- د روانشناسۍ تعریف به وپېژني.
- د روانشناسۍ ګټې به تشریح کړای شي.
- د روانشناسۍ لنډه تاریخچه به بیان کړای شي.
- د روانشناسۍ له موضوع سره به مینه پیدا کړي.

# د ټولپېژندنې تعریف

په تېر لوست کې مو د پانګې په اړه معلومات ترلاسه کړ په دې لوست کې به د ټولنپژندنې سره بلدشئ

## خبرې پرې وکړئ

• ټولنپېژندنه له کومې کلمې څخه اخېستل شوې ده او معنایې څه ده؟



ټولنپېژندنه د لاتیني کلمې Socius (ټولنه) او د یوناني کلمې logos (پېژندنه) څخه اخېستل شوې ده.

د ټولنپېژندنې کلمه د فرانسوي فیلسوف اګوست کنټ د نولسمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي له نوښتونو څخه ده، له دې کبله ځیني خلک اګوست کنټ د دې علم بنسټ ګربولي.

ټولنپېژندنه یو وار مینځته نه ده راغلې بلکې ورو ورو یې بنه غوره کړې ده، او د ډېر پخوا څخه د دې بنیاد د دې کسانو لکه:سوفسطاییان، سقراط، افلاطون، ارسطو، سنت اګوستېن، فارابی، ابن خلدون، توماس ها بز، روسو، مونتسکیو، کندرسه او سنټ سیمون له خوا منیځته راغلی وو، چې فکرونه یې د ټولنیز ژوند مطالعې ته را وګرځول. که د ټولنپېژندنې ساده تعریف وکړو نو باید ووایو چې:

ټولنپېژندنه هغه علم دی چې په عمومي ډول سره په ټولنه کې د انسانانو انساني اړیکې یا ټولنیز ژوند د مطالعې لاندې نیسي؛ یا د ټولنې علم دی.

ټولنپېژندنه دغو پوښتنوته، لکه: ولې د یوې ټولنې د ژوند لارې چارې د بلې ټولنې د ژوند د لارو چارو څخه توپیر کوي؟ ولې ځینې خلک ټولنیز قوانین ماتوي په داسې حال کې چې ځینې نور له هغو څخه پیروي کوي، ولې ځینې بې وسه دي او ځینې غنیان دي؟ کوم شی د ټولنو د یووالي لامل شوی دی؟ ولې یوه ډله له بلې ډلې سره جګړه کوي؟

انسانان یو له بل سره په کوم ډول اړیکې لري او ولې؟ ټولنپېژندنه کوښښ کوي چې دې پوښتنوته روښانه ځوابونه ورکړي. ټولنپېژندنه د انسانانو د متقابل عمل څخه عبارت دی او د بشري ډلو د

کړنو مطالعه کوي.

د ټولنپېژندنې د مطالعې له مخې، له ډېرو هغو شیانو سره چې مخکې بلد نه وو بلدېږو، همدارنګه د ټولنپېژندنې په زده کړه سره د بشر د کارونو له ټوپیرونو څخه ډېر معلومات پیدا کوو او په اسانۍ سره منو چې زموږ د ژوند لارې چارې د تل لپاره په ښه ډول نه دي؛ بلکې د دې نوې پوهې د پیدا کولو په مرسته د نوو لارو چارو سره د ځان جوړونې لپاره نور تیاري نیسو.

ټولنپېژندنه هغه علم دی چې د هغې په واسطه کولی شو:

**لومړی-** ټولنه او د هغې ټول غړي او داخلي جریانونه د دقیقو او د اطمنان وړ لارو چارو څخه په ګټې اخېستلو سره وپېژنو. البته دلته د ټولنې د وګړو د ډلو، کړنو، چارچلند او د هغوی یو له بل سره د اړیکو څخه غرض د هغوی موخې او ضرورتونه دي.

**دویم-** په خپلو کې د هغوی د چارچلندونو، ضرورتونو او خپل منځي اړیکو لاملونه په منظم (سیستماتیک) ډول سره منځته راوړي.

دریم- د ځینو بدلونونو په نظر کې نیولو او د موجوده خاصو حالاتو په مطالعه کولو سره کولای شو چې د ټولنیزو پېښو راتلونکې پایلې او نتایج مخکې له مخکې بیان کړو.

**فعالیت** د خپلو ټولګیوالو په مرسته که د ټولنپېژندنې له تعریف څخه مو کوم معلومات ترلاسه کړي وي، په خو کرښو کې یې ولیکئ.

**ستاسې د نور معلوماتو لپاره**

**سازمان؟** یوه مؤسسه ده چې د یوه ټاکلي کار د ترسره کولو لپاره جوړه شوې وي.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱- د ټولنپېژندنې بنسټګران څوک دي؟ د څوکسو نومونه یې واخلئ.

۲- ټولنپېژندنه تعریف کړئ.

۳- د ټولنپېژندنې د علم په واسطه د کومو شیانو په پېژندلو باندې برياليي کېږو؟

**کورنۍ دنده**

د ټولنپېژندنې د علم په هکله څو کرښې ولیکئ.

# د ټولنپېژندنې وېش

په تېر لوست کې مو د ټولنپېژندنې په هکله معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به د ټولنپېژندنې وېش سره بلدشئ.




## خبرې پرې وکړئ

په لوست پورې اړوندو تصویرونو ته وګورئ، ایا په هغې کې د ټولنې د بدلون حرکت وینئ، په هکله یې خبرې وکړئ.

ټولنپېژندنه یې د مطالعې د سطحې، د څېړنې او تحقیق د څرنګوالي له مخې په بېلابېلو برخو وېشلې ده.

۱- د مطالعې د څرنګوالي له مخې د ټولنپېژندنې وېشنه

د ټولنپېژندنې د وېشنې دغه برخه د لومړي ځل لپاره د اګوست کنټ د دې علم د بنسټګر له خوا رامنځته شوه. له دې وېش څخه د نو موړې موخه د ساکنې ټولنپېژندنې او د خوځنده ټولنپېژندنې بررسي او مطالعه وه.

## ساکنه ټولنپېژندنه

**ساکنه ټولنپېژندنه**: د سکون او ثبات په حالت او په ټاکلي وخت کې د انساني ټولنې مطالعه او بررسي کول دي. په دې څېړنه کې ټولنه د یو اورګانیزم ( ژوندي موجود) په څېر په پام کې نیول کېږي. په دې کې ټولنه یو ژوندي موجود ګڼل کېږي چې د هغې هره برخه د ډلو، طبقو، څانګو، سازمانونو او فرهنګونو په ډول د وخت په ځانګړې مقطع(پیر) کې د څېړنې لاندې راځي.

**خوځنده ټولنپېژندنه**: د هغې تحول، حرکت، ټولنیز بدلونونه، لاملونه، پایلې او نښانې د وخت په اوږدوکې د څېړنې او مطالعې لاندې نیسي. د ټولنې د علم د زړه را ښکونکو بحثونو څخه یو هم د ( ټولنپېژندنې) علم دی. ډېر ټولنپېژندونکي د هغې سره خپله مینه ښکاره کوي او کوښښ کوي چې د قاعدو او اصولو په بنیاد د ټولنو د تحول او بدلون مرحلې بیان کړي. هغوی یقین کوي: لکه څنګه چې غرونه، لوړې او جورې لرې او د ځمکې د پوښښ په بڼه کې بدلون راځي، په ټولنو کې هم د وختونو په تېریدلو سره د کمي او کیفي له مخې بدلون راځي او بدلیږي.

په دې بناء، که چېرته د وخت په اوږدو کې د ټولنیزو چارو او بنسټونو بدلونونه او بل رنګ کېدل تر څېړنې لاندې ونیول شي دی ته یوه خوځنده مطالعه ویل کېږي.

۲- **د تحلیل د سطحې له مخې د ټولنپېژندنې وېشنه**: ټولنپېژندنه د بېلابېلو تحلیلي سطحو لرونکې ده چې موږ دلته دوو (وړو او غټو سطحوته) اشاره کوو:

**کوچنۍ ټولنپېژندنه**: کوچنۍ ټولنپېژندنه د ورو ډلو، لکه: د کورنیو، اتحادیو او انجمنونو په تحلیل سره پېژني، د دې ټولنپېژندنې د مطالعې موضوعات ورې ډلې او د هغې متقابلې اړیکې دي.

**لویه ټولنپېژندنه**: لویه ټولنپېژندنه د لویو او پراخو نظامونو په تحلیل سره لکه: ښارونه، ټولنیز سازمانونه او ټولنیز تشکیلونه مطالعه کوي.

۳-د تحقیق او څېړنې له مخې د ټولنپېژندنې وېش: د تحقیق او څېړنې د موخو له مخې ټولنپېژندنه په دوو ډولونو نظري او عملي وویشو:

۱- **نظري ټولنپېژندنه**: د نظري ټولنپېژندنې موخه د ټولنیزو پدیدو پېژندل او د هغوی د لاملونو، اثارو او پایلو کشفول دي. پرته له دې چې د هغې د راتلوونکې ګټه په پام کې ونیسي. دا علم کوښښ کوي چې د انسانانو په هکله د موجوده ټولنپېژندنې د نظري دیدګاه په اساس  د دې بشري علم لمن ته د ټولنیزو او نړیوالو چارو په پېژندلو کې پراخوالی ورکړي.

۲- **عملي ټولنپېژندنه**: عملي ټولنپېژندنه د نظري ټولنپېژندنې برعکس ده چې د پراخو علمي کنجکاویو (پوښتنو) د ځوابونو د پیداکولو په لټه کې دهٔ، د ټولنیزو مسایلو په مطالعه کولو، لکه: ښارونو ته د کلیوالو مهاجرت، ترافیکي ستونزې، جرمونه، اعتیاد او نور څېړي ترڅو چې د هغوی د منځه وړلو لپاره د حل لاره پیداکړي. عملي ټولنپېژندونکي د خپلو څېړنو څخه لاس ته راغلي پایلې ټولنیزو پلان جوړوونکو او ټولنیزو فعالانو ته سپاري، چې د ټولنیزو ستونزو په حل کې ورڅخه ګټه واخلي.

فعالیت د خپلوټولګیوالو په مرسته د ټولنپېژندنې په هکله خو کرښې ولیکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**رفتار**؟ داخلي او خارجي محرکونو ته د ارګانیزم (ژوندي موجود) د هر ډول ځواب څخه عبارت دی.

**د لوست تکرار**

• ------------------------------------------------------------

• ------------------------------------------------------------

**پوښتنې**

۱- د ټولنپېژندنې وېشل لومړی ځل د چا له خوا ترسره شول؟

۲- ساکنه او خوځنده ټولنپېژندنه پخپلو کې څه توپیرونه لري؟

۳- د تحلیل د سطحې له نظره د ټولنپېژندنې د وېش نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

په ټولنه کې د کیفي او کمي بدلون خو بېلګې ولیکئ.

# ټولنپېژندنه د موخې له مخې

په تېر لوست کې مو د ټولنپېژندنې د وېش په هکله معلومات لاس ته راوړ په دې لوست کې به ټولنپېژندنه د موخې له مخې وپېژنئ.




## خبرې پرې وکړئ

ټولنپېژندنه کې د موخې ټاکل ځانګړې ارزښت لري.

د دې ارزښت دومره دی چې په تعریف، تعیین، موضوع، قلمرو او ان تردې چې د ټولنپېژندنې په علمي مقام باندې اغېزه کوي. نو ویلی شو چې د ټولنپېژندنې د معرفي کولو د مهمو لارو څخه د هغې د موخو بیانول دي. ټولنپېژندنه د خپلو موخو له مخې په دوه ډوله ده.

الف: نظري موخې: چې د سازمانونو او ټولنیزو ارګانونو د قوانینو د کشفولو پلټل دي، او د دې ځانګې موخه، د ((ټولنیزو پدیدو، دکشف لاملونو، اثارو او د هغې د پایلو)) پېژندل دي، پرته له دې چې د هغې اوسنۍ ګټه يې په پام کې نیولې وي. دا علم کوښښ کوي چې د انسانانو په هکله د ټولنپېژندنې د اوسنیو نظریو پر اساس د دې علم لمن ته د ټولنیزو او نړیوالو چارو په پېژندلو سره پراخوالی ورکړي.

نظري ټولنپېژندنه د نظریې په روښانولو سره پوښتنې کوي او بیا وروسته د پدیدو ترمنځ د معینو اړیکو کشفولو ته رسېږي، د بېلګې په توګه: کله چې ټولنپوهان د ښوونې او روزنې په چارو او په اقتصادي پرمختګ او پراختیا کې د هغې پر رول باندې غور او مطالعه کوي یا د کورنې جوړښت او کاروبار او یا د ټولنې د وګړو ترمنځ د متقابل چار چلند او یا په بېلابېلو ټولنو کې د هلکو او نجلۍ ترمنځ د واده کولو د غوره کولو په هکله مطالعه او غور کوي او د خپلو مطالعاتو لاس ته راوړنې په کتابونو کې لیکي، موږ په بېلا بېلو سیمو او ټولنو کې د ښوونې او روزنې او کورنۍ پورې اړوندو ټولنپېژندنې له نظریو څخه خبروي او زموږ په پوهه کې ډېرښت راولي.

ب: عملي موخې: چې د دې بنسټ د نظري ټولنپېژندنې له مخې په عیني او عملي پایلو باندې ولاړ دی چې د هغې دوه خواوې (ایډیالي او عملي ) په پام کې نیسي.

۱- ایډیالي (تخیلي خوا): ایده ال د مطلوب کمال، او چته هیله ، د ارزو او ارمان وروستۍ مرحله ده، د

دې ډلې پلويانه فيلسوفان، او ټولنيز مفکرين دي، هغوی کوښښ کوي چې د دغې زمانې اړوندو ټولنيزو مسايلو ته په پام سره ايډه لی (تخيلي) ټولنه ترسيم کړي او د په نظر کې نيولې ټولنې ټول مسايل او ستونزې د تدبيرونو او د حل د لارو سره چې هغوی يې وړاندې کوي په ښه ډول سره حل شي، کولی شو چې د دې ډلې د متفکرانو څخه د افلاطون، فارابي او توماس نومونه واخلو.

۲-عملي موخې: په دې برخه کې ټولنپېژندونکي کوښښ کوي چې د نظري ټولنپېژندونکو د عملي پېژندنې او معرفت د لاس ته راوړنو په کومک سره د ټولنيزو ستونزو او مسايلو په حل کې د حل لارې وړاندې کړي. هره ورځ د هغې په ارزښت ور زياتېږي او په عملي فعاليتونو کې، لکه: ټولنيزه اصلاح، ټولنيز انقلاب، د ټولنپېژندنې مراقبت او څارنه، کليوالي او ښاري ټولنپېژندنه، ټولنيز خدمتونه او داسې نور په کار اچوي همدارنګه ښارونو ته د کليوالو د مهاجرتونو د لاملونو د مطالعې په اړه، دوران کارئ لاملونه، جرم، ځان وژنه، واده، طلاق، نشه ( اعتياد) او داسې نور د عملي ټولنپېژندنې له موضوعاتو څخه دي.

**فعاليت** د خپلوټولګيوالو په مرسته د عملي ټولنپېژندنې د موخو په هکله خوکرښې وليکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**ټولنيزه پديده؟** په ټولنپېژندنه کې، ټولنيز واقعيت ته چې په هر شکل او بڼه سره وي او هر چاته يوازې د هغې د موجوديت په منلو، ليدلو او د هغې رښتني شتون ته په غوره کولو دلالت کوي.

## د لوست تکرار

- ----------------------------------------
- ----------------------------------------
- ----------------------------------------

## پوښتنې

۱-د خپلو موخو له مخې ټولنپېژندنه په څو ډوله ده؟ بيان يې کړئ.

۲- ايده ال کومه معنا ورکوي؟

۳- د عملي ټولنپېژندنې موضوعات کوم مسايل بيانوي؟

**کورنۍ دنده**

د ټولنپېژندنې د نظري موخو په هکله خوکرښې وليکئ.

# ټولنه او ولس

په تېر لوست کې مو د موخو له مخې د ټولنپېژندنې په هکله معلومات ترلاسه کړ په دې لوست کې به د ټولنې او ولس سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ

په انځورونو کې څه شی وینئ؟ ایا په دې انځورونو کې د ټولنې او ولس انځورونه سره بېلولی شئ؟

## ټولنه څه ته وایي؟





د ټولنې او ولس اصطلاح د اساسي بحثونو څخه ده، ټولنه یو ډله یز ژوند ته وایي چې په یوه جغرافیایي سیمه کې نسبتاً په دوامداره ډول اوسېږي. یوله ټولنپېژندونکو څخه ټولنه: ځانته، ځانګړې او صمیمانه ژوند تېرول تعریفوي. د بېلګې په توګه کولی شو چې: د یوه کلي د خلکو، د ګاونډیانو، دوستانو، خپلوانو او د کورنیو د ډلو نومونه واخلو. ټولنه هغه وخت جوړېږي چې دغه درې ځانګړتیاوې ولري:

۱- د یوې کورنۍ ټولګه چې په محدوده جغرافیایي سیمه کې سره اوسي.

۲- د دې ټولنې د وګړو ترمنځ یو له بل سره مخامخ د راشه درشه دود موجود وي.

۳- وګړي یې خپل ځانونه د دې ټولنې غړي وګڼي او دا یقین ولري چې دوی یو له بل سره تړلي دي او دا یقین یې یوازې په نسبي خپلوۍ ولاړ نه وي.

د هغې ډېره دوديزه او اسانه نمونه چې زموږ په لاس کې ده، یو کلی دی چې:

- په یوه کلي کې د کلي خلک او د هغې د کورنیو غړي معمولاً یو له بل سره نږدې ژوند کوي.

- د هغوی حدود او ګډ ژوند په پوره ډول محدود او یو بل ته معلوم وي.

- د کلي خلک تل د نورو کلیوالو سره په اړیکه او راشه درشه کې وي، یو بل سره پېژني او کلی د خپل ځان پورې تړلی ګڼي. د هغې نوم پېژني او خپل غړیتوب د هغې کلي په ټولنه کې ثابتوي. په دې بنا د (( ټولنې ارزښت)) د یووالي او په ډله پورې د تړون ګډ احساس دی.

**ولس څه ته وایي؟** ولس د هغې اندازې خلکو څخه عبارت دی چې په ګډه سره یې د ځمکې یوه برخه نیولې وي، د ګډ سیاسي واک لرونکي وي او همدارنګه په یوه ګډ فرهنګ کې هم برخه ولري. ولس له ټولنې سره توپیر لري. څرنګه چې وویل شول ټولنه یو ډول ژوند دی چې په مهربانۍ خپلوۍ او په یوه ډله پورې د غړیتوب د تړون احساس دی. په مقابل کې ولس یو ډول ژوند دی چې د فردي ارادې، میل او غوښتنې د سنجول شوي

عمل او کردار سره سم منظم اوملګری وي. یو د ټولنپېژندونکو څخه د ولس او ټولنې په توپیر کې دوه مهمې قاعدې کاروي: لومړی دا چې په ټولنه کې خلك د کاملو وګړو په توګه برخه اخلي او کولی شي چې ټول یا ډېره برخه یې خپل مقصدونه د ډلې په منځ کې پوره کړي. په داسې حال کې چې په ولسونو کې، خلك په مکمل ډول په کارونو کې برخه نه لري؛ بلکې د ځانته ځانته او ځانګړو موخو د لاس ته راوړلو په فکر کې وي.

دویم دا چې یوه ټولنه د وګړو د یو ډول احساس یا عاطفې د توافق له مخې یووالي ته رسېږي. خو یو ولس د هغې د وګړو په فکري یوالي سره د هغوی د ګټو په اساس یووالي ته رسېږي.

همدارنګه هغه ټولنپېژندونکي چې پورتنی نظر یه یې وړاندې کړې ده په دې اړه یې د کورنیو، د کلیو او کوچنیو نهادونو ( ټولنو) اړیکې د ښار (جامعې) د صنعتي، انفرادي او د نوې مصنوعي ټولنې د حالاتو سره مقایسه کړې دې، چې په هغې کې د انسانانو ترمنځ اصلي او طبیعي اړیکې له مینځه تللي دي او خلك په خپلو کې د سیالیو له مخې یوازې د خپلو ګټو لپاره کوښښونه کوي.

**فعالیت** د خپلوټولګیوالو په مرسته (د کلي ځانګړتیاوې )په هکله څو کرښې ولیکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**کلي؟** کم له کمه د ۵۰ یا ۲۵۰ کورنیو د اوسیدلو ځای او د ټولنې د مرکز څخه عبارت دی چې د ډېرو وګړو ګټه یې له کرنې څخه ترلاسه کېږي.

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱- ټولنه تعریف کړئ.

۲-ولس څه ته وایي؟

۳- ټولنه او ولس څه توپیر لري؟

**کورنۍ دنده**

درې بېلګې د ټولنې او درې بېلګې د ولس ولیکئ.

# د روانشناسۍ تعریف

په تېرو لوستونو کې مو د ټولنې او جامعې په هکله معلومات ترلاسه کړ په دې لوست کې به د روانشناسۍ د تعریف سره بلدشئ.



## خبرې پرې وکړئ

- روانشناسي له څو کلمو څخه اخېستل شوې ده؟

## د روان شناسۍ تعریف

روان شناسي یا سایکولوژي له دوه کلمو (سایکو) د روان او نفس په معنا او لوژي چې د دې کلمې رېښه د لوګوس د اصل او حقیقت له معنا څخه اخېستل شوی دی، د دې اشتقاق په رڼا کې ویلی شو چې روان شناسي هغه علم دی چې په هغې کې د روان شناسۍ حقیقت د خپل بحث او خبرو لاندې راولي.

هر کله چې روان شناسي ټکي په ټکي تحلیل کړو بیا هم د هغې معنا د روح او روان پېژندل دي. چې غربي اصطلاحاتو هغې ته د ساپوهنې او روحیاتود علم نوم ورکړی وي.

روان شناسي یعنې د روح پېژندل یا د ذهن پیژندل، په دې اساس روان شناس هغه څوک دی چې روان یا ذهن مطالعه کوي. خامخا به پوښتنه کوئ چې روح یا ذهن چېرته قرار لري؟ایا کېدای شي چې هغه ولیدل شي یا لمس شي؟ ضرور وایو چې: نه. نشو کولی چې روح او ذهن په مستقیم ډول سره ووینو او همدارنګه نیغ پر نیغه هم نه شو کولی چې هغه مطالعه کړو. پوښتنه کوئ چې، روان شناسان څه کارونه کوي؟ ذهن یا روان نیغ په نیغه د مطالعې وړنه دی، خو د هغې نښو او فعالیتونو له مخې چې لري یې د مطالعې وړ دی؛ د بېلګې په ډول: په پوهنتونونو کې د شمولیت لپاره د کانکور د نوماندانو د شمېر له مخې د پوښتنو هغه شمېر پاڼې چې یو زده کوونکی یې په یو ساعت کې لولي، د نورو سره د مقایسې له لارې کولی شو چې ووایو: د هغه روح او ذهن څومره کار کوي.که داکارونه له نورو څخه په ښه توګه ترسره کړې، په دې سره د هغه ورتیا مطالعه کولی شو. موږ د ذهن بهرنۍ نښې مطالعه کوو، په بله وینا سره، انسان په رفتار سره مطالعه کوو.

رفتار یوه کلمه ده چې روان شناسان یې د هغو چارو د بیان لپاره کاروي کوم چې خلک یې ترسره کوي، د بېلګې په توګه: خندل، لوبې کول، ځخاسته کول، متلونه ویل، شوخي کول، لیک لیکل، مطالعه کول، شعر

ویل او داسې نور. روان شناس نه شي کولی چې نېغ په نېغه د خلکو فکر، حافظه او شخصیت معلوم کړي.
هغه یوازې دخلکو کړنې ګوري او د هغې له مخې وایي چې: با فکره دی یا بې فکره دی، قوي حافظه لري یا کمزوري، ښه شخصیت لري یا بد. جان دیوي او د هغه پلویانو روان شناسي د بشر د کردارونو علم ګڼلې دی.
دلته د پوښتنې سره مخامخ کېږو چې کردار څه شی دی؟ د کردار اسان تعریف، موخوته د رسیدلو لپاره د یو لړ اقداماتو او فعالیتونو څخه عبارت دی.
د دې تعریف په بنا زموږ حرکات اوسکنات یوې موخې او مقصدته د رسیدلو لپاره دي. پس هغه ډول اقدامات او فعالیتونه چې یوې موخې او هدف ته د رسیدلولپاره ترسره نه شي هغې ته کردار او سلوك نه شو ویلی، ځکه خو پرته له موخې بې نظمه حرکاتو او سکناتو ته کردار او سلوك نه شو ویلی.

**فعالیت** رفتار څه ته وایي؟ په دې اړه دخپلو ټولګیوالوسره خبرې وکړئ او د مثال سره یې واضحه کړئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**شخصیت څه ته وایي؟** د یو لړ ثابتو، دوامدارو او د ځانګړو ښېګڼو څخه جوړه شوې یوه واحده او منسجمه ټولګه ده چې د هغې له مخې یو فرد له بل فرد څخه ځانګړی کوي.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-روان شناسي تعریف کړئ.
۲- ایاکولی شو چې روان یا ذهن ووینو یایې لمس کړو؟
۳- روان شناسان د (رفتار) کلمه د کوم مطلب د بیان لپاره کاروي؟

**کورنۍ دنده**

لاندې پوښتنې ځواب کړئ او سباته یې په ټولګي کې ولولئ؛ فرضاً درې زده کوونکي په یو ټولګي کې زده کړه کوي، په ازموینه کې یو کس لومړی درجه بل کس لسمه درجه او دریم کس اته لسمه درجه بريالي شوی دی، ستاسې په خیال، ولې د هغوی د ازموینې پایلې یو له بله سره توپیر لري؟

# د روان شناسۍ لنډه تاریخچه

په تېر لوست کې مو د روان شناسي په هکله معلومات ترلاسه کړ. په دې لوست کې به د روان شناسۍ د لنډې تاریخچې سره بلدشئ.

## خبرې پرې وکړئ

هر علم یوه تاریخچه لري چې بېلابېل پړاونه تېروي، د روان شناسۍ علم هم د دې قانون څخه بېل نه دي. د روان شناسۍ تاریخ موږ ته دا راښيي چې روان شناسي د وخت په تېریدلو سره په علم سره بدله شوې ده.

ایا علمي روان شناسي او غیر علمي روان شناسي یو له بله سره ه توپیر لري؟

د روح او روان مطالعه ډېر اوږد تاریخ لري ان تردې ویلی شو چې د انسان د پیداېښت سره یو ځای مینځ ته راغلي دي. ډېرو پخوانیو فیلسوفانو، لیکوالانو،ډاکترانو، همدارنګه د یونان فیلسوفانو لکه: افلاطون، ارسطو، توماس هابز، ژان ژاک روسوم، تونسي عالم ابن خلدون او داسې نورو په یوه ډول د انسان د کردار په اړه خبرې کړې دي. په دې لوست کې به د ۱۹ او ۲۰ دوو پېړیو لنډه تاریخچه ولولئ.

د روان شناسۍ د علم را پیدا کېدل په ۱۷۸۹ م کال پورې تړې، هغه کال چې ویلیم ونټ د روان شناسۍ لومړنی ازمېښتون ( ازمایشګاه) د المان د لایپزیک په ښار کې تأسیس کړ. په ۱۹ پېړۍ کې په المان کې فیختر د خپل استاد وبر کارونه تعقیبوي او سایکو فزیک چې هغه یې د روح او جسم د اړیکو نظریه نوموي په کار اچوي. وونټ د فیختر شاګرد هغسې چې اشاره ورته وشوه، د روان شناسۍ لومړنی لابراتور تأسیسوي چې په پای کې د روان شناسۍ د نوي پلار په نوم شهرت پیدا کوي، د وونټ د کارونو په پایله کې روان شناسي توصیفي لارپرېږدي او د تجربي علم په حیث رامنځ ته کېږي. په امریکا کې ویلیم جمیز هم د وونټ په څېر آګاهي یا هوښیارتیا د لابراتوري مطالعې د لاندې راولي او د هیجانونو (جزباتو) په اړه نظریات وړاندې کوي. جمیز نژدې د امریکا هر ځای ته روان شناسي رسوي. د هغې موخه تعینوي او ډېرې تحقیقي موضوعګانې، لکه: فکر، جزیات، نګرش، د عکس العمل وخت او نورې وړاندې کوي. په فرانسه کې فزیولوژیکي روان شناسي د بروکا د کارونو په واسطه پراختیا وموندله شارکو: فرانسوي روان شناس د هیستریک او د رواني ناروغانو د مشاهدې طریقه منځته راوړه او د هغې له شاګردانو څخه یو د دیبو په نوم په فرانسه کې ازمایښي روان شناسي منځته راوړه او یو بل فرانسوي روان شناس وینه د ماشوم د رشد (نمو) او د فکر د مطالعې سره علاقه پیدا کوي. په اتریش کې فروید او نور تحلیل ګران هم د خپلو کارونو د پرمختګ له امله روان شناسي تر خپلې اغېزې لاندې راولي. په روسیه کې، پاولف عصبي فعالیت اوانعکاس په خاصه طریقه سره مطالعه کوي. په دې ترتیب د سلمې پېړۍ په لومړیو کې په المان کې د وونټ، په فرانسه کې د شارکويبو، په امریکاکې د جمیز، په اتریش کې د فروید او په روسیه کې د پاولف، په کوښښونو، څېړنو او د نظرونو په وړاندې کولو سره روان شناسي غني کېږي او په کار باندې پیل کوي. په انګلستان کې د روان شناسۍ پرمختګ یو ځانګړی حرکت پیلوي.

لومړني انګلسي روان شناس چې نوم يې واخلو، مك دوګال استاد دی چې يو د ټولنيزې روان شناسی له بنسټ ګرانو څخه دی، کوم کارونه چې په ميراثي ډول رامنځته کېږي. د شلمې پېړۍ په لومړيو کې روان شناسي په ښه ډول بدلون کوي، لږ لږ خپل ځان له فلسفې څخه بېلوي. ټول روان شناسان يو بل سره پيژني او يو د بل ليکنې لولي. هغوی په کانګرسونوکې ګډون کوي، خپلې نظريې او کشفيات يو له بل سره تبادله کوي. په شلمه پېړۍ کې چې اړيکې پراختيا مومي او علوم لوی ارزښت پيدا کوي د روان شناسی څېړنې هم پراختيا مومي.

هغه بدلونونه چې د صنعتي انقلاب، د نازيزم په ظهور او د لومړۍ نړيوالې جګړې له امله رامنځته شول، پوهان او عالمان يې دې ته اړ اېستل چې انسان په دې نړۍ کې په بل ديد (ليد) سره تعريف کړي. لنډه دا چې په المان کې د وونټ کارونه د دې لامل ګرځي چې روان شناسان د حقيقت په اړه څېړنې وکړي. بينه، پياژه او داسې نور د ماشوم د فکر د پرمختګ، د يادونې او پېژندنې د پرمختګ سره علاقه پيدا کوي، د ويليم جميز کارونه، د پيژندنې بهير، اندازه ګيري، او يادګيرې د مطالعې لاندې نيسي. هر يو د دې لويو تقسيم بنديو څخه فرعي تقسيم بندی او ډېرفکري جريانونه مينځته راوړي.

**فعاليت** په شلمه پېړۍ کې د روان شناسی په اړه کوم بدلون رامنځته شو؟ په دې هکله د خپلو ټولګيوالو په مرسته خو کرښې وليکئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**روان څه ته وايي؟** د ټولو ذهني قواو مجموعه ده چې په فکر، حافظه او عاطفه پورې تړلی ده او د يو شخص رفتار، استعداد او کيفيت مشخصوي.

## د لوست تکرار

- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------
- ------------------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-د روان شناسی علم په کوم کال کې او د کوم عالم له خوا منځته راغي؟

۲- کوم روان شناس د ټولنيزې روان شناسی بنسټ کېښود؟

۳- د صنعتي انقلاب د بدلون، دنازيزم په ظهور او د لومړۍ نړيوالې جګړې له امله د روان شناسی په علم کې کوم بدلونونه راغلل؟

**کورنۍ دنده**

نوی لوست په کور کې په غور سره وګورئ، کومې نقطې چې په لوست کې پرې نه پوهېږئ سباته يې د خپل ښوونکي څخه وپوښتئ.

# د روان شناسۍ موضوع

په تېر لوست کې مو د روان شناسۍ د پیداښښت د لنډ تاریخ په اړه معلومات ترلاسه کړ، په دې لوست کې به د روان شناسۍ د علم له موضوع سره بلد شئ.

## خبرې پرې وکړئ

- د روان شناسۍ علم کومې موضوعګانې په خپله مطالعه کې رانیسي؟

د روان شناسي موضوع، د رفتار، اعمالو او د رواني جريانونو د علم مطالعه ده. يعنې روان شناسان کوښښ کوي او پوه شي چې انسانان او په ځينو ځايونو کې حيوانات کوم ډول رفتار کوي او يا په کوم ډول د خپلې نړۍ چاپېريال تجربه کوي؛ يا په بل عبارت سره، روان شناس غواړي پوه شي چې کوم رواني جريانونه په رفتار او تجربه باندې اغېزه کوي. البته روان شناسۍ په عمومي ډول سره، دې تعريف ته د رسيدلو لپاره اوږده لاره وهلې ده خو عملي روان شناسي چې د يوې پېړۍ څخه ډېره سابقه نه لري، تر يوه حده يې په دې تعريف باندې بسنه کړې وه. په دې تعريف کې ټول حرکات، اعمال او رفتارونه چې د مشاهدې وړ دي او ټول هغه روحي عملونه چې په مستقيم ډول د مشاهدې وړ نه دي، لکه: خوشحالي، غم، احساس، ادراک، دعواطفو افکار، مينه، عشق، اراده، حافظه، د انګيزې يادګيري، جزبات او شخصيت په پام کې نيول کېږي.

## آيا پوهېږئ احساس څه ته وايي؟

يو روحي او عاطفي حالت دی چې د يوه ځانګړي حالت په نيولو سره په شخص کې پيدا کېږي؛ لکه: د وېرې احساس، د کرکې احساس، د نېکبختۍ احساس، د بيوزلۍ احساس او داسې نور.

هغه علمي طريقې چې د هغې له مخې روان شناسان کوښښ کوي چې د هغې د پوهې، وړاندوينې، د حرکتونو د کنترول او د روحي جريانونو لپاره يې لاس ته راوړي، په لاندې ډول دي:

### ۱-رفتار او روحي جريانونه دې وستايي

د بېلګې په ډول: کله چې روان شناس وايي: انسان د مسايلو يادولو او ساتلو توان لري. د هغه رفتار يوازې په ذهن کې د نيول شوو موادو د ساتنې او يادګيرنې له مخې ستايي. ولې په دې هکله چې دغه يادګيرنې څرنګه په ذهن کې ځای ونيو چې انسان کولی شي معلومات خپل ذهن ته وسپاري په دې هکله څه نه شي ويلی.

### ۲- روحي جريانونه او رفتارونه واضحه او بيانوي

روان شناس د انسان په واسطه د يادګيرنې او د مسايلو د ياد ساتنې له ستاينې څخه سربېره د

عملي طريقولارې د روحي جريانونو او رفتارونو په فكر كې هم وي.

**۳- د روحي جريانونو او رفتارونو د غوره بيان له مخې د رفتار د وړاندوينې امكان برابروي.**

د بېلګې په ډول: كله چې د دې لامل واضح كړو، چې مو‌ږ مطلبونه څرنګه يادوو او يا يې حافظې ته څرنګه سپارو.كولى شو چې وړاندوينه وكړو چې د فلاني مطلب د يادولو لپاره څومره وخت لازم كوښښ او هڅې ته اړتيا لرو او ان تردې چې د څومره وخت لپاره كولى شو چې هغه په خپله حافظه كې د ښې استفادې لپاره وساتو.

**۴- د غوره بيان او د ښې وړاندوينې له لارې دې، رفتار كنټرول يا منظم كړي**

نن ورځ انسان د روان شناسى د مفاهيمو په درك او د دې علمي رشتې په كارولو سره د خپل ځان او د نورو انسانانو د رفتار په تنظيم او كنټرول باندې برلاسى شوى دى.

**فعاليت** د رفتار او روحي جريانونو په هكله خبرې وكړئ او درې كرښې پرې وليكئ.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**ادراک څه ته وايي؟** يو ذهني جريان دى چې د هغې په تېرېدلو سره حسي تجربې معنادارې كېږي، مو‌ږ شيان د هغوى د ځانګړتياوو له مخې، لكه: شكل، رنګ، بوي، اواز او...... پېژنو زموږ حواس بېلابېل خبرونه: د ليدلو، اورېدلو، بويولو، ذايقې او د لامسې د خواصو په واسطه ترلاسه كوي. او هغه عصبي نظام ته لېږي.

## د لوست تكرار

- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------
- ---------------------------------------------

## پوښتنې

۱- د روان شناسى موضوع يوازې بيان كړئ.

۲- د پنځو روحي حالاتو نومونه واخلئ.

۳- احساس څه ته وايي؟

**كورنۍ دنده**

د رفتار او روحي جريانونو په هكله څو كرښې وليكئ.

# د روان شناسۍ ګټې

په تېر لوست کې مو د روان شناسۍ په هکله معلومات ترلاسه کړ. په دې لوست کې به د روان شناسۍ د ګټو په هکله معلومت ترلاسه کړئ.

## خبرې پرې وکړئ

- روان شناسي له تاسو سره څه مرسته کولی شي؟

کېدلی شي تاسو په خپل ورځني ژوند کې بېلا بېلې موخې ولرئ. يو غواړئ چې په راتلوونکي کې ډاکتر شئ، بل غواړي چې ژورنالست شي، يو د انجينرۍ هيله لري. يو ماشوم چې ښې خبرې کوي يا ښه لوست لولي هغه ته فکرمن ( باهوش) وايو، ډېر خلک د خپلې حافظې له کمزورتيا څخه ګيله کوي، يو د ورزش سره مينه لري خو بل وينو چې د ورزش سره هيڅ مينه نه لري.

**ايا پوهېږئ، کوم علم موږ ته رانبيي چې د دې توپيرونو سرچينه چېرته ده؟**

د روان شناسۍ د علم سره بلدتيا، په خاص ډول د يادګيرنې د طريقي سره بلدتيا کېدلی شي له تاسو سره مرسته وکړي چې تاسو هم په خپله ښه ياد کړئ او هم خپلو د خواوشا کسانو ته د ښو يادولو لارښوونه وکړئ.

پوهېږو چې ماشوم ورو ورو وده کوي او د ودې سره يو ځای ډېرې توانايي لاسته راوړي. د دې لپاره چې ماشوم وکولی شي چې د ځينو کارونو په سرته رسولو سره بريالی شي، لازم ده چې د جسمي او ذهني ودې ټاکلي حد ته ورسېږي؛ د بېلګې په ډول: ماشوم بايد يو کلن وي چې په لاره لاړشي دوه کلن وي چې معنا داري خبرې وکړي، پنځه کلن يا شپږ کلن وي چې بايد ليکل او لوستل ياد کړي. په عام ډول هر کار ځانته ټاکلی وخت لري. ټول شيان په يو وخت کې هر چاته ياديدلی نه شي. په دې اساس روان شناسي به تاسو پوه کړي چې د بېلا بېلو عمرونو له ماشومانو څخه تاسو کولی شئ چې څومره هيلې ولرئ.

تاسو به دې ته وګورئ چې څومره زده کوونکي کېدلی شي چې د ذهني توانايي له مخې څرګند توپيرونه لري. په دې بنا د هغوی په ښوونه او روزنه کې خامخا فردي تفاوتونه په پام کې ونيسئ.

يو له کلمو څخه چې زموږ د ټولو په ژبه باندې ډېره کارول کېږي، د هوش کلمه ده کوم ماشوم چې ښې خبرې کوي او يا ښه درس لولي با هوش ورته وايو، کوښښي زده کوونکي او بريالي کارګر ته هوښيار (باهوش) وايو، په تحصيل، دنده اود ساده ژوند په ټولو برخو کې هوش د برياليتوب ډېر مهم لامل ګڼو، ځينې وختونه هوش د وراثت او کله يې په چاپېريال پورې منسوبوو، د روان شناسۍ په مرسته سره به مودې ته پام وي چې نه برياليتوب به د کومو لاملونو پورې تړلې وي. کله چې دلايل او پايلې معلومې شوې تاسو يې قانع کړئ چې چاپېريال او وراثت دواړه د هوش په رامنځته کولو کې برخه لري. ډېر خلک د خپلې حافظې له کمزورتيا څخه شکايت کوي، يو شمېر زيات زده کوونکي هم دارنګه ښکايت کوي ممکن تا سو هغه زده کوونکي وپېژنۍ چې د خپل ډېر کوښښ په بدل کې ښه پايله نه لري، يعنې هيرول د هغوی لويه ستونزه ده. ؟ تاسو به د روان شناسۍ په مرسته سره ياد ولرئ چې کوم وخت او ولې هېروالی رامنځته کېږي او د هيرتوب د مخنيوي لارې کومې

دي؟ څرنګه ولولې؟ او مطلوبونه په کوم ډول ذهن ته وسپارئ ترڅو چې ژر هيرکړئ په ورځني ژوند کې ډېر وګړي وينو چې بېلابېلې موخې لري. يو دواړه اخېستلو لپاره، بل د مال د لاس ته راوړلو، دريم يې د ورزش سره مينه لري، خو يو بل سړی وينو چې د ورزش سره هېڅ مينه نه لري، د روان شناسی په لوستلوسره به دومره زده کړې چې د دې توپيرونو سرچينه څېرته ده.

موږ ټول تل په يوه حال نه يو، ځيني وختونه ډېر خوشحاله او کله غمجن کېږو، ځيني وختونه په غوسه کېږو او په يو بل وخت کې ويرېږو، يعنې په ځان کې داسې حالات وينو چې ډېر سخت او په تيزۍ سره تيرېږي. دې حالت ته هيجان( جزبه) وايي. کېدلی شي چې هيجان د ډېرو روحي اختلالونو لامل شي. او هم کېدلی شي چې هيجان د انسان د سلامتيا ضمانت وکړي. روان شناسي موږ ته راښيي چې هيجان څه شی دی؟ او زموږ په سلامتيا کې څومره رول لري. لنډه دا چې روان شناسي د لاندې ګټو لرونکې ده: موږ د خپل ځان په پيژندلو برلاسي کوي، د يادګيرنې سمه او مؤثره لاره موږ ته راښيي، موږ ته اجازه راکوي چې خپلې ستونزې حل کړو؛ په هرکار، دنده او حرفه کې چې يو، خپل کار ښه او په غور سره ترسره کړو. دخپلو او پرديو د اخلاقي ځانګړتياوو څخه ګټه اخېستل موږ د ذهني توانايي څخه خبروي، او زموږ د پېژندنې ارزښت روښانه کوي.

**فعاليت** کوم زده کوونکي چې د ليدلو له مخې توپير ونه لري ايا د ذهني توانايي له مخې څرګند توپيرونه لري؟ يا خير په دې اړه د خپلو ټولګيوالو په مرسته خبرې وکړئ او پايله دې يو زده کوونکی بيان کړي.

**ستاسې د نور معلومات لپاره**

**هيجان څه شی دی؟** يعنې د اورګانيزم يو کلي، تند او لندعکس العمل دي چې به يوه عاطفي حالت کې که د خوشحالۍ سره وي يا د خپګان سره نا څاري رامنځته کېږي.

## د لوست تکرار

- ---------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------
- ---------------------------------------------------

## پوښتنې

۱-د روان شناسۍ د علم سره بلدتيا په ځانګړې توګه د يادګيرنې د اصولو سره بلدتيا له موږ سره په کومو برخو کې مرسته کولی شي؟

۲-کومو خلکو ته با هوش وايو؟

۳- ايا د روان شناسۍ علم کولی شي په ځينو وختونو کې له موږ سره مرسته وکړي؟

**کورنۍ دنده**

ستاسو په کورنۍ کې کوم غړي با هوش دی؟ او کوم صفتتونه لري چې هغه ته با هوش ويل کېږي؟ په دې هلکه د خپل مور او پلار په مرسته خپل معلومات وليکئ او په ټولګي کې يې ولولئ.